د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس د مرکز معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی ریاست

اسلامي ښوونه او روزنه

د دولسم ټولگی

Ketabton.com

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـ . ش

درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري، په بازار کې يې اخيستنه او خرڅونه په کلکه منع ده. له سر غړونکو سره قانوني چلن کيږي.

اسلامي ښوونه او روزنه - دولسم ټولگی

ketabton.com - The Digital Library

د پوهنې وزارت
د تعليمي نصاب د پراختيا، د ښوونکو
د روزنې او د ساينس د مرکز معينيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي
کتابونو د تاليف لوی رياست

اسلامي ښوونه او روزنه

دولسم ټولګی

د چاپ کال: ۱۳۹۰ هـــ. ش.

ketabton.com - The Digital Library

ليکوالان

- دکتور شير علي ظريفي
- نور الله صافی
- رقيب الله ابراهيمي

علمي اديتوران

- مولوی قيام الدين کشاف
- محمد عارف لودين

د ژبې اديتور

- محمد قاسم هيله من

ديني، سياسي او کلتوري کميټه:

- ډاکټر عطاء الله واحديار د پوهنې وزارت ستر سلاکار او د نشراتو رئيس.
- دکتور عبدالصبور فخری
- محمد آصف کوچی
- سيد فاضل شاه

د څارنې کميټه

- دکتور اسدالله محقق د تعليمي نصاب د براختيا، د ښوونکو د روزنې او د ساينس مرکز معين
- دکتور شير علي ظريفي د تعليمي نصاب د پراختيا د پروژې مسؤول
- د سرمؤلف مرستيال عبدالظاهر گلستاني د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د تاليف لوی رئيس

طرح او ډيزاين

عنايت الله غفاري

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

ملي سرود

دا وطـــن افغانـــستان دی دا عـــزت د هـــر افغـــان دی

کـور د سـولې کـور د تـورې هـــر بچـــی يـــې قهرمـــان دی

دا وطـــن د ټولـــو کـــور دی د بلوڅـــــــو د ازبکـــــــو

د پـــښتـــون او هـــزاره وو د ترکمنـــــــو د تاجکـــــــو

ورســره عــرب، ګوجــر دي پامېـــــريان، نورستانيـــــان

براهـــوي دي، قزلبـــاش دي هـــم ايمـــاق، هـــم پـــشه يـــان

دا هيـــواد بـــه تـــل ځليـــږي لکـــه لمـــر پـــر شـــنه آسمـــان

پـــه سينـــه کـــې د آسيـــا بـــه لکـــــــه زړه وي جـــــاويدان

نـــوم د حـــق مـــودی رهبـــر وايـــو الله اکبـــر وايـــو الله اکبـــر

ketabton.com - The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

د پوهنې د وزیر پیغام

ګرانو ښوونکو او زده کوونکو،

ښوونه او روزنه د هر هېواد د پراختیا او پرمختګ بنسټ جوړوي. تعلیمي نصاب د ښوونې او روزنې مهم توکی دی چې د معاصر علمي پرمختګ او ټولنې د اړتیاوو له مخې رامنځته کیږي. څرګنده ده چې علمي پرمختګ او ټولنیزې اړتیاوې تل د بدلون په حال کې وي. له دې امله لازمه ده چې تعلیمي نصاب هم علمي او رغنده انکشاف وموميي. البته نه ښایي چې تعلیمي نصاب د سیاسي بدلونونو او د اشخاصو د نظریو او هیلو تابع شي.

دا کتاب چې نن ستاسو په لاس کې دی، پر همدې ارزښتونو چمتو او ترتیب شوی دی. علمي ګټورې موضوعګانې پکې زیاتې شوې دي. د زده‌کړې په بهیر کې د زده‌کوونکو فعال ساتل د تدریسي پلان برخه ګرځیدلې ده.

هیله من یم دا کتاب له لارښوونو او تعلیمي پلان سره سم د فعالې زده‌کړې د میتودونو د کارولو له لارې تدریس شي او د زده‌کوونکو مینديې او پلرونه هم د خپلو لوڼو او زامنو په باکیفیته ښوونه او روزنه کې پرله پسې ګډه مرسته وکړي چې د پوهنې د نظام هیلې ترسره شي او زده‌کوونکو او هېواد ته ښې بریاوې ور په برخه کړي.

پر دې ټکي پوره باور لرم چې زموږ ګران ښوونکي د تعلیمي نصاب په رغنده پلي کولو کې خپل مسؤولیت په ریښتوني توګه سرته رسوي.

د پوهنې وزارت تل زیار کاږي چې د پوهنې تعلیمي نصاب د اسلام د سپېڅلي دین له بنسټونو، د وطن دوستی د پاک حس په ساتلو او علمي معیارونو سره سم د ټولنې د څرګندو اړتیاوو له مخې پراختیا وموميي.

په دې ډګر کې د هېواد له ټولو علمي شخصیتونو، د ښوونې او روزنې له پوهانو او د زده‌کوونکو له میندو او پلرونو څخه هیله لرم چې د خپلو نظریو او رغنده وړاندیزونو له لارې زموږ له مؤلفانو سره د درسي کتابونو په لا ښه تألیف کې مرسته وکړي.

له ټولو هغو پوهانو څخه چې د دې کتاب په چمتو کولو او ترتیب کې یې مرسته کړې، له ملي او نړیوالو درنو مؤسسو، او نورو ملګرو هېوادونو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په چمتو کولو او تدوین او د درسي کتابونو په چاپ او وېش کې یې مرسته کړې ده، مننه او درناوی کوم.

ومن الله التوفیق

فاروق وردګ

د افغانستان د اسلامي جمهوریت د پوهنې وزیر

ketabton.com - The Digital Library

د موضوعاتو فهرست

لومړی لوست: د اعمالو تلل (وزن کول) ۱
دویم لوست: حوض ٤
دریم لوست: د صراط پل حق دی ۷
څلورم لوست: جنت ۹
پنځم لوست: جهنم (دوزخ) ۱۲
شپږم لوست: د ایمان نواقض (۱) ۱۵
اووم لوست: اصغر شرک ۱۹
اتم لوست: د ایمان نواقض (۲) ۲۱
نهم لوست: اصغر کفر ۲۵
لسم لوست: بدعت ۲۷
یوولسم لوست: د صحابه کرامو مقام ۳۱

د حدیثو برخه ۳٦

دولسم لوست: د صحیح او حسن حدیثونو پېژندل ۳۷
دیارلسم لوست: ضعیف (کمزوری) حدیث ٤۱
څوارلسم لوست: موضوع حدیث ٤۳
پنځلسم لوست: د احادیثو مشهور کتابونه ٤٦
شپاړسم لوست: مسؤولیت ۵۱
اوولسم لوست: اووه هلاکوونکي ګناهونه(۱) ۵۵
اتلسم لوست: اووه هلاکوونکي ګناهونه(۲) ۵۵
نولسم لوست: امر بالمعروف او نهی عن المنکر ٦۱
شلم لوست: په لګښت او نفقه کې اقتصاد ٦۵
یوویشتم لوست: د الله ﷻ کتاب او د پیغمبر ﷺ سنت ٦۹
دوه ویشتم لوست: په جهاد کې د ښځو ونډه ۷۳

ketabton.com - The Digital Library

در ویشتم لوست: رښتینولي ۷۸
خلر ویشتم لوست: د مجلس آداب ۸۲

د فقهي د اصولو برخه ۸٦

پنځه ویشتم لوست: د فقهي د اصولو پېژندنه ۸۷
شپږ ویشتم لوست: د فقهي د اصولو د علم پیدایښت او پراختیا ۹۱
اوه ویشتم لوست: د فقهي د اصولو مدارس ۹۷
اته ویشتم لوست: د اسلامي شریعت دلایل ۹۹
نهه ویشتم لوست: د قرآن کریم حکمونه ۱۰٤
دیرشم لوست: نبوي سنت ۱۰۹
یو دیرشم لوست: اجماع ۱۱٤
دوه دیرشم لوست: قیاس ۱۱۹
درې دیرشم لوست: اختلافي دلایل (۱) ۱۲٤
خلور دیرشم لوست: اختلافي دلایل (۲) ۱۲۷
پنځه دیرشم لوست: له نصوصو څخه د استدلال طریقې ۱۳۰
شپږ دیرشم لوست: شرعي حکم ۱۳۵
اوه دیرشم لوست: شرعي حکم ۱۳۸
اته دیرشم لوست: فتوا ۱٤۲

ketabton.com - The Digital Library

لومړی لوست

د اعمالو تلل (وزن کول)

انسان په نړۍ کې بې هدفه نه دی پیدا شوی ، بلکې د ده کړه وړه ټول لیکل کیږي، دقیامت په ورځ به حساب ورسره کیږي، نیکي او بدي به یې تلل کیږي. د چا چې د نیکۍ تله درنده شوه، کامیاب دی او د چا چې د نیکۍ تله سپکه شوه، ناکام دی.

د اعمالو وزن څه ته وایي؟ دلیل یې څه دی؟ څنګه به ترسره کیږي؟ په دې لوست کې به د دې پوښتنو ځواب بیان شي.

د اعمالو د وزن څرنګوالی

د قیامت په ورځ، وروسته له دې چې انسانان ژوندي کړای شي، د حضرت محمدﷺ په شفاعت به د الله تعالی غضب سوړ شي. عملنامې به نیکانو ته په ښي لاس او بدانو ته د شا له خوا په کیڼ لاس ورکړل شي. حساب به پیل شي خلک به په خپلو اعمالو اعتراف وکړي او د مؤمنانو د اعمالو تلل به پیل شي. د چا چې د نیکۍ تله درنه شوه، هغه به جنت ته ځي او د چا، چې د بدۍ تله درنه شوه، هغه به د الله تعالی مشیت ته سپارل کیږي، که خوښه یې شي، نو جنت ته به یې ولیږي او که خوښه یې شي د څه وخت لپاره به یې په دوزخ کې واچوي. د عمل د جزا له لیدلو وروسته به یې جنت ته داخل کړي.

د اعمالو د تللو د اثبات دلایل: د اعمالو تلل په قرآن کریم او سنتو ثابت دي.

د عملنامو او د حساب په هکله الله تعالی فرمایي: ﴿فَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ بِيَمِينِهِ ۞فَسَوْفَ يُحَاسَبُ حِسَابًا يَسِيرًا ۞وَيَنْقَلِبُ إِلَى اهلِهِ مَسْرُورًا ۞ وَأَمَّا مَنْ أُوتِيَ كِتَابَهُ وَرَاءَ ظَهْرِهِ ۞ فَسَوْفَ يَدْعُو ثُبُورًا۞ وَيَصْلَى سَعِيرًا﴾ [الإنشقاق: ٧ - ١٢] **ژباړه:** نو هغه څوک چې عملنامه یې په ښي لاس ورکړل شي ، نو په اسانه توګه به حساب ورسره وشي او کورنۍ ته به خوښ وروګرځي او هغه څوک چې عملنامه پې دشا له لوري ورکړل شي ، هلاکت به ځان ته وغواړي او اور ته به ور دننه شي.

په یو بل آیت کې الله تعالی د اعمالو د وزن په هکله فرمایي: ﴿وَالْوَزْنُ يَوْمَئِذٍ الْحَقُّ فَمَنْ ثَقُلَتْ مَوَازِينُهُ فَأُولَئِكَ هُمُ الْمُفْلِحُونَ﴾ [الأعراف: ٨] **ژباړه:** او په هغه ورځ به ریښتیني تلل وي، د چا، چې د (نیکۍ) پله درنه وي، هغوی به خلاصون ومومي.

ketabton.com - The Digital Library

له کافر سره د ده د اعمالو محاسبه شته، خو تلل پې نشته، ځکه چې د بلې پلې لپاره نیکي نه لري. الله تعالی په دې اړه فرمایي:﴿أُولَئِكَ الَّذِينَ كَفَرُوا بِآيَاتِ رَبِّهِمْ وَلِقَائِهِ فَحَبِطَتْ أَعْمَالُهُمْ فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَزْنًا﴾ [الكهف: ١٠٥] **ژباړه:** دا هغه کسان دي چې د خپل څښتن د آیتونو له منلو نه پې انکار کړی نو د دوی عملونه ضائع شول او د قیامت په ورځ به تله نه ورته ږدو.

له عملنامې څخه د بدیو د محوې لارې چارې

که له یو چا څخه بد عمل صادر شي، نو په عملنامه کې پې لیکل کیږي. آیا داسې څه چارې شته چې دا بدي له عملنامې څخه محوه کړي؟

هو: نیکي بدي له منځه وړي. الله ﷻ فرمایي: ﴿إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ﴾ (هود ١١٤)

ژباړه: پې شکه نیکي بدي له منځه وړي. ځینې هغه نیکي چې د بدیو په محوه کولو کې مرسته کوي دا دي:

١ـ له بدو څخه وروسته نیکي کول: رسول الله ﷺ ابوذر رضي الله عنه ته وفرمایل: «اتَّقِ اللَّهَ حَيْثُمَا كُنْتَ وَأَتْبِعْ السَّيِّئَةَ الْحَسَنَةَ تَمْحُهَا وَخَالِقْ النَّاسَ بِخُلُقٍ حَسَنٍ»[١]

ژباړه: هر چیرته چې پې له الله تعالی څخه وپرېږه. له بدۍ نه وروسته نیکي کوه چې له منځه یې یوسي او د خلکو سره تعامل په ښو اخلاقو کوه.

٢ـ له ګناه نه ورسته اودس کول، بیا دوه رکعته لمونځ او له خدای څخه بښنه غوښتل

رسول الله ﷺ فرمایي: «مَا مِنْ رَجُلٍ يُذْنِبُ ذَنْبًا فَيَتَوَضَّأُ فَيُحْسِنُ الْوُضُوءَ ثُمَّ يُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ فَيَسْتَغْفِرُ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ إِلَّا غَفَرَ لَهُ»[٢]

ژباړه: څوک چې یوه ګناه وکړي بیا په ښه توګه اودس وکړي ورپسې دوه رکعته لمونځ وکړي او له خدای څخه بښنه وغواړي الله ﷻ به ورته هرو مرو بښنه وکړي.

٣ـ پر کړاونو، ناروغیو او مصیبتونو باندې صبر کول: رسول الله ﷺ فرمایي: «مَا يُصِيبُ الْمُسْلِمَ مِنْ نَصَبٍ وَلَا وَصَبٍ وَلَا هَمٍّ وَلَا حُزْنٍ وَلَا أَذًى وَلَا غَمٍّ حَتَّى الشَّوْكَةِ يُشَاكُهَا إِلَّا كَفَّرَ اللَّهُ بِهَا مِنْ خَطَايَاهُ»[٣]

ژباړه: مسلمان ته هیڅ ستوماني، ناروغي، تکلیف، پریشاني، ضرر او غم نه رسیږي او آن ازغی پې په پښو کې نه ننوزي، مګر د ده ګناهونه پرې ښیل کیږي.

١ـ مسند أحمد

٢ ـ مسند احمد

٣ – صحيح البخاري

ketabton.com - The Digital Library

په تله کې د پام وړ درانه عملونه

ټول نیک عملونه د پام وړ دي او باید کوچني ګڼلو له کبله تـرک نـه شـي، خـو د نبـوي سنتو د هداياتو په رڼا کې ځینې اعمال د عمل په تله کې ډېر دروند والی راولي، چې پـه لاندې توګه دي:

۱ـ ښه اخلاق: رسول الله ﷺ فرمايي: «مَا شَيْءٌ أَثْقَلُ فِي مِيزَانِ الْمُؤْمِنِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ خُلُقٍ حَسَنٍ وَإِنَّ اللَّهَ لَيُبْغِضُ الْفَاحِشَ الْبَذِيءَ»[۱] **ژباړه:** د قیامت په ورځ د مؤمن د نیکۍ په پلـه کـې لـه نیکو اخلاقو څخه دروند څیز نشته او الله ﷻ بد ویونکي ته د قهر په سترګه ګوري.

همدا راز نیک اخلاق د کامل مؤمن نښه ده. رسـول الله ﷺ فرمـايي: «أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًـا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا».[۲] **ژباړه:** تر ټولو مؤمنانو د کامل ایمان خاوند هغه مؤمن دی چـې تـر ټولـو ښې اخلاق غوره وي.

۲ـ ذکر: د مسنونو اذکارو سرته رسول، لکـه د (سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ) پـه کلماتو ذکر، ډېر اجر لري، رسول الله ﷺ په دې اړه فرمـايي: «كَلِمَتَانِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ ثَقِيلَتَانِ فِي الْمِيزَانِ حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمَنِ سُبْحَانَ اللَّهِ وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللَّهِ الْعَظِيمِ»[۳] **ژبـاړه:** دوه کلمې دي چې په ژبه سپکې خو په تله کې درنـدې او الله ﷻ ته محبوبې دي دا د «سبحان الله وبحمده او سبحان الله العظيم» کلمې دي.

همدا راز د (الْحَمْدُ لِلَّهِ) په کلمې ذکر: رسول الله ﷺ فرمـايي: «الْحَمْدُ لِلَّهِ تَمْلأُ الْمِيـزَانَ»[٤] **ژباړه:** الحمد لله تله ډکوي.

پوښتنې:

۱ـ د انسانانو عملونه څه وخت تلل کیږي؟

۲ـ د انسانانو د عملونو د تللو د اثبات دلایل ذکر کړئ.

۳ـ د ګناهونو د محوه کولو اسباب ذکر کړئ.

۴ـ کوم عملونه د تلې په دروندوالي کې ډېر رول لري؟

---

۱ – مسند الصحابة في الكتب الستة – (۳۸ / ۱۲۵)

۲ – سنن أبي داود– ن – (٤ / ۳٥٤)

۳ – متفق عليه

٤ – صحيح مسلم – (۱ / ۱٤۰)

ketabton.com - The Digital Library

دويم لوست

حوض

انسانانو ته د عملنامو له سپارلو، حساب او د مسلمانانو د عملونو له تول څخه وروسته به مسلمانان د رسول الله ﷺ له حوض څخه اوبه څښي، چې تنده به ېې ورباندې ماتېږي. حوض هم د هغو مغيباتو له جملې څخه دی چې ځان پوهول او ايمان راوړل ورباندې لازم دي.

د حوض تعريف

حوض د اوبو د غونډېدلو ځای ته ويل کېږي او دلته له حوض څخه مراد هغه حوض دی چې الله تعالی ېې خپل نبي محمد ﷺ ته د حشر په ميدان کې د ده د تکريم او عزت لپاره ورکوي، څو د ده امتيان ورڅخه اوبه وڅښي او خپله تنده ورباندې ماته کړي.

د حوض د اثبات دلايل

هغه حوض چې الله تعالی ېې خپل رسول، محمد ﷺ ته په آخرت کې ورکوي په قرآن کريم او په صحيحو احاديثو ثابت دی:

الله تعالی په قرآن کريم کې فرمايلي:﴿إِنَّا أَعْطَيْنَاكَ الْكَوْثَرَ﴾ **ژباړه:** ېې شکه مونږ تاته «کوثر» درکړی.

ډېرو علماوو له «کوثر» څخه په دې ځای کې د حوض معنا اخيستې.

د حوض اثبات په احاديثو کې هم شوی او په دې هکله روايت شوي احاديث متواتر دي.

د هغو راويانو شمېر چې په دې باب ېې احاديث روايت کړي دي له پنځوسو تنو څخه هم زياتېږي، نبي کريم ﷺ په يو حديث شريف کې فرمايلي دي: عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ مَا آنِيَةُ الْحَوْضِ قَالَ « وَالَّذِي نَفْسُ مُحَمَّدٍ بِيَدِهِ لآنِيَتُهُ أَكْثَرُ مِنْ عَدَدِ نُجُومِ السَّمَاءِ وَكَوَاكِبِهَا أَلاَ فِي اللَّيْلَةِ الْمُظْلِمَةِ الْمُصْحِيَةِ آنِيَةُ الْجَنَّةِ مَنْ شَرِبَ مِنْهَا لَمْ يَظْمَأْ آخِرَ مَا عَلَيْهِ يَشْخُبُ فِيهِ مِيزَابَانِ مِنَ الْجَنَّةِ مَنْ شَرِبَ مِنْهُ لَمْ يَظْمَأْ عَرْضُهُ مِثْلُ طُولِهِ مَا بَيْنَ عَمَّانَ إِلَى أَيْلَةَ مَاؤُهُ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ وَأَحْلَى مِنَ الْعَسَلِ »[1] **ژباړه:** ابوذر رضي الله عنه فرمايي: ما له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې د حوض لوښې څومره دي؟ نبي کريم ﷺ وفرمايل: د لوښو شمار ېې د آسمان

---

١ - رواه مسلم.

ketabton.com - The Digital Library

له ستورو څخه زيات دي، له هغو ستورو څخه چې په تپه تياره شپه کې وي. هر څوک چې له دې حوض څخه اوبه وڅښي هيڅکله به تږی نه شي. له جنت څخه يکې دوې ناوې اوبه تويږي. هر څوک چې لدې حوض څخه اوبه وڅښي هيڅکله به تږی نه شي، پلنوالی او اوږدوالی يې سره برابر دي، او دومره فاصله لري لکه له عمان څخه تر ايلې پورې (عمان او ايله دوه ښارونه دي) اوبه يې له شيدو څخه زياتې سپينې او تر شاتو ډېرې خوږې دي.

په يو بل حديث شريف کې رسول کريمﷺ فرمايلي دي: «حَوْضِي مَسِيرَةُ شَهْرٍ وَزَوَايَاهُ سَوَاءٌ وَمَاؤُهُ أَبْيَضُ مِنَ الْوَرِقِ وَرِيحُهُ أَطْيَبُ مِنَ الْمِسْكِ وَكِيزَانُهُ كَنُجُومِ السَّمَاءِ فَمَنْ شَرِبَ مِنْهُ فَلاَ يَظْمَأُ بَعْدَهُ أَبَدًا »[1] **ژباړه:** زما حوض د يوې مياشتې په اندازه فاصله لري. زاويې يې ټولې سره برابرې دي. اوبه يې له سپينو زرو څخه ډېرې سپينې دي. بوی يې له مشکو زيات خوږ دی. لوښې يې دومره زيات او داسې ځلېدونکي دي لکه د آسمان ستوري، هر څوک چې لدې حوض څخه اوبه وڅښي هيڅکله به تږی نه شي.

پر حوض باندې د ايمان حکم

په حوض باندې ايمان او يقين لازم دی. هغه څوک چې حوض مني، د ثواب مستحق ګرځي او هغه څوک چې له حوض څخه منکر شي، بدعتي او فاسق دی.

څوک له حوض څخه محرومېږي؟

امام بخاري (رح) له حضرت انسرضي الله عنه څخه روايت کوي چې نبي کريمﷺ وفرمايل: «لَيَرِدَنَّ عَلَيَّ نَاسٌ مِنْ أَصْحَابِي الْحَوْضَ حَتَّى عَرَفْتُهُمْ اخْتُلِجُوا دُونِي فَأَقُولُ أَصْحَابِي فَيَقُولُ لَا تَدْرِي مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ»[2] **ژباړه:** خامخا به زما ځينې اصحاب زما خواته د حوض (غاړې ته) راشي، چې زه به يې پېژنم. بيا به له ما څخه وګرځول شي، نو زه به وايم دا زما ملګري دي، نو و به وايي: ته نه پوهيږې چې دوی له تا وروسته څه چاري (په دين کې) راپيدا کړې وې.

---

۱ - رواه مسلم.

۲ - رواه البخاري.

ketabton.com - The Digital Library

همدارنګه په يو بل حديث شريف کې چې اسماء بنت ابوبکر صديق رضي الله تعالى عنهما روايت کړى، رسول اللهﷺ فرمايلي دي: «إِنِّي عَلَى الْحَوْضِ حَتَّى أَنْظُرَ مَنْ يَرِدُ عَلَيَّ مِنْكُمْ وَسَيُؤْخَذُ أُنَاسٌ دُونِي فَأَقُولُ يَا رَبِّ مِنِّي وَمِنْ أُمَّتِي. فَيُقَالُ أَمَا شَعَرْتَ مَا عَمِلُوا بَعْدَكَ وَاللَّهِ مَا بَرِحُوا بَعْدَكَ يَرْجِعُونَ عَلَى أَعْقَابِهِمْ»[1] **ژباړه:** زه به په حوض باندې يم او ګورم به چې له تاسو څخه څوک ماته راځي؟ او ز ما له مخې به ځينې خلک وګرځول شي، نو زه به وايم، اې الله! دا زما او زما له امت څخه دي، نو وبه ويل شي، آيا ته خبر نه ې په هغه څه چې دوى له تا څخه وروسته کول؟ زما دې په الله تعالى قسم وي چې دوى له تا څخه وروسته تل په خپلو پوندو باندې بېرته ګرځېدل.

نو هر هغه څوک چې د الله تعالى له دين څخه واوړي او يا په دين کې داسې نوى شى پيدا کړي چې د الله تعالى خوښ نه وي او د هغې اجازه ې نه وي کړې، هغه به د نبي کريمﷺ له حوض څخه وشړل شي او هېڅکله به له دې حوض څخه اوبه ونه څښي.

پوښتنې:

۱. حوض تعريف کړئ.
۲. د حوض د اثبات دلايل ذکر کړئ.
۳. په حوض باندې د ايمان حکم بيان کړئ.
٤. څوک حوض ته نه پرېښودل کيږي؟

---

۱ ـ رواه مسلم

ketabton.com - The Digital Library

د صراط پل

كله چې د حشر په ميدان كې له انسانانو سره حساب او كتاب وشي، ملائكې به د الله تعالى په امر سره د دوى د تېرېدلو لپاره د دوزخ په ملا باندې پل كېږدي او دوى به پرې تېرېږي.

د صراط تعريف

صراط د ژبې له مخې لويې لارې ته وايې او په اصطلاح كې: د هغه پل څخه عبارت دى چې د ټولو خلكو لپاره به د قيامت په ورځ پر جهنم باندې اېښودل كيږي. نيكان به پرې تيريږي او بدان به ورڅخه په جهنم كې لويږي.

كله چې له انسانانو سره د محشر په ميدان كې محاسبه وشي، نو وروسته به الله ﷻ ملايكو ته امر وكړي چې د جهنم په ملا باندې پل كيږدئ. بندګانو ته به حكم وشي چې د پل څخه تير شي، پر پل تيريدل د بنده په عمل پورې اړه لري،كه د چا عمل ښه (نېك) وي هغه به ورڅخه په ډيره اسانۍ تيريږي او كه د چا عمل بد وي هغه به ورڅه په ډيره سختۍ تيريږي او يا به په جهنم كې لويږي.

د صراط د پل د اثبات دليل

د صراط پل او وربانديې تيريدل په قرآنكريم، نبوى احاديثو او د امت په اجماع سره ثابت دي.

أ- **قرآن كريم:** الله ﷻ فرمايلي دي: ﴿وَإِنْ مِنْكُمْ إِلَّا وَارِدُهَا﴾ [مريم: ٧١] **ژباړه:** نشته هيڅوك له تاسې څخه مګر دا چې جهنم ته به واردېږي.

ځينو مفسرينو د ورود ترجمه په عبور كړې او ويلي پې دي چې ټول خلك به يو ځل د قيامت په ورځ د صراط په پل تېرېږي.

ب- **حديث شريف:** په ګڼو احاديثو كې د صراط د پل يادونه شوې ده، لكه چې پيغمبر ﷺ فرمايي: ﴿وَيُضْرَبُ جِسْرُ جَهَنَّمَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَأَكُونُ أَوَّلَ مَنْ يُجِيزُ وَدُعَاءُ الرُّسُلِ يَوْمَئِذٍ اللَّهُمَّ سَلِّمْ سَلِّمْ﴾[1]

١_ صحيح البخاري ت - (١٦ / ٤١٩). صحيح مسلم - (١ / ١١٢)

ketabton.com - The Digital Library

ژباړه: او بيا به پر جهنم پل وتړل شي. پيغمبرﷺ وفرمايل: نو زه به اول هغه څوک يم چې په پل به تير شم او ټول پيغمبران بـه پـه دغـه وخـت کـې دا دعـاء لـولي: ای الله سـلامتي غواړو، ای الله سلامتي غواړو.

ج ـ د اهل سنت او جماعت ټولو علماوو په دې اجماع کړې چې د صراط پل حق دی.

د صراط د پل صفت

په قران کريم کې د صراط د پل ذکر په اجمالي توګـه شـوی دی خـو پـه احـاديثوکې د صراط د پل په اړه پوره او کره معلومات ذکر شوي دي.

لنډيز يې دا دی چې هيڅوک هم په پله باندې د هغه د پلن والي او پوخوالي لـه کبلـه نـه شي تېرېدای، بلکه څوک چې وربانديې تېرېږي هغه به د خپل نېک عمـل او د الله تعـالی دتوفيق له امله وربانديې تېرېږي.

د صراط په پل د تيريدونکوحال

د صراط په پل تيريدونکي انسانان به د خپلو ښو او بدو عملونو په اعتبار سره په يو شان نه وي. څوک به پرې ډير تيز د بريښنا په شان تيريږي. څـوک بـه پـرې دتيـز بـاد پـه شـان تيريږي. څوک به د ښه ځغلنده آس په شان پرې تيريږي. څوک به پرې په منډه تيريږي. څوک به پرې لږ تيز تيريږي. څوک به د عادي حالت په شان پرې تيريږي. خو ځينې نور بد عمله انسانان به د صراط په پله په چنګکونو کې نښلي او سر کښته به يې په جهنم کې راغورځوي.

د صراط په پل ايمان درلودل

مورږ په دې کلک ايمان لرو چې د قيامـت پـه ورځ بـه الله ﷻ د دوزخ پـه مـنځ بانـدې د صراط پل ږدي او انسانان به پرې تيريږي او دا يوحقيقي پل دی چې الله ﷻ تـه يـې پـوره کيفيت معلوم دی.

پوښتنې:

۱. د صراط لغوي او اصطلاحي معنا ذکر کړئ.
۲. په قيامت کې به تر ټولو لومړی څوک د صراط پر پل تيريږي؟
۳. د صراط پل به په کوم ځای کې ايښودل کيږي؟
٤. د صراط پل به حقيقي وي اوکه مجازي؟

ketabton.com - The Digital Library

جنت

لکه چې ومو لوستل الله ﷻ به انسانان ژوندي را پاڅوي اوهر یو انسان ته به خپله عملنامه په لاس کې ورکړل شي. عملونه به پې وتلل شي. د چا د عملونو تله چې درنده شوه هغه به سرلوړی جنت ته ځي.

د جنت تعریف

جنت په عربی ژبه کې هغه پراخه باغ ته ویل کیږي چې ځمکه یې په ډول ډول ونو پوښل شوې وي. په شرع کې د هغه کور څخه عبارت دی چې الله ﷻ د مؤمنانو لپاره تیار کړی، په ډول ډول نعمتونو ښکلی شوی دی او د تل لپاره به هلته اوسیږي.

د تعریف شرح

د جنت لفظ په عربي ژبه کې په مختلفو معناګانو استعمال شوی دی، لکه هغه څیز چې له سترګو څخه پټ وي. هغه باغ او باغچه چې په کې رنګا رنګ بوټي او میوه لرونکې ونې وي او په سیورو یې د ځمکې مخ پوښلی وي، خو د عقایدو په علم کې جنت په آخرت کې له هغه کور څخه عبارت دی چې ډول ډول نعمتونه به په کې وي او الله ﷻ د هغو خلکو لپاره تیار کړی دی چې په الله ﷻ او د هغه په ملایکو، رسولانو، کتابونو او د آخرت په ورځ کلک ایمان لري، په دنیا کې پې خپله خپلې نفسې غوښتنې نه دي منلې او د الله او د هغه د پیغمبر په لارښوونه ژوند تېروي. جنت ډیر نومونه لري، لکه د سلامتیا کور، د دایمي استوګنې ځای، د ورتللو ځای، فردوس، د نعمتونو کور او داسې نور.

د جنت د اثبات دلایل

قرآن کریم

الله ﷻ د جنت د پیدایښت په اړه فرمایلي دي: ﴿أُعِدَّتْ لِلْمُتَّقِينَ﴾ [آل عمران: ۱۳۳]

ژباړه: (هغه جنت) چې تیارکړای شوی دی د پرهیزګارانو لپاره.

په بل آیت کې الله تعالی فرمایي: ﴿سَابِقُوا إِلَى مَغْفِرَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ وَجَنَّةٍ عَرْضُهَا كَعَرْضِ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ أُعِدَّتْ لِلَّذِينَ آمَنُوا بِاللَّهِ وَرُسُلِهِ﴾ [الحدید: ۲۱] **ژباړه:** د خپل څښتن له لوري بښنې

ketabton.com - The Digital Library

ته (هڅه وکړئ)یو له بل څخه مخکې شئ او دهغه جنت خوا تـه چـې، د هغـه پراختیـا د ځمکې او آسمانونو په څیر ده او دهغه چا لپاره تیار کړای شوی دی چـې پـه الله ﷻ او د هغه پر پیغمبرانو یې ایمان راوړی وي.

حدیث

په یې شمیره احادیثو سره د جنت وجود ثابت دی.

نبي کریم ﷺ په یو حدیث شریف کې فرمایلي دي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ «قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ أَعْدَدْتُ لِعِبَادِيَ الصَّالِحِينَ مَا لاَ عَيْنٌ رَأَتْ وَلاَ أُذُنٌ سَمِعَتْ وَلاَ خَطَرَ عَلَى قَلْبِ بَشَرٍ».[1]

ژباړه: ابوهریره رضي الله عنه له رسول الله ﷺ څخه روایت کوي چې الله ﷻ فرمایلي دي: مـا د خپلـو نیکو بنده ګانو لپاره داسې نعمتونه تیارکړی دي چـې نـه سـترګو لیـدلي، نـه یـې غوږونـو صفت اوریدلی، نه یې کوم انسان په زړه کې تصورکړی دی.

له پورتنیوحدیثونو څخه په ډاګه معلومیږي چې جنت اوس هم موجود دي.

جنتیان

جنت د پرهیزګارانو، نیک عملو، ریښتینو، دالله تعالی او د هغـه د رسـول د تابعـدارانو، پـه ایمان د استقامت د خاوندانو، الله ﷻ ته د نیژدې کسانو او د هغو خلکو ځـای دی، چـې د الله تعالی حکمونو ته غاړه ږدي، او له نواهیو څخه یې ځان ساتي.

جنت ته د جنتیانو تلل

جنتیان به جنت ته خوشحاله او سپاره ډلې ډلـې روان وي.الله ﷻ فرمـایلي دي: ﴿يَوْمَ نَحْشُرُ الْمُتَّقِينَ إِلَى الرَّحْمَنِ وَفْدًا﴾ [مریم: ٨٥] **ژباړه:** او یاده کـړه [ای محمـده] هغـه ورځ چـې را جمع به کړو موږ پرهیزګاران د الله ﷻ حضور ته په داسې حال کې چې ډلې ډلې بـه (پـه سپرلیو سپاره) وي.

حضرت علي رضي الله عنه فرمایي: چې دوی به پیاده نه بوتلل کیږي، بلکې دوې به په داسې سپرلیو سپاره وي چې مخلوقاتو به هغه سپرلی نه وي لیدلې.[2]

---

١ - صحيح مسلم

٢ـ تفسير الطبري - (١٨ / ٢٥٤)

ketabton.com - The Digital Library

په جنت ایمان لرل

پدې باندې عقیده درلودل لازم دي چې جنت دنورو مخلوقاتو څخه مخکې الله ﷻ پیداکړی دی، او اوس هم موجود دی، تل به وي، او هیڅ فنا نه لري.[1]

١. جنت تعریف کړئ.
٢. د جنت د اثبات دلائل بیان کړئ.
٣. جنت د کومو خلکو ځای دی؟
٤. جنت ته به جنتیان څرنګه ښول کیږي؟
٥. په جنت باندې د ایمان حکم بیان کړئ.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د جنت د توصیف او هغو عملونو چې جنت ته د تللو لامل ګرځي یوه مقاله وليکي.

١_ الفقه الأكبر - (١ / ٦٣)، العقيدة الطحاويه- (١ / ٥١)

ketabton.com - The Digital Library

پنځم لوست

جهنم (دوزخ)

کله چې الله ﷻ ټول انسانان له قبرونوڅخه را پاڅوي، هر انسان ته خپله عملنامه ورکړل شي او د مسلمانانو عملونه وتلل شي، نو نه منونکي او بد عمله خلک به دوزخ ته ځي.

د جهنم تعریف: جهنم دکندې معنا لري او په شرع کې جهنم د هغه اور نوم دی چې الله ﷻ دکافرانو اوګناهکارو مسلمانانو د عذابولو لپاره پیدا کړی دی.[1]

د تعریف شرح

جهنم له هغه اور څخه عبارت دی چې الله تعالی دکافرانو، مشرکانو، دپیغمبر ﷺ د رسالت دمنکرینو، او د ګناهکارانو مؤمنانو لپاره پیداکړی دی. جهنم دکافرانو لپاره ابدي ځای دی، او ګناهکار مؤمنان به په کې د خپلو ګناهونو او جرمونو په اندازه پراته وي او بیا به ورڅخه راویستل کیږي. جهنم ډیر نومونه لري لکه: لظی، حطمه، سعیر، سقر، جحیم، هاویه او هم زیاتې طبقې او درجې لري چې یوه له بلې څخه سخته او هلاکوونکې دي.

د دوزخ د اثبات دلایل

الله تعالی په قرآن کریم کې د دوزخ په اړه فرمایلي دي: ﴿فَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي وَقُودُهَا النَّاسُ وَالْحِجَارَةُ أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ﴾ [البقرة: ٢٤]

ژباړه: له هغه اور څخه وویریږئ چې د هغه خس(دسون توکي) به انسانان اوکانې وي چې د حق د منکرانو لپاره تیارکړای شوی دی.

په بل آیت کې الله تعالی فرمایي ﴿وَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِي أُعِدَّتْ لِلْكَافِرِينَ﴾ [آل عمران: ١٣١]

ژباړه: (ځانونه له هغه اور څخه وساتئ چې د کافرانو لپاره تیار شوی دی)

همدا راز په یې شمیره احادیثو کې د دوزخ یادونه شوې او ټول امت یې په شتون اجماع کړې.

١ـ مفردات الفاظ القرآن للراغيب الاصفهاني (١ / ٢٠١)، القاموس الفقهي – (١ / ٧٢)

ketabton.com - The Digital Library

جهنميان (دوزخيان)

جهنم د کافرانو، منافقانو، مجرمانو، سرکښانو، ظالمانو، ګمراهانو، د آخرت په مقابل کې د دنيا خوښوونکو، بد عملو او د هغه چا ځای دی چې د الله ﷻ او د هغه له رسول سره دښمني لري اويا پې له اوامرو څخه سرغړونه کوي او دحق لارې ته نه راګرځي.

جهنم ته د دوزخيانو وړل

ځينې خلک به جهنم ته پرمخې په مخونو باندې وړل کيږي. له رسول الله ﷺ څخه يوه صحابي پوښتنه وکړه چې څرنګه به دوی په مخونو وړل کيږي؟ پيغمبر ﷺ ورته وفرمايل: هغه ذات چې دوی په پښو ښولای شي په دې هم قادر دی چې په مخونو يې يوسي.[1]

جهنميان به د څارويو په شان رمې رمې شړل کيږي او له هر لورې څخه به ملايکې ورباندې آوازونه کوي. الله ﷻ فرمايي: ﴿وَسِيقَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِلَى جَهَنَّمَ زُمَرًا﴾ [الزمر: ٧١]

ژباړه: او هغه کسان چې کافر شوي وو ډله ډله به د دوزخ خواته وړل کيږي.

په بل آيت کې الله تعالى فرمايي: ﴿يَوْمَ يُدَعُّونَ إِلَى نَارِ جَهَنَّمَ دَعًّا﴾ [الطور: ١٣] **ژباړه:** په کومه ورځ چې دوی به په ټيلو ټيلو د جهنم د اور خواته بوتلل شي.

او مخکې له دې چې جهنم ته داخل شي د جهنم داسې آواز به واوري چې د دوی د غوږونو پردې به څيرې کړي، اوزړونه به يې په سخته ويره او هيبت کې پريوزي. الله ﷻ فرمايي: ﴿إِذَا رَأَتْهُمْ مِنْ مَكَانٍ بَعِيدٍ سَمِعُوا لَهَا تَغَيُّظًا وَزَفِيرًا﴾ [الفرقان: ١٢] **ژباړه:** هغه اور چې کله له ليرې نه دوی ووينې نو دوی به د هغه د غضب او تاو آوازونه واوري.

او هم به ډير زيات تږي وي. الله ﷻ فرمايي: ﴿وَنَسُوقُ الْمُجْرِمِينَ إِلَى جَهَنَّمَ وِرْدًا﴾ [مريم: ٨٦]

ژباړه: او مجرمان به د تږو څارويو په شان د دوزخ لورې ته وشړو.

همدارنګه کله چې دوزخيان جهنم ته بوول کيږي دوی به ړانده شي هيڅ به نه وينې، هم به ګونګيان شي ژبې به يې نه چليږي، او هم به کاڼه شي هيڅ به نه اوري. الله تعالى فرمايلي دي: ﴿وَنَحْشُرُهُمْ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى وُجُوهِهِمْ عُمْيًا وَبُكْمًا وَصُمًّا﴾ [الإسراء: ٩٧]

ژباړه: دغه خلک به مور د قيامت په ورځ پر مخې راکاږو، په داسې حال کې چې ړانده، ګونګيان اوکاڼه به وي.

١_تفسير الطبري ١٩\٢٦٨

ketabton.com - The Digital Library

اوکله چې جهنم ته وړل کيږي ډير د ذلت او خواری په حالت کې به وړل کيږي. الله تعالی فرمايي: ﴿قُلْ لِلَّذِينَ كَفَرُوا سَتُغْلَبُونَ وَتُحْشَرُونَ إِلَى جَهَنَّمَ وَبِئْسَ الْمِهَادُ﴾ [آل عمران: ١٢] **ژباړه:** (ای محمده!) کومو خلکو چې ستا د دعوت له منلو نه انکار کړی دی، هغوی ته ووايه هغه وخت نږدې دی چې تاسې به مغلوب شئ د دوزخ لورې ته به يې منډو منډو وروستل شئ او دوزخ ډير بد استوګنځی دی. او بل ځای الله ﷻ فرمايي: ﴿فَوَرَبِّكَ لَنَحْشُرَنَّهُمْ وَالشَّيَاطِينَ ثُمَّ لَنُحْضِرَنَّهُمْ حَوْلَ جَهَنَّمَ جِثِيًّا﴾[مريم: ٦٨] **ژباړه:** ستا په رب قسم چې موږ به هرو مرو دوی ټول او له دوی سره شيطانان هم ټرلي راولو بيا به يې د دوزخ چار چاپير سر ښکته په ګونډو را حاضر کړو.

او دا د ذلت ډير بد حالت دی چې الله ﷻ تصوير کړی دی.

کله چې دوی د جهنم خواته وروستل شي او د اور ويروونکی حالت ووينې نو ډير زيات به پښيمانه شی او د دې ارمان به وکړي چې کاشکې يوځل بيا دنيا ته بوول شوي وای تر څو ايمان مو راوړی وای، خو له اور څخه به خلاصون نه مومي. الله ﷻ فرمايي: ﴿وَلَوْ تَرَى إِذْ وُقِفُوا عَلَى النَّارِ فَقَالُوا يَا لَيْتَنَا نُرَدُّ وَلَا نُكَذِّبَ بِآيَاتِ رَبِّنَا وَنَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ﴾. [الأنعام: ٢٧] **ژباړه:** کاشکې تا د هغه وخت حالت ليدلی وای چې دوی د دوزخ په غاړه ودرول شي، په دې وخت کې به دوی ووايي: کاشکې موږ دنيا ته يوځل بيا ليږل شوي وای نو د خپل رب نښانې به مو دروغ نه ګڼلې او ايمان به مو راوړی وو.

په جهنم (دوزخ) د ايمان حکم

د دوزخ په شتون عقيده درلودل فرض دي او منکر يې د اسلام له دايرې څخه بهر ګڼل کيږي.[1]

پوښتنې:

١. جهنم تعريف کړئ.
٢. د دوزخ د اثبات دلايل بيان کړئ.
٣. دوزخ د کومو خلکو ځای دی.
٤. کوم عملونه دوزخ ته د داخلېدو لامل کيږي؟
٥. دوزخيان به څرنګه دوزخ ته بېول کيږي؟
٦. په دوزخ باندې د ايمان حکم بيان کړئ.

١ـ الفقه الأكبر - (١ / ٦٣)، العقيدة الطحاويه - (١ / ٥١)

ketabton.com - The Digital Library

شپږم لوست

د ایمان نواقض (۱)

اکبر شرک

شرک د انسان د هلاکت لامل او تر ټولو لوی ظلم دی. شرک هغه ګناه ده چې الله تعالی پې نه بښي.

د شرک تعریف

شرک په لغت کې حصې او برخې ته ویل کیږي چې په ګډون، سیالی او شراکت باندې پې هم اطلاق شوی دی او په اصطلاح کې له الله تعالی سره په ذات، صفاتو، تصرفاتو او عبادت کې شریک پیدا کولو ته شرک ویل کیږي.

۱. **په ذات کې شرک:** لکه څوک چې دوه خدایان ومني.

۲. **په صفاتو کې شرک:** لکه څوک چې د الله تعالی د صفاتو په څېر نورو مخلوقاتو ته صفات ثابت وګڼي، له اسبابو پرته څوک په غیبو عالم وګڼي، د هغه تعالی په ډول بل څوک قادر او سمیع وګڼي او یا په صفاتوکې تمثیل یا تکییف وکړي.

۳. **په تصرفاتو کې شرک:** دې ته وایي چې له الله تعالی پرته له اسبابو پورته متصرف د کار جوړوونکی او د حاجت پوره کوونکی یا مشکل کشا بل څوک وګڼل شي.

٤. په عبادت کې شرک دې ته وایي چې له الله تعالی پرته بل چا ته د بندګۍ سر ټیټ کړای شي، د الله تعالی په مقابل کې پې طاعت، ستاینه، یاتعظیم په دې بنیاد وشي چې په غیبي قدرت سره دګټې اوزیان واکمن دی.

د شرک ډولونه

شرک په دوه ډوله دی: ستر شرک (الشرک الاکبر) او کوچنی شرک(الشرک الاصغر).

ستر شرک چې له الله تعالی سره څوک سیال ونیول شي، داسې عبادت پې وشي لکه د الله تعالی، دا ډول شرک انسان له اسلام څخه باسي، ټول عملونه پې له منځه وړي او که په دې شرک مبتلا شخص له توبې پرته ومري نو د تل لپاره به په دوزخ کې وي.

د قرآن کریم د هدایاتو له استقراء څخه معلومیږي چې ستر شرک په څلور ډوله دی: په دعاء او بلنه کې شرک، په نیت او قصد کې شرک، په طاعت کې شرک او په محبت کې شرک، چې په لاندې توګه بیانیږي:

ketabton.com - The Digital Library

۱ـ د دعاء او بلنې شرک: دا څکه چې دعاء د عبادت له مهمو ډولونو څخه ده. رسول الله ﷺ فرمايلي: (الدعاء هو العبادة)[۱]، الله تعالى فرمايي: ﴿وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُونِي أَسْتَجِبْ لَكُمْ إِنَّ الَّذِينَ يَسْتَكْبِرُونَ عَنْ عِبَادَتِي سَيَدْخُلُونَ جَهَنَّمَ دَاخِرِينَ﴾ [غافر: ٦٠] **ژباړه:** او ستاسو څښتن وايي ما رابلئ بلنه مو قبلوم. يقينا هغه کسان چې زما له عبادت څخه په لويي مخ اړوي، ژر به جهنم ته د ذلت په حال کې ننوزي.

څرنګه چې دعاء عبادت دی، له الله تعالى بل چا ته پې اړول شرک ګڼل کيږي. الله تعالى فرمايي: ﴿وَمَنْ يَدْعُ مَعَ اللَّهِ إِلَهًا آخَرَ لَا بُرْهَانَ لَهُ بِهِ فَإِنَّمَا حِسَابُهُ عِنْدَ رَبِّهِ إِنَّهُ لَا يُفْلِحُ الْكَافِرُونَ﴾ (المؤمنون: ١١٧) **ژباړه:** او څوک چې له الله تعالى سره بل خداى رابلي سره له دې چې هيڅ دليل (په دې کارکې) نه لري، نو دده حساب يوازې د ده له څښتن سره دی، بې شکه کافران برى نه مومي.

همداراز فرمايي: ﴿فَإِذَا رَكِبُوا فِي الْفُلْكِ دَعَوُا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ فَلَمَّا نَجَّاهُمْ إِلَى الْبَرِّ إِذَا هُمْ يُشْرِكُونَ﴾ (العنكبوت: ٦٥) **ژباړه:** کله چې دغه خلک په بېړۍ کښې سپريږي نو د الله نه په خالص اعتقاد سره دعا غواړي، بيا کله چې الله دوی وژغوري (وچې ته پې راولي) نو ناڅاپه دوی بيا په شرک کولو لاس پورې کړي.

له دې څخه په ډاګه څرګنديږي چې له الله تعالى پرته د بل چا رابلل او له اسبابو پورته له بل چا څخه مرسته غوښتل شرک دی.

۲ـ د نيت او قصد شرک: دا شرک دې ته وايي چې خاوند پې په خپلو ديني اعمالو سره يوازې دنيوي مقاصدو ته ځان رسول وغواړي او په کلي توګه پې موخه د ځان ښودنه او رياء وي، د منافقانو په دود د الله رضا بيخي ونه غواړي. داسې شخص هم په ستر شرک کې غورځېدلی.

الله تعالى فرمايي: ﴿مَنْ كَانَ يُرِيدُ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا وَزِينَتَهَا نُوَفِّ إِلَيْهِمْ أَعْمَالَهُمْ فِيهَا وَهُمْ فِيهَا لَا يُبْخَسُونَ۝أُولَئِكَ الَّذِينَ لَيْسَ لَهُمْ فِي الْآخِرَةِ إِلَّا النَّارُ وَحَبِطَ مَا صَنَعُوا فِيهَا وَبَاطِلٌ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ﴾ [الهود: ١٥، ١٦] **ژباړه:** کوم خلک چې (يوازې) د همدې دنيا د ژوند او د هغې د ښکلاو غوښتونکي وي، د هغو د کړو وړو ټوله مېوه موږ همدلته ورکوو او په دې کې له هغو سره هيڅ کمي نه کيږي، خو په آخرت کې د دغه راز خلکو لپاره له اوره پرته نور څه

---

۱ – رواه احمد والترمذی

ketabton.com - The Digital Library

نشته (هلته به معلومه شي) خه چې هغوی په دنیا کې کړیدي هغه ټول خاورې ایرې شول او اوس د هغو ټول کړه وړه محض باطل دي.

۳ـ د طاعت شرک: دا دې ته وایي چې یو څوک د حرامو او حلالو په هکله د الله تعالی د دین په خلاف د مخلوق ومني او په زړه کې دا وانګیري چې مخلوق د حلالو د تحریم او یا د حرامو د تحلیل واک لري.

الله تعالی د نصاراوو په هکله فرمایي: ﴿اتَّخَذُوا أَحْبَارَهُمْ وَرُهْبَانَهُمْ أَرْبَابًا مِنْ دُونِ اللَّهِ وَالْمَسِيحَ ابْنَ مَرْيَمَ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا إِلَهًا وَاحِدًا لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ سُبْحَانَهُ عَمَّا يُشْرِكُونَ﴾ (التوبة: ۳۱).

ژباړه: دوی خپل عالمان او روحانیون له الله پرته خپل اربابان نیولي دي او همدغه راز مسیح ابن مریم هم. په داسې حال کې چې دوی ته له یو معبود نه پرته د بل هیڅا د بنده ګۍ کولو حکم نه وو ورکړی شوی، هغه ذات چې له هغه پرته بل هیڅوک د عبادت وړ نشته، پاک دی له هغو مشرکانه خبرو څخه چې دوی پې کوي.

۴ـ د محبت شرک: دا دې ته وایي چې یو څوک له الله تعالی پرته بل چا سره داسې مینه ولري چې د هغه د لوی ګڼلو له کبله د عبودیت او عاجزۍ سر ورته ښکته کړي، سره له دې چې د اجلال او تعظیم لپاره یوازې الله تعالی ته په مینه د عاجزي سر ښکته کیږي او عبادت پې کیږي.

الله تعالی فرمایي: ﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يَتَّخِذُ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَنْدَادًا يُحِبُّونَهُمْ كَحُبِّ اللَّهِ وَالَّذِينَ آمَنُوا أَشَدُّ حُبًّا لِلَّهِ﴾ (البقرة: ١٦٥). **ژباړه:** ځینې خلک داسې دي چې له الله نه پرته نور د هغه سیالان ګرځوي او پر هغو داسې مین دي لکه چې څنګه له الله سره مینه لرل ښایي. په داسې حال کې چې ایمان لرونکو ته تر هر چا زیات الله ګران وي.

د اکبر شرک حکم:

د دې ډول شرک خاوند مشرک بلل کیږي، د ابد لپاره به په دوزخ کې وي، هیڅکله له دوزخ څخه نه ایستل کیږي او د هیڅ شفاعت کوونکي شفاعت د ده په حق کې نه قبلیږي.

ketabton.com - The Digital Library

پوښتنې:

۱. شرک تعریف کړئ.
۲. شرک په څو ډوله دی؟
۳. اکبر شرک په څو ډوله دی؟
٤. آیا مشرک ته الله تعالی ببښنه کوي؟
٥. په نیت او قصد کې شرک څه ته وایي؟
٦. د دعاء او بلنې شرک څه شی دی؟
۷. د اکبر شرک حکم بیان کړئ.

کورنی دنده:

زده کوونکي دې د اکبر شرک په اړه یوه مفصله مقاله وليکي.

ketabton.com - The Digital Library

اووم لوست

اصغر شرک

د اکبر شرک ډولونه او حکم مو په مخکې لوست کې ولوست. په دې لوست کې د اصغر شرک تعریف او ډولونه لولو.

د اصغر شرک تعریف

اصغر شرک هغه ګناه ده چې الله تعالی په قرآن کریم او یا نبي کریمﷺ په خپلو مبارکو احادیثو کې د زجر او تهدید له امله د شرک په نامه سره یاد کړي دي، خو هغه شرک نه دی چې له اسلام څخه د وتلو لامل وګرځي او یوازې هغو ګناهونو ته د شرک نسبت کولای شو چې شارع په شرک سره نومولي وي، چې په دوه ډوله دی:

۱. **ښکاره شرک:** دا شرک په الفاظو او افعالو کې منځ ته راځي.

أ. **الفاظ:** لکه، له الله تعالی پرته په بل شي سوګند (قسم) خوړل، ابن عمر رضي الله تعالی عنهما فرمایلي دي چې له الله تعالی پرته په بل شي سوګند مه کوئ، ځکه ما له رسول اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه اوربدلي چې فرمایل یې: «مَنْ حَلَفَ بِغَيْرِ اللَّهِ فَقَدْ كَفَرَ وَأَشْرَكَ»[۱] **ژباړه:** هغه څوک چې له الله تعالی پرته په بل شي قسم وخوري یقیناً کافر او مشرک شو.

ب. **افعال:** لکه د ځینو ناروغیو د درملنې لپاره له هغو شیانو څخه ګټه اخیستل چې الله تعالی هغه د دفعه کولو اسباب نه وي معرفي کړي. لکه څرنګه چې نبي کریمﷺ فرمایلي دي: «مَنْ عَلَّقَ تَمِيمَةً فَقَدْ أَشْرَكَ»[۲] **ژباړه:** هر څوک چې (پخپله یا د ماشومانو او یا د حیوان په غاړه کې) یو څه شی ځوړند کړي، یقیناً چې ده د شرک کار تر سره کړ.[۳]

۲. **خفي شرک:** په نیتونو او ارادو کې شرک ته خفي شرک ویل کیږي، لکه: ریاء. ریاء دې ته ویل کیږي چې یو څوک نېک کار د دې لپاره تر سره کړي چې خلک یې

---

۱ – مسند أحمد – (۱۰ / ۲٤۹)

۲ – مسند أحمد – (۲۸ / ٦۳۷)

۳ – هغه شیان چې د جاهلیت په وخت کې مروج وو او مشرکانو به د خپلو ماشومانو یاحیواناتو په غاړه کې د دې لپاره ځوړندول چې نظر نه شي. د هغو ټولو شیانو ځوړندول حرام دي، لکه: کونجکې، مرۍ، بندونه، ګوجر او داسې نور.

ketabton.com - The Digital Library

وويني او بيا ووايي چې فلانی ډېر ښه سړی دی او د ده مدحه وکړي. الله تعالى په دې اړه فرمايلي دي: ﴿فَمَنْ كَانَ يَرْجُو لِقَاءَ رَبِّهِ فَلْيَعْمَلْ عَمَلًا صَالِحًا وَلَا يُشْرِكْ بِعِبَادَةِ رَبِّهِ أَحَدًا﴾ [الكهف: ١١٠] **ژباړه:** نو څوک چې له خپل پروردګار سره د يو ځای کېدو په هيله وي هغه ته په کار دي چې ښه عمل وکړي او په بنده ګي کې له خپل رب سره بل څوک شريک نه کړي.

نبي کريمﷺ فرمايلي دي: «إِنَّ أَخْوَفَ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمُ الشِّرْكُ الأَصْغَرُ» ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ ، وَمَا الشِّرْكُ الأَصْغَرُ؟ قَالَ: «الرِّيَاءُ»[1] **ژباړه:** يقيناً چې زه په تاسو باندې له ټولو شيانو څخه زيات له اصغر شرک څخه وېرېږم. صحابه وو پوښتنه وکړه، اې د الله رسوله! اصغر شرک څه شی دی؟ رسول اللهﷺ وفرمايل: رياء.

د اصغر شرک حکم

اصغر شرک له اسلام څخه د وتلو لامل نه دی، خو د اکبر شرک لپاره وسيله ده او خاوند ته يې د مشرک نسبت نه کېږي.

فعاليت: زده کوونکي دې د اکبر شرک او اصغر شرک د حکمونو په اړه يو له بل سره مباحثه وکړي.

پوښتنې:

١. اصغر شرک تعريف کړئ.
٢. د اصغر شرک څو مثالونه بيان کړئ؟
٣. اصغر شرک په څو ډوله دی؟
٤. ښکاره شرک په څو ډوله دی؟
٥. د اصغر شرک حکم بيان کړئ.

---

١ - المعجم الكبير للطبراني - (٤ / ٣٣٨)

ketabton.com - The Digital Library

د ایمان نواقض (۲)

ستر کفر

لکه څرنګه چې شرک سخت ناوړه عمل، له توحید سره منافي او د توحید له نواقضو څخه دی، همدارنګه کفر هم له ایمان سره منافي او د ایمان له نواقضو څخه دی.

د کفر تعریف

کفر په لغت کې پټولو ته وایي او د عقایدو د علم په اصطلاح کې د ایمان ضد ګڼل کیږي، یعنې په الله تعالی او د هغه په رسول باندې ایمان نه لرل، یا د هغوی له لارښوونو څخه انکار کول او نه منل کفر دی. که دغه نه ایمان راوړل ېې د دروغ ګڼلو له املـه وي او یا یوازې په هغه کې د شک، تردید، حسد، کبر او یا ځینو نورو نفسي غوښتنو له املـه وي، ټول کفر دی.

د تعریف شرح

د عقایدو د علم په اصطلاح کې په الله تعالی او په هغه شریعت چې د ده رسول راوړی دی، ایمان نه درلودل، یا پر ځینو هغو شیانو باندې چې ایمان راوړل پرې فرض دي، ایمان راوړل او له ځینو نورو څخه ېې انکار کول، که ېې دروغ وګڼي او یا شک پکې وکړي او یا د حسد، کبر او یا ځینو نورو نفسي غوښتنو له املـه له الهي لارښوونو څخه مخ واړوي، ټول کفر ګڼل کیږي. ایمان داسې یو حقیقت دی چې تجزیه نه قبلوي. داسې نشي کېدای چې په ځینو ېې ایمان راوړي او له ځینو نورو څخه ېې منکر شي.

د کفر ډولونه

کفر په دوه ډوله دی:

۱. اکبر کفر (لوی کفر).

۲. اصغر کفر (کوچنی کفر).

لومړی: اکبر کفر: دا کفر د ایمان ضد دی.

اکبر (لوی) کفر په پنځه ډوله دی:

ketabton.com - The Digital Library

١. **د دروغ ګڼلو کفر:** د الله تعالی انبیاوو ته د دروغجنی نسبت کول کفر دی. هر څوک چې د الله تعالی انبیاء، په هغه څه کې چې د الله تعالی له لوري ېې راوړي دي، دروغجن وګڼي هغه کافر شو، ځکه الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَى عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ كَذَّبَ بِالْحَقِّ لَمَّا جَاءَهُ أَلَيْسَ فِي جَهَنَّمَ مَثْوًى لِلْكَافِرِينَ﴾ (العنکبوت: ٦٨) **ژباړه:** له هغه چا نه به غټ ظالم څوک وي چې پر الله باندې دروغ وتړي یا حق ته د دروغو نسبت وکړي چې کله هغه ته راوړل کیږي. آیا د دغسې کافرانو استوګنځی دوزخ نه دی؟

٢. **د انکار او ځان لوړ ګڼلو کفر:** دا په دې ډول چې د رسول په ریښتینوالی پوهیږي او په دې باندې ېې یقین وي چې دغه رسول د الله تعالی له لوري په حقه سره راغلی دی، خو بیا هم د عناد او تکبر له امله د هغه اوامرو ته غاړه نه ږدي. الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَائِكَةِ اسْجُدُوا لِآدَمَ فَسَجَدُوا إِلَّا إِبْلِيسَ أَبَى وَاسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ الْكَافِرِينَ﴾ (**البقرة: ٣٤**) **ژباړه:** او کله چې موږ پرښتو ته امر وکړ چې د آدم په وړاندې سرونه په سجده ښکته کړئ، نو ټولو سرونه ښکته کړل، خو ابلیس انکار وکړ هغه د خپلې لویۍ په غرور کې اخته او د کافرانو له ډلې څخه شو.

٣. **شک، تردید او د رسول په صدق د یقین نه کولو کفر:** دې کفر ته د ظن او ګومان کفر هم ویل کیږي، ځکه الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَدَخَلَ جَنَّتَهُ وَهُوَ ظَالِمٌ لِنَفْسِهِ قَالَ مَا أَظُنُّ أَنْ تَبِيدَ هَذِهِ أَبَدًا ۞ وَمَا أَظُنُّ السَّاعَةَ قَائِمَةً وَلَئِنْ رُدِدْتُ إِلَى رَبِّي لَأَجِدَنَّ خَيْرًا مِنْهَا مُنْقَلَبًا ۞ قَالَ لَهُ صَاحِبُهُ وَهُوَ يُحَاوِرُهُ أَكَفَرْتَ بِالَّذِي خَلَقَكَ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ ثُمَّ سَوَّاكَ رَجُلًا ۞ لَكِنَّا هُوَ اللَّهُ رَبِّي وَلَا أُشْرِكُ بِرَبِّي أَحَدًا﴾ [الکهف: ٣٥ - ٣٨] **ژباړه:** بیا هغه خپل باغ ته ننوت او د خپل نفس په حق کې تیری کوونکی شو، ویې ویل (زه دا نه ګڼم چې دغه شتمني او باغ به یو وخت فنا شي او زما باور نشته چې د قیامت ساعت به راشي بیا هم که کله د خپل رب حضور ته زما ورګرځېدل شول، نو هرو مرو به له دې نه هم زیات شاندار ځای ومومم د هغه ګاونډي په خبرو اترو کې هغه ته وویل: آیا ته په هغه ذات کافر کیږي چې هغه ته له خاورې او بیا له نطفې څخه پیدا کړي او ته ېې یو بشپړ سړی جوړ کړي؟ پاتې شوم زه، نو زما رب خو هماغه الله دی او زه له خپل رب سره هېڅوک نه شریکوم.

ketabton.com - The Digital Library

٤. **د اعراض او مخ اړولو کفر:** له دې څخه مراد دا دی چې له دین څخه مخ واړوي، یعنې نه نبوي لارښوونې اوري، نه په زړه کې څه التفات ورته کوي او نه ځان وربانديې پوهوي، ځکه الله تعالی فرمایلي دي: ﴿وَالَّذِينَ كَفَرُوا عَمَّا أُنْذِرُوا مُعْرِضُونَ﴾ (الأحقاف: ٣) **ژباړه:** خو دغه کافران له هغه حقیقت څخه مخ اړوونکي دي چې دوی ته د هغه اخطار ورکړ شوی دی.

٥. **د نفاق کفر:** له نفاق څخه دلته مراد نفاق په عقیده کې دی. په دې ډول چې په ظاهر کې خلکو ته ایمان ښکاره کوي او په باطن کې بې عقیده د کفر وي، ځکه الله تعالی فرمایلي دي: ﴿ذَلِكَ بِأَنَّهُمْ آمَنُوا ثُمَّ كَفَرُوا فَطُبِعَ عَلَى قُلُوبِهِمْ فَهُمْ لَا يَفْقَهُونَ﴾ (المنافقون: ٣) **ژباړه:** دا هر څه له دې امله دي چې دوی ایمان راوړ بیا کافر شول له دې امله د دوی پر زړونو مهر ولګول شو اوس دوی په هیڅ نه پوهیږي.

د نفاق ډولونه

نفاق په دوه ډوله دی

أ. **عقیدوي نفاق:** دې نفاق ته ستر کفر ویل کیږي او له اسلام څخه د وتلو لامل دی. دا نفاق په شپږ ډوله دی: د رسول تکذیب، یا د ځینو هغو شیانو تکذیب چې رسول راوړي وي، له رسول سره کینه کول، یا له هغو شیانو سره کینه کول چې رسول راوړي وي. د رسول د دین په ضعیفه کېدلو باندې خوښي ښکاره کول، یا د رسول له دین سره د مرستې بد ګڼل.

ب. **عملي نفاق:** دې نفاق ته اصغر کفر هم ویل کیږي. په دې باندې انسان د اسلام له دین څخه نه وځي خو بیا هم لویه ګناه ده، چې ځینې پې نبي کریمﷺ په دې حدیث کې ذکر کړي دي: «أَرْبَعٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ كَانَ مُنَافِقًا خَالِصًا وَمَنْ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنْهُنَّ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنْ نِفَاقٍ حَتَّى يَدَعَهَا إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ وَإِذَا عَاهَدَ غَدَرَ وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ وَإِذَا خَاصَمَ فَجَرَ»[1] **ژباړه:** څلور شیان دي چې که په چا کې دا ټول پیدا شول، نو سوچه منافق شو او که په چا کې له دې څلورو شیانو څخه یو پیدا شو، نو په هغه کې د نفاق له عادتونو څخه یو عادت پیدا شو، تر څو چې پرې اښنې پې نه وي، کله چې

---

١ - متفق علیه

ketabton.com - The Digital Library

خبرې کوي، نو دروغ وايي، کله چې ژرون وکړي، بيا په هغې کې غدر کـوي، کلـه چې وعده وکړي، نو وفا نه ورباندې کوي او کله چې شخړه کوي، نو کنځل کوي.

فعاليت: زده کوونکي دې د اکبر کفر د ډولونو لپاره مثالونه بيان کړي.

د ستر کفر حکم

د دې کفر خاوند کافر بلل کيږي له اسلام څخه وتلی، د تل لپاره به په دوزخ کې وي او د قيامت په ورځ د هيڅ شفاعت کوونکي شفاعت د ده په حق کې نه قبلږي.

پوښتنې:

۱. کفر تعريف کړئ.
۲. د کفر ډولونه کوم دي؟
۳. لوی کفر په څو ډوله دی؟
٤. نفاق په څو ډوله دی؟
٥. ايا عملي نفاق له اسلام څخه د وتلو لامل دی؟
٦. د ستر کفر حکم بيان کړئ.

ketabton.com - The Digital Library

نهم لوست

اصغر کفر

په مخکني لوست کې مو د اکبر کفر په اړه معلومات تر لاسه کړل. په دې لوست کې به د اصغر کفر د تعریف، ډولونو او حکم په اړه معلومات تر لاسه کړو.

د اصغر کفر تعریف

دا هغه ګناهونه دي چې شارع د زجر او تهدید له امله ورته د کفر نسبت کړی دی، خو د اکبر کفر (لوی کفر) حد ته نه دي رسېدلي او له اصل ایمان سره ضد او منافي نه دي، خو ایمان ضعیفوي. که چېرې د دې ګناهونو خاوند توبه ونه باسي، نو د الله تعالی په مشیت کې دی. که خوښه پې شوه عذاب ورکوي، خو د ابد لپاره په دوزخ کې نه پاتې کېږي او که خوښه پې شوه عفوه ورته کوي.

د اصغر کفر ډولونه

د اصغر کفر (کوچني کفر) ډولونه ډېر زیات دي، خو په لنډ ډول ویلای شو: هره هغه ګناه چې په شرعي نصوصو کې ورته د کفر نسبت شوی وي او د اکبر کفر (لوی کفر) او اکبر شرک حد ته نه وي، رسېدلې اصغر کفر (کوچنی کفر) ورته ویل کېږي.

د اصغر کفر مثالونه

په یو حدیث شریف کې رسول الله ﷺ فرمایلي دي: «سِبَابُ الْمُسْلِمِ فُسُوقٌ وَقِتَالُهُ كُفْرٌ»[1] **ژباړه:** مسلمان ته کنځل کول فسق او وژل پې کفر دی. همدارنګه په یو بل حدیث شریف کې، کله چې نبي کریم ﷺ په حجة الوداع کې خلکو ته نصیحت کولو، ویې فرمایل: «لاَ تَرْجِعُوا بَعْدِي كُفَّارًا يَضْرِبُ بَعْضُكُمْ رِقَابَ بَعْضٍ»[2] **ژباړه:** له ما څخه وروسته تاسو مه کافر کېږئ، چې ځینې له تاسو څخه د ځینو نورو غاړې وهي. په یو بل حدیث

---

۱ - صحیح مسلم - (۱ / ۵۷)

۲ - صحیح مسلم - (۱ / ۵۸)

ketabton.com - The Digital Library

شريف کې رسول الله ﷺ فرمايلي دي: «اثْنَتَانِ فِي النَّاسِ هُمَا بِهِمْ كُفْرٌ الطَّعْنُ فِي النَّسَبِ وَالنِّيَاحَةُ عَلَى الْمَيِّتِ»[1] **ژباړه:** په خلکو کې دوه عادتونه شته چې هغه کفر دی، يو نسب ته طعن (نسب بدلول) او بل پر مړي باندې په چيغو ژړا کول.

د دې ډول کفر حکم

د دې ډول کفر خاوند ته نه د کافر نسبت کېږي او نه له اسلام څخه وځي، خو شارع يوازې د زجر او تهديد په اساس ورته د کفر نسبت کړی دی.

فعاليت:

زده کوونکي دې په خپلو منځونو کې د اصغر کفر د تعريف او ډولونو په اړه يو له بل سره مباحثه وکړي.

پوښتنې:

۱. اصغر کفر تعريف کړئ.
۲. د اصغر کفر څو مثالونه ذکر کړئ.
۳. د اصغر کفر حکم بيان کړئ.

---

۱ - صحيح مسلم - (۱ / ۵۸)

ketabton.com - The Digital Library

لسم لوست

بدعت

شیطان د انسان د گمراهۍ هڅه کوي، فاسقان په بې دینۍ بې لارې کوي او دینداران په دین کې افراط او د دین له پولو څخه تېریدو ته هڅوي، په دې توګه چې په دین کې نوې لارې چارې راپیدا کړي. په دین ناپوهه خلک بیا هغه د دین برخه ګڼي او د الله تعالی د اطاعت په موخه د الله تعالی په معصیت کې ډوب وي. که چېرې بیا دغه بدعت په عقیده کې را منځته شي نو د ایمان له نواقضو څخه ګڼل کېږي او د انسان ایمان له منځه وړي.

په دې لوست کې به بدعت وپېژنئ او د هغه د نارواتوب دلایل به له قرآن او سنتو څخه زده کړئ.

د بدعت تعریف

بدعت د ژبې له مخې نوي ایجادولو ته وایي او همداراز نوي پیدا کړی شوي څیز ته هم ویل کېږي.

په شرعي اصطلاح کې په دین کې نوې چارې ایجادول چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې اړتیا ورته وه او څه مانع هم شتون نه درلوده، خو له دې سره سره شریعت امر نه وي وربانديې کړی. د داسې چارو ایجادولو ته بدعت ویل کېږي.

د تعریف شرح

په تعریف کې درې مطلبونه بیان شوي دي:

۱. بدعت په دین کې نوې چارې ایجادول دي، چې قرآن او سنت د هغو غوښتنه نه وي کړې. نو بدعت په دین کې رامنځته کېږي، په دنیوي چارو کې بدعت نه وي.

د دیني او دنیوي چارو تر منځ (په دې ځای کې) توپیر په دې سره کېږي، چې دیني چارې د اجر د طلب لپاره وي او دنیوي چارې خپل خپل اهداف لري.

۲. دې نویو چارو ته لکه چې اوس اړتیا ده، هغو ته به د رسول الله ﷺ په زمانه کې هم اړتیا وه او همدومره اړتیا بس ده چې دا نوی عمل یو دیني کار وګڼل شي، ځکه دیني کار باید پلی شوی وای.

ketabton.com - The Digital Library

رسول الله ﷺ دین پوره را رسولی او ټول ېې په عمل کې پلی کړی دی، خو هغه چارې چې د دین خدمت پرې کیږي، د رسول الله ﷺ په زمانه کې اړتیا ورته نه وه او اوس ېې ګټه ښکاره ده. د داسې چارو ایجادول بدعت نه دي، لکه د صرف او نحو د علومو زده کول، ځکه د هغه مبارک په زمانه کې مسلمانان په قرآن او سنتو د صرف او نحو له کارولو پرته ښه پوهېدل، او اوس په عربو او عجمو کې هغه پخوانۍ سلیقه پاتې نه ده، نو د قرآن او سنتو د پوهې لپاره د ژبې د علومو زده کړه اړینه ده.

همداراز د مدرسو او پوهنتونونو جوړول او د دین د پیاوړتیا او پایښت لپاره پراخه دولتی تشکیلات رامینځ ته کول، منظم قوانین جوړول او محاکم ایجادول دا ټول بدعت نه دي، ځکه دا د اوسنۍ زمانې اړتیا ده چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې په دومره پراخه کچه ورته اړتیا نه وه.

۳. د رسول الله ﷺ په زمانه کې به د دې نویو چارو د کارولو په مخ کې خنډ نه وو او که په هغه زمانه کې ېې په مخ کې خنډ وو، کارول ېې ممکن نه وو، نو بیا ېې د ګټې او اغیز د شتون په صورت کې کارول بدعت نه ګڼل کیږي، خو په دې شرط چې د دین له کوم بل اصل او حکم سره په ټکر کې نه وي. لکه له نوې تکنالوژۍ څخه د دین په ساتلو او خپرولوکې کار اخیستل، په جهاد کې د نویو وسلو کارول او په دعوت کې له رادیو، تلویزیون، انترنت او د مطبعو له مشینونو څخه کار اخیستل. د دې ټولو څیزونو کارول د رسول الله ﷺ په زمانه کې د هغوی دنشتوالي له کبله ممکن نه وو.

فعالیت

۱. زده کوونکی دې د دیني او دنیوي چارو لپاره په خپل وار مثالونه بیان کړي او په دین کې د نویو لارو د جوړولو ریښتینې یا فرضي بېلګې دې وښیي.

۲. د دین ټینګول، امنیت راوستل، د ښوونې او روزنې، روغتیا او عدالت په ډګرونو کې هڅې عادتونه دی، که عبادتونه؟ د دین د اقامت لپاره دولتي تشکیلات ولې بدعت نه ګڼل کیږي، سره له دې چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې په دې پراخه کچه تشکیلات او اداري نه وې؟ په دې هکله بحث وکړئ.

ketabton.com - The Digital Library

په عقيده کې بدعت

علماوو په دې اتفاق کړی چې په عقيده کې بدعت حرام دی ځينې عقيدوي بدعتونه آن کفر ته رسيږي، چې د دين له ښکاره حکم څخه پکې انکار راشي او ټولو ديني علماوو هغه صريح کفر ګڼلی وي. لکه د مشرکانو دا قول چې قرآن حکايت ورځخه کوي: ﴿وَقَالُوا مَا فِي بُطُونِ هَذِهِ الْأَنْعَامِ خَالِصَةٌ لِذُكُورِنَا وَمُحَرَّمٌ عَلَى أَزْوَاجِنَا﴾ [الأنعام:١٣٩] او دوی وايي: څه چې د دې څارويو په ګېډه کې دي، يوازې زمونږ د نارينه وو لپاره دي او زمونږ پر ښځو حرام کړی شوي دي.

د بدعت د ناروا توب دليلونه

ډير نقلي او عقلي دليلونه د بدعت په ناروا توب دلالت کوي چې مونږ پې دلته له قرآن او سنتو څخه په ځينو مهمو او صريح دلايلو بسنه کوو.

قرآن کريم: الله تعالى فرمايي: ﴿الْيَوْمَ أَكْمَلْتُ لَكُمْ دِينَكُمْ وَأَتْمَمْتُ عَلَيْكُمْ نِعْمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ الْإِسْلَامَ دِينًا﴾ [المائدة: ٣] **ژباړه:** نن ورځ مې ستاسو لپاره ستاسو دين کامل کړ، خپل نعمت مې پوره درکړ، او اسلام مې د دين په توګه درته غوره کړ.

خوک چې نوې چارې په دين کې پيدا کوي او هغه له دين څخه ګڼي، دی د رسول الله په لاس دين پوره نه ګڼي. د ده عمل دا معنا لري چې د دين ځينې برخې هغه مبارک نه دي پوره کړې او هغه پې دپوره کيدو لپاره دې مبتدع ته پرې ايښې دي. نو دی د دې آيت په مدلول يا نه پوهيږي او يا ورځخه انکار کوي، ځکه الله تعالى دين پوره ګڼلی او دی په هغه کې نورې چارې را پيدا کوي.

حديث: رسول الله ﷺ فرمايلي: «أُوصِيكُمْ بِتَقْوَى اللَّهِ وَالسَّمْعِ وَالطَّاعَةِ لِوُلاَةِ الأَمْرِ ، وَإِنْ كَانَ عَبْدًا حَبَشِيًّا ، فَإِنَّهُ مَنْ يَعِشْ مِنْكُمْ بَعْدِي فَسَيَرَى اخْتِلاَفًا كَثِيرًا ، فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ ، تَمَسَّكُوا بِهَا ، وَعَضُّوا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ ، وَإِيَّاكُمْ وَمُحْدَثَاتِ الأُمُورِ. فَإِنَّ كُلَ مُحْدَثَةٍ بِدْعَةٌ ، وَكُلَ بِدْعَةٍ ضَلاَلَةٌ»[1] **ژباړه:** زه تاسو ته له الله تعالى څخه په تقوى او وېره او د چارواکو خبرو ته په غوږ نيولو او درناوى وصيت کوم، که څه هم هغه يو حبشي غلام وي خوک چې په تاسو کې ژوندی پاتې شي هرو مرو به زيات اختلاف ووينې، نو په تاسو زما د سنتو او زما

١- رواه احمد و أبوداود.

ketabton.com - The Digital Library

د راشـدو خلفـاوو (لارښـودل شـويو ځـای ناسـتو) د لارو پيـروي لازمـه ده دا طريقـې کلکـې ونيـسئ او پـه غاښـونو ېـې کلکـې کـړئ، لـه نويـو کـارونو ځخـه ځـان وسـاتئ، ځکه هره نوې چاره بدعت ده او هر بدعت لار ورکي ده.

په يو بل حديث کې عايشې رضي الله تعالى عنها له رسول اللهﷺ ځخه روايت کړي چې هغه مبارک وفرمايل: «مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هَذَا مَا لَيْسَ مِنْهُ فَهُوَ رَدٌّ»[1] چا چې زمونږ پـه دې کار (دين) کې نوي څه راپيدا کړل، نو هغه رد دي.

پوښتنې:

١. بدعت تعريف کړئ.
٢. د بدعت له تعريف ځخه څو مطلبونه په ډاګه کېږي؟
٣. په عقيده کې بدعت څه ته وايي؟
٤. د قرآن او سنتو له مخې د بدعت د نارواتوب دليلونه بيان کړئ.

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د بدعت په اړه يوه مقاله وليکي چې له لسو کرښو کمه نه وي.

---

١ – متفق عليه

ketabton.com - The Digital Library

د صحابه كرامو مقام

۱. د صحابه وو تعريف

صحابه او اصحاب د صحابي جمع ده، ملګري ته ويل كيږي.

په اصطلاح كې صحابي هر هغه چاته ويل كيږي چې پيغمبرﷺ يې ليدلى وي، په هغه يې ايمان راوړى وي او د ايمان په حالت كې وفات شوى وي.

۲. د صحابه كرامو بهتري او غوره والى

الله تعالى د قرآن په ګڼو آياتو كې د صحابه كرامو فضيلت، مقام او منزلت ستايلى چې مونږ د بيلګې په توګه لاندې آيتونه لولو:

أ. الله تعالى له صحابه وو څخه خوښ او راضي وو او صحابه له الله څخه

الله تعالى فرمايي: ﴿وَالسَّابِقُونَ الْأَوَّلُونَ مِنَ الْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ وَالَّذِينَ اتَّبَعُوهُمْ بِإِحْسَانٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُوا عَنْهُ وَأَعَدَّ لَهُمْ جَنَّاتٍ تَجْرِي تَحْتَهَا الْأَنْهَارُ خَالِدِينَ فِيهَا أَبَدًا ذَلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ﴾. [التوبة ۱۰۰]

ژباړه: هغه مهاجرين او انصار چې هغوى تر ټولو دمخه د ايمان بلنې ته په لبيک ويلو کې وړاندې شول، دغه راز هغه کسان چې وروسته له نيکۍ او ريښتينولۍ سره په هغو پسې راغلل، الله له هغونه خوښ او هغوى له الله نه خوښ شول الله د هغو لپاره داسې باغونه تيار کړي دي چې تر هغو لاندې به ويالې بهيږي او هغوى به پکې د تل لپاره اوسيږي. همدا ډير لوى بريالیتوب دى.

ب. په غوره خويونو دصحابه وو توصيفول

الله پاک فرمايي: ﴿مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلًا مِنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِمْ مِنْ أَثَرِ السُّجُودِ﴾ [الفتح: ۲۹]

ژباړه: محمدﷺ د الله رسول دى او کوم کسان چې له هغه سره ملګري دي هغوى پر کافرانو سخت او په خپلو منځو کې خواخوږي دي. ته چې کله هغوى ګورې په رکوع او سجده او د الله د فضل او دهغه د رضا په طلب کې بې بوخت مومې، د سجدو نښې نښانې د هغو پر تندیو موجودې دي چې په هغوسره پېژندل کيږي.

ketabton.com - The Digital Library

ج. د امت اجماع

د پورتنيو قرآني آيتونو او د زياتو نبوي احاديثو پر بنسټ چې د صحابه وو په لوړ شان دلالت کوي، ټول اسلامي امت د صحابه کرامو پر عدالت او تقوا اجماع کړې ده او ويلي ېې دي: (**الصحابة كلهم عدول**). صحابه کرام ټول په حق او انصاف ولاړ او د تقوا څښتنان دي. د هغوی تر منځ پيښې شوې مشاجرې او اختلافونه اجتهادي وو او هيڅ يو لوري ته پړه او ملامتيا نه شي راجع کيدای. که کومه ګناه ترې شوې هم وي، توبه ېې ترې کړې اوالله پاک ورته ښښه کړې ده. الله تعالى فرمايي: ﴿لَقَدْ تَابَ اللَّهُ عَلَى النَّبِيِّ وَالْمُهَاجِرِينَ وَالْأَنْصَارِ الَّذِينَ اتَّبَعُوهُ فِي سَاعَةِ الْعُسْرَةِ مِنْ بَعْدِ مَا كَادَ يَزِيغُ قُلُوبُ فَرِيقٍ مِنْهُمْ ثُمَّ تَابَ عَلَيْهِمْ إِنَّهُ بِهِمْ رَءُوفٌ رَحِيمٌ﴾ [التوبة:١١٧]

ژباړه: الله، پيغمبر او هغو مهاجرينو او انصاروته ښښه وکړه چې هغوی په ډير تنګ وخت کې د پيغمبر ملګرتيا وکړه. که څه هم چې له هغوڅخه د ځينو زړونه کوږوالي ته نيژدې شوي وو (خو کله چې هغوی د دې انحراف پيروي ونه کړه. بلکې د پيغمبر ملګرتيا ېې وکړه) نو الله هغوی معاف کړل. بېشکه چې الله پر دوی مهربان او رحم کوونکی دی.

۳. د صحابه وو سپيڅلتيا

صحابه کرام هغه سپيڅلي خلک دي چې الله ﷻ له هغوی ټولو څخه د خپلې خوښې څرګندونه داسې کوي: ﴿لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ﴾ [الفتح: ١٨]

ژباړه: الله ﷻ له مؤمنانو څخه راضي شو کله چې هغوی تر ونې لاندې له تاسره بيعت کاوه.

صحابه کرام د ډير لوړ مقام څښتنان دي. صحابه کرام هغه خلک دي چې الله پاک د خپل پيغمبر او تر قيامته پورې دعام امت تر منځ د وساطت او ارتباط لپاره غوره کړي دي. چې له دوی پرته نه خو د قرآن فهم امت ته رسيدلای شو او نه د پيغمبر ﷺ تعليمات او لارښوونې!

له همدې کبله د صحابه کرامو پرعدالت، صدق او تقوا باندې ايمان لرل د عقيدې برخه ګرځيدلې ده.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت

که صحابه کرام – خدای مه کړه- مور بې اعتباره وګڼو نو قرآن او سنت خو مور ته هغوی رارسولي، د دې دواړو به بیا څه حال وي؟ او د اسلام به بیا څه حال وي؟

٤. له صحابه وو سره مینه

پیغمبرﷺ په خپلو ویناوو کې مسلمانانو ته لارښوونه کړی ده چې د صحابه وو سره مینه وساتی، او هغوی سره له دښمنۍ څخه ځانونه وژغوري، ځکه چې د صحابه کرامو ډله د ځمکې پر مخ تر ټولو غوره ډله ده، او د هغوی سره مینه ساتل د پوره ایمان نښه ده. له هغوی سره مینه، محبت او د هغوی قدر او احترام د پیغمبرﷺ او پر هغه د نازل شوي شریعت سره مینه، محبت او د هغو قدر او احترام دی!

ځکه نو پیغمبرﷺ عام امت ته په خطاب کې د هغوی پام اوتوجه د صحابه کرامو لور ته را اړولې ده. پیغمبرﷺ فرمایلي دي:«لاَ تَسُبُّوا أَصْحَابِى فَوَالَّذِى نَفْسِى بِيَدِهِ لَوْ أَنْفَقَ أَحَدُكُمْ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا مَا بَلَغَ مُدَّ أَحَدِهِمْ وَلاَ نَصِيفَهُ »[1].

ژباړه: زما صحابه مه کنځی.زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما روح دهغه په واک کې دی چې که چیرې ستاسې څخه یوکس داحد د غره په اندازه سره زر خیرات کړي نو د هغوی یو موټي خیرات ته نه رسیږي ، او نه یې نیم موټي خیرات ته رسیږي. په بل حدیث شریف کې پیغمبرﷺ فرمایلي دي: «اللَّهَ اللَّهَ فِي أَصْحَابِي اللَّهَ اللَّهَ فِي أَصْحَابِي لَا تَتَّخِذُوهُمْ غَرَضًا بَعْدِي فَمَنْ أَحَبَّهُمْ فَبِحُبِّي أَحَبَّهُمْ وَمَنْ أَبْغَضَهُمْ فَبِبُغْضِي أَبْغَضَهُمْ وَمَنْ آذَاهُمْ فَقَدْ آذَانِي وَمَنْ آذَانِي فَقَدْ آذَى اللَّهَ وَمَنْ آذَى اللَّهَ يُوشِكُ أَنْ يَأْخُذَه»[2].

ژباړه: زما د صحابه وو په اړه له الله ووېرېږئ، له الله ووېرېږئ، هغوی د خپلو ناوړه ویناوو نښه مه ګرځوئ، که څوک له هغوی سره مینه محبت لري نو زما د مینې او محبت له کبله پې ورسره لري او که څوک له هغوی سره کرکه، نفرت او دښمني لري نو له ماسره د کرکې، نفرت او دښمنۍ له کبله پې ورسره لري. او که څوک هغوی ته ضرر او تکلیف رسوي، نو یقینا چې ماته تکلیف او ضرر رسوي، او څوک چې ماته تکلیف او ضرر رسوي، نو یقیناً چې الله پاک ته تکلیف او ضرر رسوي. (له ځانه یې خپه کوي) او

١- سنن أبی داود

٢- الترمذي

ketabton.com - The Digital Library

خوک چې الله پاک ته تکليف او ضرر رسوي (خپه کوي يې) نو نژدې ده چې الله پاک به پې راونيسي.

فعاليت

په پورتني حديث کې پيغمبرﷺ څو مهم ټکي ذکر کړي دي، د هغو په هکله يو يو په نوبت خبرې اترې وکړئ:

١. د صحابه کرامو په باره کې له الله ﷻ څخه وويريږئ.
٢. صحابه کرام د خپلو ناوړه ويناوو نښه مه ګرځوئ.
٣. له اصحاب کرامو سره مينه کول په حقيقت کې د الله د رسول سره مينه ده.
٤. له صحابه وو سره دښمني په حقيقت کې له پيغمبر سره دښمني ده.

٥. د صحابه وو سره بغض ساتل منافقت دی

لکه څرنګه چې له صحابه وو سره مينه د ايمان نښه ده، همدا شان له صحابه وو سره بغض ساتل منافقت او سرکشي ده. امام طحاوي ليکلي دي: (وَبُغْضُهُم كُفْرٌ ونِفَاقٌ وطُغْيَـانٌ). له صحابه وو سره بغض ياکفر دی، يا نفاق، يا سرکشي او بغاوت دی.

دا په دې معنا چې که چيرې له صحابه وو سره بغض د دين اويا بې ځايه غوسې له املـه وو، نو بيا دا لوی کفر دی چې مسلمان پرې کافر کيږي. که چيرې دصحابه وو بد ګڼل او ورسره کينه ساتل د دنيا يې امورو په خاطر وي نو داکار بيا فسق دی.

له صحابه وو سره بغض ځکه نفاق دی چې پيغمبرﷺ فرمـايلي: «الْأَنْصَارُ لَا يُحِبُّهُمْ إِلَّا مُؤْمِنٌ وَلَا يُبْغِضُهُمْ إِلَّا مُنَافِقٌ»[1]. **ژباړه:** له انصارو سره مينه او محبت نه کوي مګر مؤمن او له دوی سره بغض اوکينه نه کوي مګر منافق.

بل دا چې صحابه ددين ساتونکي، ددين روزونکي، د کفر په مقابل کې جهـاد کـوونکي وو بغض ساتل ځکه منافقت دی چې دا کار د هغه وخت د منـافقينو خـصلت اوعـادت وو چـې صحابه به يې بد ګڼل.

١- صحيح البخاري

ketabton.com - The Digital Library

۱. اصحاب تعریف کړئ.
۲. د اصحابو د غوره والي په اړه دوه نقلي دلایل ذکر کړئ.
۳. له صحابه وو سره مینه کول څه حکم لري؟
٤. له صحابه وو سره بغض او کینه کول څه حکم لري؟

کورنۍ دنده:

زده کوونکي دې د صحابه وو په اړه یوه مقاله ولیکي چې له لسو کرښو کمه نه وي.

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

دولسم لوست

د صحيح او حسن حديثونو پېژندل

احاديث د روايت له مخې ډير ډولونه،او مختلفې مرتبې لري چې دهغې له جملې څخه يو صحيح ، بل حسن حديثونه دي نو اړينه ده چې د صحيح ،اوحسن حديثونو تعريف، اوتوپير وپيژنو.

۱ـ صحيح حديث

د صحيح حديث تعريف

په عربی لغت کې صحيح دمريض ضد ته وايي.

او د محدثينو په اصطلاح کې صحيح حديث: هغه حديث دی چې راويان يې عادلان، د کره ضبط او حافظې خاوندان، سند يې متصل، او د هر ډول علت، او شذوذ څخه خالي وي.

د تعريف شرحه

د صحيح حديث په اصطلاحي تعريف کې د پنځو شرطونو يادونه شوې چې وضاحت يې په لاندې ډول دی:

۱ـ د راويانو عدالت: دا په دی معنا چې د حديث ټول راويان به مسلمانان، عاقلان، بالغان وي، او د هر قسم فسق، او د مروت خلاف کارونو، او خصلتونو څخه به پاک وي.

۲ـ راويان به يې ضابطين او متقنين وي: معنا دا چې راويان به يې دداسې حافظې خاوندان وي چې احاديث به يې داسې کره يادوي چې کله يې د لوستلو اړتيا پيدا شي بې له کوم زيادت يانقصان څخه يې وړاندې کړای شي.

۳ـ دسند اتصال: هغه داسې چې ددی حديث هر راوي به حديث د مخکيني راوي څخه اوريدلی وي ،يا به يې پر هغه لوستلی وي، اويا به له مخکيني راوي څخه درواېت کولو اجازه ولري.

ketabton.com - The Digital Library

۴ـ د علت څخه پاکوالی: هغه داسې چې په حدیث کې به کوم داسې پټ عیب اوعلت نه وي[۱] چې دحدیث صحت تر سوال لاندې راولي.

۵ـ له شاذ والي څخه پاکوالی: یعنی حدیث به شاذ نه وي. شاذ هغه حدیث ته وایي چې مقبول راوي د خپلې مرتبې څخه د لوړې مرتبې د راوي پرخلاف روایت کړی وي.

د صحیح حدیث مثال

«قال الإمام البخاري: حَدَّثَنَا سُلَيْمَانُ بْنُ حَرْبٍ قَالَ حَدَّثَنَا شُعْبَةُ عَنْ قَتَادَةَ عَنْ أَنَسٍ –رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ– عَنْ النَّبِيِّ –صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ– قَالَ: ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ وَجَدَ حَلَاوَةَ الْإِيمَانِ مَنْ كَانَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا وَمَنْ أَحَبَّ عَبْدًا لَا يُحِبُّهُ إِلَّا لِلَّهِ.....»[۲]

ژباړه: امام بخاری رحمه الله تعالی وایي چې مونږ ته حدیث بیان کړی دی سلیمان بن حرب، هغه وایي چې مونږ ته حدیث بیان کړی شعبه ،شعبه له قتادة ،اوقتادة له انس بن مالکﷺ څخه روایت کوي انسﷺ وایي چې پیغمبرﷺ فرمایلی دي: (درې خویونه داسې دي چې په چاکې وي د ایمان په خوند به پوهه شي:چاته چې اللهﷻ او د هغه رسول تر هر چا ډیر محبوب وي، بل هغه څوک چې د یوشخص سره د اللهﷻ د رضامندۍ لپاره مینه کوي، او بل هغه څوک چې کفر ته اوړیدل ورته دومره بد ښکاري پس له هغې چې اللهﷻ ورته د کفر څخه خلاصی ورکړ، لکه څرنګه چې په اورکې واچول شي.)

دا حدیث ځکه صحیح دی چې راویان یې ټول عادلان، د کره حافظې خاوندان، سند یې متصل، او هیڅ ډول علت، او شذوذ په کې نشته.

۱ـ په سند کې دعلت څخه دپاکوالي نه مراد دا دی چې په سند کې کومه داسې پټه انقطاع نه وي موجوده چې په ظاهرکې ورڅخه سند پاک ښکاري، ځکه که چیرې په سند کې انقطاع موجوده وي نوبیا داسې حدیث ته منقطع ویل کیږي نه صحیح حدیث. ددې مثال امام ابن صلاح په لاندې حدیث کې داسې شرحه کوي:- عن عبد الرازق عن سفيان الثوري عن أبي إسحاق عن زيد بن يثيع عن حذيفة قال : قال رسول الله صلى الله عليه و سلم : (إن وليتموها أبا بكر فقوي أمين . .)).

که چیرې یو محدث د دې حدیث د سند ظاهر ته نظر وکړي نو ورته متصل ښکاري حال دا چې په دې سند کې دوه ځایه انقطاع موجوده ده: لومړی دا چې خپله امام عبدالرزاق دا حدیث له امام ثوري څخه نه دی اوریدلی، بلکه ده دا حدیث د النعمان بن ابي شيبه الجندي څخه اوریدلی دی. دوهم دا چې امام ثوری هم دا حدیث د ابو اسحاق څخه په خپله نه دی اوریدلی، بلکه ده دا حدیث له امام شریک څخه اوریدلی او بیا امام شریک له امام ابواسحاق څخه اوریدلی دی، نوپه سند کې پټه انقطاع پرته ده. (مقدمة ابن الصلاح - / ۳۳)

۲ - صحيح البخاري

ketabton.com - The Digital Library

فعاليت

زده كوونكي دې د پورتني حديث د راويانو نومونه واخلي.

۲ـ حسن حديث

دحسن حديث تعريف

په عربي لغت كې حسن دقبيح ضد ته وايې.

او د محدثينو په اصطلاح كې حسن: هغه حديث ته ويل كيږي چې راويان يې عادلان، مګر د كره ضبط او حافظې خاوندان نه وي، سند يې متصل، د هر ډول علت، اوشذوذ څخه پاك وي.

د حسن حديث شرطونه

د حسن حديث له تعريف څخه څلور شرطونه معلوميږي

۱ـ د راويانو عدالت.

۲ـ د سند اتصال.

۳ـ د شاذ والي څخه پاكوالى.

۴ـ د علت څخه پاكوالى.

د صحيح او حسن حديثونو ترمنځ توپير

كه چيرې د صحيح، او حسن حديثونو تعريف او شرطونو ته ځير شو نو كوم توپيرنه لري، يوازې د حسن حديث توپير له صحيح سره په دې كې دى چې دحسن حديث په راويانو كې يوكس د كره او قوي حافظې خاوند نه وي.

د حسن حديث مثال

قال الامام احمد: «حَدَّثَنَا عَبْدُ الرَّزَّاقِ أَخْبَرَنَا مَعْمَرٌ عَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ جَدِّهِ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ –صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ– يَقُولُ:(وَيْلٌ لِلَّذِي يُحَدِّثُ الْقَوْمَ ثُمَّ يَكْذِبُ لِيُضْحِكَهُمْ وَيْلٌ لَهُ وَوَيْلٌ لَهُ». [۱]

ژباړه: (امام احمد رحمه الله تعالى وايې چې مونږ ته امام عبدالرزاق حديث بيان كړى، عبدالرزاق وايې چې مونږ ته معمر حديث بيان كړى، هغه له بهز بن حكيم څخه روايت

۱ - مسند أحمد

ketabton.com - The Digital Library

کوي، هغه له خپل پلار حکیم چې بیا یې له نیکه څخه روایت کوي د بهز نیکه وایې چې ما له پیغمبرﷺ څخه اوریدلي چې ویل یې: هلاکت دې وي هغه شخص ته چې خلکو سره کله خبرې کوي نوددې لپاره ورته دروغ وایي چې هغوی وخندوي، هلاک دې شي، او هلاک دې شي داسې شخص.)

د دې حدیث سند متصل، د شاذ والي ، او علت څخه خالي دی، راویان یې عادلان دي، مګر یوازې د بهز ابن حکیم راوي په ضبط او حافظه کې کمزوري وه، له دې امله دا حدیث حسن حدیث بلل کیږي.

د صحیح اوحسن حدیثونو حکم

صحیح ، او حسن حدیثونه دواړه شرعي دلایل دي او عمل پرې واجب دی.

پوښتنې:

۱ـ صحیح حدیث تعریف کړئ.

۲ـ د صحیح حدیث شرطونه څودي؟

۳ـ د صحیح اوحسن حدیثونو ترمنځ څه توپیر دې واضح یې کړئ.

۴ـ د صحیح ، اوحسن حدیثونو حکمونه وواياست.

کورنۍ دنده:

د صحیح او حسن حدیثونو تعریفونه په یادو زده کړئ.

ketabton.com - The Digital Library

ضعیف حدیث

د اسلام د دین له ځانګړتیاوو څخه یوه دا ده چې هرحکم ېې پرسند ولاړ دی، هیڅ داسې وېنا اوعمل پکې نشته چې پر دلیل ولاړ نه وي، که چیرې په کومه وینا کې چې پیغمبرته ېې نسبت کیږي د کمزورۍ نښه لیدل کیږي او په روایت کې ېې ستونزه وي، د دین علماوو داسې روایات په ګوته کړي دي، ترڅو پرې څوک د صحت حکم ونکړي.
حدیث ته د کمزورۍ نسبت له دې کبله کیږي چې د روایت په سلسله کې ېې قوت نه وي، او ځینې داسې لاملونه ېې ترڅنګ شتون لري چې پیغمبر ته ېې په نسبت کولو کې خنډ واقع کیږي.

د کمزوري حدیث تعریف: هغه حدیث ته ویل کیږي چې په هغه کې د صحیح اوحسن شرطونه نه وي[1].

د تعریف شرحه: له کمزوري حدیث څخه مراد هغه حدیث دی چې په سند کې یې انقطاع وي اویا داسې راوي پکې وي چې د اعتماد وړ نه وي، د بیلګې په توګه لکه په دیانت اوریښتونولۍ باندې ېې اعتراض وي اویا حافظه ېې کمزورې وي، لدې املـه هغه وېنا اوکړنه چې نسبت ېې پیغمبرته کیږي، د روایت په لړ کې ېې ستونزې وي هغه ته کمزوري حدیث ویل کیږي.
د کمزوري حدیث مثال: (**حدثنا أحمد قال حدثنا داود بن رشيد قال حدثنا بقية بن الوليد عن معاوية بن يحيى عن سليمان بن مسلم عن أنس بن مالك قال قال رسول الله: احترسوا من النـــاس بسوء الظن**)[2].
ژباړه: په بد ګماني سره له خلکو څخه ځان وژغورئ.

۱- هغه شرطونه: د سند اتصال، د راویانو عدالت، د هغوی حافظه، د علت او شذوذ څخه پاکوالی.
۲ – د طبرانی المعجم الأوسط، په روایت کې ېې معاویه بن یحی دی هغه ضعیف دی . ابن حجر.

ketabton.com - The Digital Library

د ضعيف حديث حكم

د كمزوري حديث روايت او پرې عمل هغه مهال روا دی چې كمزوري پې ډيره زياته نه وي، په فضايلو (ترغيب، او ترهيب) پورې اړه ولري، د اسلام عام اصل پې تاييد كوي اوله هغه سره هيڅ ډول ټكر ونلري.

د ضعيف حديث ګټه

په فضايلو كې ضعيف حديث چې ډېر ضعف ونلري، د دې وړ دی چې عمل پرې وشي، اوهمداراز د دې حديث په غوښتنه په عمل كولو سره د ثواب اميد هم كيدای شي، كه چيرې د دين له اصولو سره ټكر ونلري.

پوښتنې:

۱ – ضعيف حديث تعريف كړئ.

۲ – په كومو شرطونو د ضعيف حديث روايت صحيح دی؟

۳ – ضعيف حديث څه ګټه لري؟ بيان يې كړئ.

ketabton.com - The Digital Library

موضوع حديث

د پيغمبر وېنا وحي ده او په اسلام کې دويم مأخذ دی، لـدې کبلـه د پيغمبـر پـه احـاديثو کې علماوو پوره زيار ايستلی او دقت يې کړی دی، هغه صحيح احاديث چې لـه پيغمبـر څخه ېې روايت شوی دی، له جوړو شـوو خبـرو څخـه لـرې کـړي او پـدې اړه د ديـن علماء بريالي شوي دي چې په دلايلو سره موضوعي احاديث د صحيحو احاديثو له لړۍ نه لرې کړي.

د موضوع حديث تعريف: هغه له ځانه جوړ شوي حديث ته ويل کيږي چې پرته له کوم اساسه ېې پيغمبر ته نسبت شوی وي.

د تعريف شرحه

له پورتني تعريف څخه دا څرګنده شوه چې موضوع حديث هغو خبرو او کړنوتـه ويـل کيږي چې ځينو خلکو پرته له کوم سنده په پيغمبر پورې تړلی وي او هغه تـه ېـې نـسبت کړی وي، د تاريخ په اوږدو کې ځينې داسې دروغجـن خلـک وو چـې پـه رسـول الله ﷺ پورې ېې دروغ تړلي ، ځينو د خپل تعصبي نظر پياوړي کولو، ځينو د ديندارۍ په نيـت د ځينو اعمالو د فضايلو په بيان کـې او ځينـو نـورو د فـساد او دښـمنۍ لپـاره دا کـار سـرته رسولی دی.

د موضوع حديث حکم

د موضوع حديث روايت او وربانديې عمل کول ناروا دي، ځکه چې د دې حديث بيانول په خپله ويونکي ته تاوان رسوي او هغه داسې چې کله څوک يو موضوع حديث بيانوي، هغه ته دروغجن وېل کيږي، لکه څرنګه چې په حديث شريف کـې راغلـي دي: «مَـنْ حَدَّثَ عَنِّي بِحَدِيثٍ وَهُوَ يَرَى أَنَّهُ كَذِبٌ فَهُوَ أَحَدُ الْكَاذِبِينَ.» [1]

ژباړه: څوک چې زما (پيغمبر) لخوا خلکو تـه وينـا کـوي او هغـه پـوهيږي چـې دا وينـا دروغ ده (د پيغمبر حديث نه دی) دا کس په خپله يو له دروغ ويونکو څخه دی.

---

١ – المعجم الكبير.

ketabton.com - The Digital Library

خو د موضوع حديث د پېژندلو اود خلکو د پوهاوي لپاره که چيرې اړتيا ليدل کيږي بيانول پې جواز لري، ترڅو خلک پدې پوه شي چې دغه وينا حديث نه، بلکې له ځانه جوړه شوې وينا ده.

د موضوع حديث پېژندنه

موضوعي حديث په لاندې توګه معلوميږي

۱ – کله چې وضعه کوونکی پې په خپله اعتراف وکړي چې دا حديث ده جوړ کړی دی.

ب – داسې معنا ولري چې د وقوع امکان پې لرې بريښي، لکه د دوو متضادو شيانو يوځای کېدل.

ج – له هغو مسايلو سره مخالف واقع کېدل چې په دين کې خورا مهم ځای کيږي، لکه د اسلام له يو رکن څخه انکار کول.

د وضعه شوي حديث مثال

– " الْفَقرُ فَخرِي وَبِهِ أَفتَخِرُ "[۱].

ژباړه: فقر زما ویاړ دی، زه پرې ویاړم.

د وضعې اسباب

له ځانه حديث جوړول او بيا پې پيغمبر ته نسبت کول، يوشمېر لاملونه لري چې په لاندې توګه بيانيږي.

۱ – ځينې داسې خلک وو چې له ځانه پې عجيبه قصې جوړولې، بيا به پې نسبت پيغمبرﷺ ته کاوه او خلکو ته به پې په مجالسو کې اورولې، تر څو له دې لارې په خلکو کې شهرت پيدا کړي او د قدر وړ وګرځي.

۲ – د دين دښمنانو هم زيار ايسته چې له دې لارې په اسلام باندې طعن وارد کړي، او خپلو شومو اهدافو ته د رسيدو په خاطر پې له ځانه حديث جوړول او بيا پې پيغمبرﷺ ته نسبت کاوه.

۳ – ځينې داسې خلک وو چې د دې لپاره چې د وخت واکمنانو ته ځان نيږدي کړي، د هغوی د خوشحاليدو لپاره پې خبرې جوړولې او بيا به پې د حديث سرليک ورکاوه.

---

۱ – ابن حجر وايي: دا موضوعي حديث دی هيڅ اساس نه لری، همداراز امام صنعانی وايي: په دروغو جوړ شوی دی.

ketabton.com - The Digital Library

٤ – ځينې ډلو د خپلې تګ لارې د تاييد لپاره، احاديث جوړ کړل ترڅو وښيي چې د دوی تګ لاره په حقه ده او د اسلام له نظره ستونزه نه لري.

۵– ځينو په نفلي عباداتو کې د افراط کولو په نيت او د بې ځايه ديندارۍ له کبله د اعمالو په فضايلو کې حديثونه جوړول.

د موضوع او ضعيف تر منځ توپير

موضوعي حديث هغه بې بنسټه خبره ده چې په دروغو يې نسبت پيغمبر ته شوی وي، په دين کې هيڅ حيثيت نلري، آن تردې چې وېل يې هم ګناه لري، که چېرې د پوهاوي لپاره نه وي.

اوضعيف حديث د څه لاملونو له کبله کمزورۍ ګڼل کيږي اوکه چيرې د دين له اصولو سره ټکر ونلري، د دې وړ دی چې په فضايلو کې پرې عمل وشي او همداراز په نورو روایاتو سره د کمزورۍ له مرحلې (پرې) څخه هم وتلای شي.

پوښتنې:

١ – موضوع حديث څه ته وايي؟ بيان يې کړئ.

٢ – په کومو لارو موضوعي حديث پېژندل کيږي؟

٣ – د موضوع حديث حکم وواياست.

٤ – آيا کمزورۍ حديث له موضوعي حديث سره توپير لري؟ واضح يې کړئ.

ketabton.com - The Digital Library

د احاديثو مشهور کتابونه

د احاديثو د کتابونو ډولونه

د احاديثو کتابونه د ترتيب په اعتبار سره په دوه ډوله دي: پر بابونو مشتمل کتابونه او مسانيد.

۱ـ پر بابونو مشتمل کتابونه

دا هغه کتابونه دي چې د پيغمبرﷺ احاديث په کې د بابونو اوکتابونو په شکل کې راټول او په بيلا بيلو طريقو ليکل شوي دي:

آ ـ ځينې يې داسې دي چې په علم او دين پورې اړوند ټول بابونه يکې ځای پر ځای شوي دي، لکه د تعليم او تعلم برخه، د عقايدو برخه، فقهي احکام، زهد او تقوی، آداب او اخلاق، تفسير، تاريخ او نبوي سيرت، پېښيدونکې فتنې، د صحابه وو مناقب، دغه ډول کتابونو ته جوامع ويل کيږي، لکه د امام بخاري جامع، د امام مسلم جامع او د امام ترمذي جامع.

ب ـ ځينې يې داسې دي چې يوازې د فقهي کتابونو په ترتيب ليکل شوي او يوازې هغه احاديث په کې راټول شوي دي چې په فقهي مسايلو پورې اړه لري. دې ډول کتابونو ته سنن وايي، لکه سنن ابي داود، سنن نسائی، سنن ابن ماجه، سنن دارمي، او داسې نور.

ج ـ هغه کتابونه چې په يوه ځانګړې موضوع پورې اړونده احاديث يکې راټول شوي وي، لکه يوازې د عقايدو په برخه کې، يا د اخلاقو او آدابو په برخه کې. له دې جملې څخه (**کتاب السنة**) د امام احمد بن حنبل – رحمه الله – کتاب چې په عقيدې کې يې ليکلی او (الادب المفرد) د امام بخاري کتاب چې په آدابوکې يې ليکلې دی د يادونې وړ دي.

۲ـ مسانيد

مسانيد دمسند جمع ده اومسند هغه کتاب ته ويل کيږي چې د هر صحابي روايات په کې بيل بيل ذکرشوي وي.

مسانيد په دوه ډوله دي.

ketabton.com - The Digital Library

آ- يو هغه ډول مسندونه دي چې د مسند ليکونکی حديث شروع له صحابي څخه کـوي، او د هر يو صحابي روايات د نورو صحابه وو د رواياتو څخه جدا ذکر کوي، لکه د امـام احمد بن حنبل مسند او د ابوداود طيالسي مسند.

ب ـ بل هغه ډول مسندونه دي چې د سند د لومړۍ برخې څخه شروع کوي. يعنی دمسند مؤلف حديث دخپل شيخ، يا استاد څخه پيل کوي او يوازې هغه حديثونه ذکر کوي چې د خپلو استادانو او يا شيوخو څخه يې اوريدلي وي، لکـه د امـام طبرانـي المعجـم الکبيـر، المعجم الاوسط او المعجم الصغير.

د ځينو مشهورو صحيحو کتابونو پېژندنه او ځانګړتياوې

۱ـ صحيح البخاري

دا د محمد بن اسماعيل البخاري (المتوفی: ۲۵۶هـ) کتاب دی چې په (الجـامع الـصحيح) شهرت لري.

له قرآن کريم څخه وروسته تر ټولو معتبر او صحيح کتاب دی، دا لومړنی کتاب دی چې يوازې پکې د رسول اللهﷺ متصل السند احاديث راجمع کړای شوي دي.

د احاديثو شمېره يې له تکرار سره (۷۳۹۷) او له تکرار څخه پرته (۲۷۶۱)ده.

صحيح البخاري خورا زياتې شرحې لري، چې مشهورې شرحې يې فتح الباري د امام ابن حجر عسقلاني او عمدة القاري د بدر الدين عيني دي.

۲ـ صحيح مسلم

د دې کتاب ليکوال ابو الحسين مسلم بن حجاج نيشاپوری قشيري (المتـوفی:۲۶۱هــ) دی چې د امام بخاري له تکړه شاګردانو څخه هم وو.

صحيح مسلم د امام بخاري له کتاب څخه وروسته دويم کره کتاب دی.

د احاديثو شمېره يې له تکرار سره (۷۷۴۸) او بې له تکراره (۳۰۳۳) ده.

صحيح مسلم هم زياتې شرحې لري، لکه الاکمال د قاضي عياض رحمة الله عليه، المفهم د امام قرطبي -رحمة الله تعالی- او مشهوره يې المنهاج د امام نووي -رحمة الله عليه- شـرحه ده.

ketabton.com - The Digital Library

۳ـ سنن ابي داود

مؤلف يې سليمان بن اشعث سجستاني (المتوفى:۲۷۵هـ) دی.

د دې کتاب مؤلف احاديث د پنځو لکو حديثونو له جملې څخه رابيل کړي دي. امام ابو داود -رحمه الله- د خپل کتاب په اړه داسې وايي:(ما په دې کتاب کې يوازې صحيح احاديث يا هغه چې صحيحو احاديثو ته ورته والی لري ذکرکړي دي. که چيرې په کوم ځای کې کومه کمزوري ليدل کيږي هغه مې په ګوته کړي ده. د کومو احاديثو په باره کې که چوپ پاتې شوی يم هغه هم د عمل وړ دي.)

په دې کتاب کې زياتره هغه احاديث راوړل شوي چې په فرعي او فقهي مسايلو پورې تړاو لري. ټول پکې (۵۲۷۴) حديثونه راټول شوي دي. دا کتاب هم ډيرې شرحې او حاشيې لري چې مشهوره يې معالم السنن د امام خطابي (رحمه الله تعالى) شرحه ده.

۴ـ جامع الترمذي

ددې کتاب ليکوال امام ابو عيسى محمد بن عيسى بن سوره الترمذي (المتوفى:۲۰۹هـ) دی.

مؤلف په خپل کتاب کې صحيح، حسن او ځينې ضعيف احاديث ذکر کړي او د هر يو حديث درجه يې بيان کړې ده، او د دې تر څنګ يې د صحابه وو، او تابعينو مذاهب هم بيان کړي دي. امام ترمذي - رحمه الله تعالى- د خپل کتاب په اړه وايي: (کله مې چې دا کتاب وليکه نو د حجاز، عراق او خراسان علماوو ته مې وړاندې کړ چې ټولو خوښ کړ. د هر چا په کور کې، چې دا کتاب پروت وي لکه چې پيغمبرﷺ په خپله د ده په کورکې شته او خبرې کوي.)

په جامع الترمذي کې ټول (۳۹۵۶) حديثونه دي. جامع الترمذي زياتې شرحې او حاشيې لري، لکه عارضة الاحوذي د امام ابن العربي- رحمه الله - شرحه، **تحفة** الاحوذي د علامه مبارکپوري شرحه.

۵ـ سنن نسائي

دا کتاب د امام ابو عبدالرحمن احمد بن شعيب النسا ئي (المتوفى:۳۰۳هـ) ليکنه ده.

ketabton.com - The Digital Library

زياتره احاديث پې صحيح دي، آن تر دې چې ځينو علماوو دا کتاب په سنن ابي داود او سنن ترمذي هم غوره بللی. ټول په کې د تکراره سره (۵۷۶۱) حديثونه راغلي دي.

۶ـ سنن ابن ماجه

ليکونکی پې ابو عبدالله محمد بن يزيد ابن ماجه قزويني (المتوفی:۲۷۳) دی.

ددې کتاب مرتبه د ذکر شوو کتابونو په پرتله ټيټه ده.

د احاديثو مجموعه پې (۴۳۴۱) ده، هغه احاديث چې يوازې ده ذکر کړي دي او نورو پنځوکتابونو نه دي ذکرکړي (۱۳۳۹) حديثونه دي.

۷ـ د امام مالک -رحمة الله تعالی- موطأ

دا کتاب په خپله امام مالک بن انس (رحمه الله تعالی) چې د څلورو مشهورو امامانوڅخه دوهم امام دی، ليکلی او خپلو شاګردانو، ته به پې په مسجد النبوي کې له هغه تدريس کاوو. لوی لوی امامان به د موطأ تدريس ته ناست وو. امام شافعي رحمه الله تعالی چې موطأ پې په يادو زده کړې وه وايي: (ماته د الله ﷻ له کتاب څخه وروسته له موطأ نه پرته بل کتاب ډير صحيح نه ښکاري).البته ده دا خبره هغه وخت کړې وه چې دامام بخاري او امام مسلم صحيحين نه وو ليکل شوي. په موطأ کې د پيغمبر ﷺ په متصلو احاديثو برسيره، مرسل حديثونه، د صحابه وو اوتابعينو اقوال هم ذکرشوي. دموطأ ترتيب د فقهي کتابونو په څير دی.

۸ـ د امام احمد (رحمة الله عليه) مسند

د دې مسند مؤلف امام احمد بن حنبل شيباني دی چې د څلورو مشهورو امامانوڅخه څلورم امام دی.

امام احمد -رحمة الله عليه- د خپل مسند په هکله فرمايي: ما د دې مسند احاديث د اوو لکو احاديثو[1] له جملې څخه انتخاب کړي دي. که د کوم حديث په اړه د مسلمانانو

۱ـ ګران زده کوونکي بايد په دې پوه شي: کله هم چې په احاديثو کې د لکونو عدد ذکر کيږي، له هغه څخه د سند په اعتبار حديث مراد وي، نه د متن په اعتبار، ځکه د متن په اعتبار د مرفوعو احاديثو شمېر چې تکرار پې په نظر کې ونه نيول شي په زرګونو

ketabton.com - The Digital Library

ترمنځ اختلاف پيداشي، نوپه دې مسندکې دې د هغې حل ولټوي، که چيرې ېې د هغې حل په کې ونه موند، نو بيا دغه حديث صحت نه لري. د امام احمد -رحمة الله عليـــه- پـه مسند کې څه کم ديرش زره احاديث راجمع شوي دي.

پوښتنې:

۱ـ د احاديثو کتابونه د ترتيب په بناء په څو ډوله دي؟
۲ـ جوامع کومو کتابونو ته ويل کيږي؟ نومونه ېې واخلئ.
۳ـ امام ابو داود دخپل کتاب په هکله څه وايي؟
۴ـ د امام ترمذي دکتاب په باره کې معلومات وړاندې کړئ.
۵ـ تر ټولو لوی مسند د چا مسند دی او څو احاديث لري؟

دی، لکونو ته نه رسيږي، خو څرنګه چې يو متن په مختلفو سندونو راغلی وي، نو هر سند ته په پاملرنه که هغه ټولې لارې ېېل ېېل حديثونه وګڼل شي، او د متن تکرار ته ونه کتل شي، په دې توګه د احاديثو شمېر بيا لکونو ته رسيږي.

ketabton.com - The Digital Library

مسؤوليت

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ كُلُّكُمْ رَاعٍ وَمسؤول عَنْ رَعِيَّتِهِ فَالْإِمَامُ رَاعٍ وَمسؤول عَنْ رَعِيَّتِهِ وَالرَّجُلُ فِي أَهْلِهِ رَاعٍ وَهُوَ مسؤول عَنْ رَعِيَّتِهِ وَالْمَرْأَةُ فِي بَيْتِ زَوْجِهَا رَاعِيَةٌ وَهِيَ مسؤولةٌ عَنْ رَعِيَّتِهَا وَالْخَادِمُ فِي مَالِ سَيِّدِهِ رَاعٍ وَهُوَ مسؤول عَنْ رَعِيَّتِهِ قَالَ فَسَمِعْتُ هَؤُلَاءِ مِنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَحْسِبُ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَالرَّجُلُ فِي مَالِ أَبِيهِ رَاعٍ وَمسؤول عَنْ رَعِيَّتِهِ فَكُلُّكُمْ رَاعٍ وَكُلُّكُمْ مسؤول عَنْ رَعِيَّتِهِ. رواه البخاري

د راوي پېژندنه

عبدالله بن عمر بن الخطاب رضي الله تعالى عنه د بعثت په دريم کال زيږيدلی دی. لس کلن وو چې هجرت يې وکړ. دبدر او احد له غزا څخه د عمر د کموالي له کبله ايسار کړی شو، بيا د خندق غزا کې، چې پنځلس کلن شوی وو، شريک شو. د دين له امامانو او زاهدانو څخه وو، تل به يې حج کاوه، په کلکه به يې د پيغمبرﷺ پلونه او آثار تعقيبول، قيام الليل (دشپې لمونځ) او تلاوت به يې ډېر کاوه. له رسول اللهﷺ څخه يې ډېر احاديث روايت کړي دي. د (۸۷) کالو په عمر په (۷۲) يا (۷۳) هجري کال وفات شو.

د ځينو کلماتو معنا

۱_رَاعٍ: شپون، ساتونکی، مسؤول او واکمن

۲_رَعِيَّة: ولس، لاس لاندې خلک

۳_مسؤول: پوښتل شوی او ځواب ويونکی

٤_أَحْسِبُ: ګومان اوفکرکوم

٥_فَكُلُّكُمْ: نو تاسې هر يو

د حديث ژباړه

عبدالله بن عمر رضي الله عنهما وايي، له رسول اللهﷺ څخه يې واوريدل چې ويل يې: تاسو هر يو رعيت لرئ او د خپل رعيت په هکله مسؤول ياست، پادشاه رعيت والا دی او د خپل رعيت مسؤول دی، خاوند په کورکې رعيت لري او هغه د خپل رعيت مسؤول

ketabton.com - The Digital Library

دی، میرمن د خاوند په کور کې رعیت لري او د خپل رعیت مسؤوله ده، خادم د خپل بادار د مال په اړه رعیت لري او دخپل رعیت مسؤول دی. عبدالله بن عمر صاحب وایي: دغه ټول مې له رسول الله ﷺ څخه واوریدل او فکر کوم دایې هم وویل چې زوی د خپل پلار په مال کې د رعیت څښتن دی او د خپل رعیت مسؤول دی، په دې توګه ستاسې هریو د رعیت څښتن او ستاسې هر یو د خپل رعیت مسؤولیت په غاړه لرئ.

دحدیث حکمت

په اسلامي نړۍ لید او تصور کې انسان مهمل او بې هدفه نه دی پیدا شوی. دلته هر انسان مسؤولیت لري، نارینه وي که ښځه، پادشاه وي، که ګدا، خادم وي که مخدوم...
که هرڅوک وي اسلام پرې ځانګړي وجائب او مسؤولیتونه ایښي او د هغو په ادا کولو بې مکلف کړی دی. الله تعالی به د حساب او کتاب په ورځ ترې پوښتنه کوي او د هغو جزا به ورکوي.
پر پادشاه باندې اسلام د خپل رعیت په هکله مسؤولیتونه ایښي، پر پلار او مور باندې د اولادونو په اړه، پر اولادونو باندې د مور او پلار په اړه، پر خاوند د میرمنې په اړه او په میرمنې د خاوند په اړه... په دې توګه پر هر انسان باندې بې مسؤولیتونه ایښي او د هغو په اړه تري پوښته کیږي.

فعالیت:

فکروکړئ چې کوم کوم انسان مسؤولیت نه لري په نوبت سره بې نومونه واخلی.

د حدیث شریف ګټې

د مسؤولیت د ارزښت له کبله رسول الله ﷺ دغه مسأله صحابه کرامو ته واوروله او امت ته بې د تلپاتې درس په توګه پریښوده.
د حدیث په سر کې رسول الله ﷺ د عمومي مسؤولیت یادونه په اجمالي توګه کړې چې: (کلکم راع و مسؤول عن رعیته) له هغه وروسته بې یو شمیر ډېر مهم مسؤولیتونه، چې په ټولنه کې ډېره اغیزه لري، په ټاکلې توګه په ګوته کړي. امام اوپاچا او د هغه مسؤولیتونه د کورنۍ دوه مهم مسؤولین پلار او مور یا خاوند او میرمن او د هغوی مسؤولیتونه او

ketabton.com - The Digital Library

عمومي کارکوونکي او د هغوی مسؤوليتونه او د حديث په پای کې ېې د عمومي مسؤوليت ټينګار بيا تکرار کړی.

۱ـ د امام او پاچا مسؤوليتونه

له امام څخه مطلب پاچا، امير او خليفه دی. د خليفه او امير ځانګړي مسؤوليتونه عبارت دي، له: د دين إقامه، دشرعي احکامو پلي کول، په عدل او انصاف سره حکومت کول، د رعيت عامه ګټې او مصلحتونه خوندي کول، امن او امان ساتل، د ژوند داسانتياوو برابرول او د خپل رعيت په اړه د شفقت، مهربانۍ او خير غوښتنې چلن.

۲ـ د پلار مسؤوليتونه

دخپلې مېرمنې او اولاد نفقه، جامې او نور لګښت برابرول، د هغوی تعليم او روغتيا ته پاملرنه، د هغوی عبادتي، اخلاقي کړو وړو او روزنې ته پاملرنه، په ځانګړې توګه د هغوی لمانځه، تلاوت، او ديني مطالعې ته پام او په عمومي توګه له هغوی سره د رحمت، شفقت او ښه او خوارۍ سلوک چلن.

۳ـ د مور مسؤوليتونه

مور په خپل وار د کور او اولادونو په اړه مسؤوليت لري. نن سبا، چې ډېر نارينه د ورځې زياته برخه له کوره بهر په کارونو بوخت وي، د کور او اولادونو په اړه د مور مسؤوليت لا درنيږي.

د کور د ننه چارو ښه سنبالول، د اولادونو روزنه، د اخلاقي مفاسدو مخنيوی، د ميلمنواستقبال او د هغوی اکرام او درناوی، د خپل ځان، نجونو او هلکانو پت، عزت او اسلامي وقار او عفت ساتل او داسې نور.

ښځه او خاوند د کور په ډېرو مسؤوليتونو کې سره شريک دي. له دې امله ښايي د دواړو ترمنځ د خپلو مسؤوليتونو د اداء کولو په هکله سلا مشوره پوره او بشپړ تعاون موجود وي.

٤ـ د خادم مسؤوليتونه

په همدې توګه خادمان، کارګران، مزدوران او په عمومي توګه يو له بل سره کار کوونکي د ښه خدمت، امانت، رښتينولی، متقابل احترام، خيرغوښتنې او خواخوږی

ketabton.com - The Digital Library

مسؤوليتونه په غاړه لري، تر څو د ژوند عامې چارې د مينې، وروري او احترام په فضا کې روانې وي.

۵_هيڅوک بې رعيته او بې مسؤوليته نشته

په مکلفو انسانانوکې د رعيت لرل او مسؤوليت لرل يو نسبي امر دی. کيدای شي يو څوک په يو وخت کې خپل رعيت او مسؤوليت هم ولري او د بل چا تر رعيت او مسؤوليت لاندې هم وي، خو دا نشي کېدای چې يو څوک دې هيڅ ډول رعيت او مسؤوليت ونه لري. آن تر دې چې که يو څوک يوازې هم ژوند کوي، نه ښځه، نه خاوند، نه اولاد، نه خادم او نه بل څوک ورسره وی، بيا هم دی د خپل ځان او د بدن د غړو او حواسو مسؤوليت په غاړه لري. بايد د هغو حفاظت او ساتنه وکړي. "إن لجسدک عليک حقا" بدن دې پر تا حق لري. په دې توګه چې د روغتيا او پاکوالي خيال پې بايد وساتي، له عقيدې نيولې تر عباداتو او اخلاقو پورې شرعي اوامر پرځای کړي او په منهياتو او منکراتو کې پې ونه کاروي. د الله پاک او بنده ګانو حقونه په کې پرځای کړي. له دې امله په يوازيتوب کې هم د رعيت څښتن دی، بدن، غړي او حواس پې رعيت دی او دی د هغو په هکله مسؤول دی.

فعاليت:

که څوک خپل مسؤوليت ادا نه کړي په ټولنه پې بدې اغيزې څه دي؟ ځواب ووياياست.

پوښتنې:

۱_دحديث راوي معرفي کړئ.

۲_حديث شريف ترجمه کړئ.

۳_د راعي، مسؤول او رعيت معنا ووياياست.

٤_د امام او پادشاه مسؤوليتونه کوم دي او ولې د پادشاه يادونه په ځانګړې توګه شوې؟

کورنی دنده:

پورتنی حديث په خپلو کتابچو کې وليکئ او په يادو پې زده کړئ.

ketabton.com - The Digital Library

اوولسم لوست

اووه هلاکوونکي ګناهونه (۱)

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَأَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اجْتَنِبُوا السَّبْعَ الْمُوبِقَاتِ قِيلَ يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَا هُنَّ قَالَ الشِّرْكُ بِاللَّهِ وَالسِّحْرُ وَقَتْلُ النَّفْسِ الَّتِي حَرَّمَ اللَّهُ إِلَّا بِالْحَقِّ وَأَكْلُ مَالِ الْيَتِيمِ وَأَكْلُ الرِّبَا وَالتَّوَلِّي يَوْمَ الزَّحْفِ وَقَذْفُ الْمُحْصِنَاتِ الْغَافِلَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ. رواه البخاري

د راوي پېژندنه

ابوهريره عبد الرحمن بن صخر الدوسيﷺ، د خيبر د غزا په کال ېې اسلام راوړ او د خيبر په غزا کې شريک شو، مديني ته ېې هجرت کړی او دنبوي مسجد په صفه کې اوسيده. ځان ېې د رسول اللهﷺ صحبت ته وقف کړی وو، په همدې خاطر ېې له رسول اللهﷺ څخه تر ټولو زيات احاديث روايت کړي دي. يوه پيشکه ېې لرله چې کله کله به ېې لستونې کې وړه چې له همدې کبله په ابوهريره (د پيشو څښتن) باندې مشهور شو. د عمر رضي الله تعالى عنه په خلافت کې د بحرين والي وو او په (۵۸) هجري کال د عقيق په سيمه کې د (۷۸) کالو په عمر وفات شو.

د ځينو کلماتو معنا

۱_**الْمُوبِقَاتِ**: د **موبقة** جمع ده، **موبقة** د اسم فاعل لفظ دی، معنا ېې ده: هلاکوونکي، تباه کوونکي.

۲_**التَّوَلِّي**:د مصدر لفظ دی، شا اړول، مخ ګرځول، تيښته او فرار کول.

۳_**الزَّحْفِ**:په ناسته څښيدو او تګ ته وايي. دلته د دوو لښکرو نژدې کيدل او يوځای کېدل تري مراد دی.

٤_**قَذْف**: د مصدر لفظ دی، ويشتلو او غورځولو ته وايي، دلته تري مراد په پاک لمنو ښځو پوري د زنا او بې حيايۍ تور ټړلو ته وايي.

۵_**الْمُحْصِنَات**: د **محصنة** جمع ده، معنا ېې ده: پاک لمنه او عفيفه ښځه.

٦_**الْغَافِلَاتِ**:د **غافلة** جمع ده او **غافلة** د اسم فاعل صيغه ده معنا ېې ده: ناخبره.

ketabton.com - The Digital Library

د حدیث ژباړه

له ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: له اوو هلاکونکو څخه ځانونه وژغورئ! پوښتنه وشوه: ای د الله رسوله، هغه څه شی دي؟ ﷺ وفرمایل: الله پاک سره شریک نیول، کوډې کول، په ناحقه سره انسان وژل، د یتیم مال خوړل، سود او ربا خوړل، د غزا او جګړې له ډګر څخه تیښته او فرار او په مؤمنو او پاک لمنو ناخبرو ښځو پورې د زنا او بې حیایۍ تور تړل.

د حدیث حکمت

ګناه که هر څه وي، له الله تعالی څخه سرغړونه او نافرماني ده، ځکه خو ګناه که وړه وي او که سترە، بد عمل دی.

ځینې ګناهونه نسبتا واړه وي او که کله هم له چا څخه صادرې شي نو د ورپسې نیکو عملونو له امله له منځه ځي، خو ځینې ګناهونه دومره خطرناک او هلاکوونکي وي چې څوک ترې په ژښتیا توبه ونه باسي، نو په یقیني توګه انسان هلاکوي. په پورتني مبارک حدیث کې ددغسې هلاکوونکو ګناهونو یادونه شوې ده.

فعالیت

په ګروپي شکل د کبیره ګناهونو نورې پنځه نمونې وواياست.

د حدیث شریف ګټې

۱ـ له الله ﷻ سره شریک نیول ستر ظلم دي

له الله پاک سره دهغه په ذات، صفاتو او اسماوو کې بل څوک شریکول.

له الله سره شریک نیول ستر ظلم دی. شرک د انسان ټول نیک عملونه له منځه وړي، الله تعالی هیڅکله شرک نه ښبي او نورګناهونه چې یې چاته خوښه شي ښبي یې.

په قرآن کریم او احادیثو کې لاندې عملونه له الله پاک سره شرک ګڼل شوی دی:

- له الله پرته پر مخلوق باندې لوړه او قسم کول، لکه: په زیارت قسم، د زوی یا پلار په سر قسم، په شرافت قسم، په وجدان قسم او داسې نور.
- کوډې او هغه دمونه او تعویذونه چې په کې شرکي الفاظ استعمال شوي وي.
- بد فالي نیول
- د ریاء لپاره لمونځ، روژه او زکاة ورکول

ketabton.com - The Digital Library

○ په دی عقیده د کونجکو، هډوکو، ښکرونو او داسې نورو شیانو په غاړه کې اچول، چې دا د نظر لګیدو اونورو آفاتو مخنیوی کوي.

۲ـ د سحرحقیقت، دنیوي او اخروي زیانونه یې

د اسلام مبارک دین په اصلاح او خیر رسولو ټینګار کوي، په حقیقتونو ولاړ دین دی چې له هر قسمه وهمونو، خیالونو، او بې ځایه ویریدلو څخه خلک منع کوي.

کوډې چې د وهمونو، خیالونو عقیدوي بې ثباتی، فتنو او فساد خپرولو، نورو ته د بدني، روحي، اجتماعي زیان رسولو څخه عبارت دي، د هغه زده کړه او نورو ته یې ورښوول خورا حرام دي حتی په ځینو حالاتو کې انسان کفر ته پرې رسیږي. دا هغه ناوړه عمل دی چې د امام ابوحنیفه رحمه الله په قول د کوډګر سزا یواځې قتل دی.

په حدیث شریف کې راغلي: چا، چې فال وکوت او چا ته چې فال وکتل شو، چا چې غیب ویل کول او د چا لپاره چې غیب ویل کیدل، چا چې کوډې وکړې او د چا لپاره چې کوډې وشي، څوک چې غوټې اچوي او بندونه جوړوي، یا کاهن ته ورشي او د هغه خبره ورښتیا وګڼي، نو پر محمدﷺ باندې پر نازل شوي دین کافر شو.[1]

۳ـ د یو انسان وژنه د ټول انسانیت وژل دي

انسان د الله تعالی مکرم مخلوق دی. د هغه سر، مال، پت او عزت ځانګړی حرمت لري چې ساتل یې فرض او ماتول یې حرام دي.

په اسلام کې د انسان وژل ډېر غټ جرم دی، د قرآنکریم په ګڼو آیتونو کې دغه جنایت منع شوی، د یو انسان قتل او وژنه یې د ټول انسانیت قتل او وژنه ګڼلې او د یو انسان ژغورل یې د ټول انسانیت ژغورل ګڼلي دي: ﴿مَنْ قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا....﴾ [المائدة: ۳۲]

ژباړه: چاچې یو انسان دوینې دبدلې یا په ځمکه کې له فساد دجوړولو پرته (په ناحقه) وواژه ، داسې وګڼه چې هغه ټول انسانان ووژل...

٤ـ د سرطاني غړي له منځه وړل

که چا څوک په ناحقه وواژه یا پې د چا عزت ولوټلو، یا پې په دین لوبې وکړي او مرتد شو او له هغو پولو واوښت، چې هغه انسان او ټولنې ته ګواښ دی، نو بیا د دې انسان چاره د بدن د سرطاني غړي په خیر په کار ده چې له منځه یووړل شي او پرې شي ترڅو نور انسانان د ده له شر او ضرر څخه په امن شي.

---

۱ - رواه البزار فی مسنده. پ دې صورتونو کې تر څو چې د شخص په عقیده کې خلل نه وی راغلی، په ستر کفر سره نه کافرېږي، ځکه د اهل سنت او جماعت په نزد، د یو چا ایمان په عملي ګناه سره نه نقض کېږي، نو دلته له کفر څخه عملی کفر مراد دی، نه اعتقادی.

ketabton.com - The Digital Library

شريعت دغسې انسانان په ګوته کړي او د وژلو حکم يې ورکړی. رسول اللهﷺ فرمايي: «لَا يَحِلُّ دَمُ امرئٍ مُسْلِمٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَّا بِإِحْدَى ثَلَاثٍ الثَّيِّبُ الزَّانِي وَالنَّفْسُ بِالنَّفْسِ وَالتَّارِكُ لِدِينِهِ الْمُفَارِقُ لِلْجَمَاعَةِ»[1] **ژباړه:** هغه مسلمان چې لااله الا الله محمد رسول الله کلمه وايي وينه تويول يې روا نه ده، خو په درې صورتونو کې: ښځه لرونکی زنا کار، قاتل او مرتد چې اسلام پريږدي او له مسلمانانو نه جلا شي.

٥ـ ګډېږه له اور څخه ډکول

يتيم هغه مظلوم انسان دی چې خپل مهربان او زړه خوږی پلار يې له لاسه ورکړی وي. د هر چا مرستې ته اړتيا لري په ځانګړې توګه چې د هغه د مال ساتنه او پالنه وکړي. الله پاک په قرآن کريم او رسول اللهﷺ په احاديثو کې يتيم ته په پاملرنې او توجه باندې ټينګار کړی دی. الله پاک ددې ګناه په هکله په قرآنکريم کې فرمايي:﴿ إِنَّ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ أَمْوَالَ الْيَتَامَى ظُلْمًا إِنَّمَا يَأْكُلُونَ فِي بُطُونِهِمْ نَارًا وَسَيَصْلَوْنَ سَعِيرًا﴾ [النساء:١٠]

ژباړه: «بيشکه هغوی چې په زور زياتي سره د يتيمانو مالونه خوري، هغوی په خپلو ګډدو کې اور اچوي او د دوزخ اورته به ننوز» د يتيمانو مال خوړل، ډيره بې همتي، ناځوانه عمل او غټه ګناه ده، او له همدې امله اسلام پر ټولنې باندې د يتيم د وړاندې مسؤوليتونه ايښي چې يو له هغو څخه د يتيم د مال ساتنه او پالنه او د هغه له ضائع کيدو، په هغه کې له خيانت او د هغه له خوړلو څخه په ټينګه ډډه کول دي.

پوښتنې:

١ـ حديث شريف ترجمه کړئ؟

٢ـ پورته کوم شيان دي چې په احاديثو کې شرک بلل شوي؟ نومونه يې واخلئ.

٣ـ د کوډو، فال ليدو، او غير شرعي دمونو او تعويذونو ضررونه وښاياست.

٤ـ په کوم آيت کې د يوه بې ګناه انسان وژنه د ټول انسانيت وژنه او د هغه ژوند ژغورل د ټول انسانيت ژوند ژغورل، ښودل شوي دي؟

٥ـ هغه ځايونه، چې د يو مسلمان قتل په کې د اړتيا له مخې جواز لري کوم دي؟ دليل يې وښاياست.

---

[1] - متفق عليه

ketabton.com - The Digital Library

اووه هلاکوونکي ګناهونه (۲)

..... وَأَكْلُ الرِّبَا وَالتَّوَلِّي يَوْمَ الزَّحْفِ وَقَذْفُ الْمُحْصِنَاتِ الْغَافِلَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ.

۵ـ سود یا له الله ﷻ او پیغمبر ﷺ سره جګړه

سود (ربا) یو بل خطرناک رنځ دی چې نیغ په نیغه د ټولنې غریب او بې وزله خلک کړوي. په ټولنې کې انساني مفاهیم، لکه: زړه سوی، ښیګڼه، خواخوږي، قرض حسنه له منځه وړي او پرځای یې بخل، زړه سخت توب، مصلحت غوښتنه او مادي توب خوروي. ځکه الله تعالی سود خوړل له غریبو او اړمنو سره دښمني نه، بلکې له الله تعالی او د هغه له پیغمبر سره دښمني او د جنګ او جګړې اعلان ګڼلی دی: ﴿فَإِنْ لَمْ تَفْعَلُوا فَأْذَنُوا بِحَرْبٍ مِنَ اللَّهِ وَرَسُولِهِ﴾ [البقرة:۲۷۹]

ژباړه: نو که له دې کار(سود) څخه لاس نه اخلئ. بیا د الله او د هغه د پیغمبر جنګ ته تیار شئ.

سود خوړونکو ته الله تعالی تر ټولو بده سزا ټاکلې ده.

د خواشینۍ ځای دی چې نن سبا په نړۍ واله کچه سود ډیر پراخه شوی، نړۍ یې له یو خطرناک اقتصادي بحران سره مخامخ کړې او ورسره غبرګ یې د روحي او اخلاقي فساد په جال کې نښلولې ده.

فعالیت

په ډله ییزه توګه دسود بدې اغیزې جلا جلا بیان کړئ.

۶ـ د یوه تن تیښته لښکر ته ماته ورکوي

کافرانو، باطل پالو او مفسدینو سره د جهاد او مبارزې وروستی پړاو له هغوی سره مخامخ جګړې ته دانګل او د وسله والې جګړې پریکړه ده. په داسې حساسو شیبو کې مقاومت فرض او تیښته لویه ګناه ده، ځکه د جګړې په ترڅ کې د یوه تن تیښته د جنګي مورال

ketabton.com - The Digital Library

په له منځه تلو سره ډېر ځله يو ستر لښکر ته ماته ورکوي. په داسې حساس وخت کې تيښته يا هم ثبات او استقامت د جګړې پايلې بدلوي.

۷ـ پر پاک لمنو ښځو تور لګول

ښځې په اسلام کې ډېر لوړ مقام لري. په ځانګړې توګه د هغو وقار او پت په شريعت کې په پوره پاملرنې سره مطرح دی، کوښښ شوی څو د دوی درناوی خوندي وساتل شي. د ښځو پر شخصيت ملنډې، توهين او تحقير، بې ارزښته ګڼل او د نارينه وو د نفسي غوښتنو لپاره هغوی څخه کار اخيستل ستره ګناه ګڼل شوې، چې په آخرت کې د عذاب لامل جوړيږي.

پر دې سربېره هغه چا ته په دنيا کې هم درنه سزا ټاکل شوې چې د ښځې او يا نارينه د شخصيت درناوی ونه کړي، د هغوی عزت او حيا ته په بده سترګه وګوري، نو که چا کوم مسلمان سړي او يا مسلمانې ښځې ته د بد لمنې نسبت وکړ، په خپله دعوا به شاهدان راولي، که شاهدان پې تير نشو کړای، محکمه به ورته د عامو خلکو په وړاندې د اتيا (۸۰) درو وهلو سزا ورکړي او شهادت او ګواهي به پې د خلکو ترمنځ د تل لپاره بې اعتباره اعلان شي.

فعاليت

هغه کوم سورت دی چې په پاک لمنو ښځو د تور لګوونکي لپاره پکې سزا ټاکل شوې ده؟

پوښتنې:

۱ـ په قرآن کريم او احاديثو کې ولې د يتيمانو پر پاملرنې ټينګار شوی دی؟

۲ـ کوم عمل له الله پاک او پيغمبر سره جګړه بلل شوی دی؟

۳ـ په جهاد کې تيښته ولې هلاکوونکې ګناه ده؟

٤ـ په اسلامي شريعت کې پر پاک لمنې مسلمانې ښځې باندې د بدلمنۍ د تور لګولوځه سزا ټاکل شوې ده؟

ketabton.com - The Digital Library

نولسم لوست

امر بالمعروف او نهی عن المنکر

(عَنْ حُذَيْفَةَ بْنِ الْيَمَانِ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَتَأْمُرُنَّ بِالْمَعْرُوفِ وَلَتَنْهَوُنَّ عَنْ الْمُنْكَرِ أَوْ لَيُوشِكَنَّ اللَّهُ أَنْ يَبْعَثَ عَلَيْكُمْ عِقَابًا مِنْهُ ثُمَّ تَدْعُونَهُ فَلَا يُسْتَجَابُ لَكُم). رواه الترمذي

د راوي پېژندنه

حذيفة بن اليمان العبسي رضي الله عنه مشر صحابي وو. د خندق په غز او له هغه وروسته نورو غزواتو کې شريک خو د خندق په غزا کې رسول الله ﷺ د کافرانو لښکر ته د احوال اخستو لپاره لیږلی وو. رسول الله ﷺ ورته د منافقانو د پېژندګلوی په شمول ډېر اسرار ویلي وو چې د صحابه وو په منځ کې په صاحب سر رسول الله یادیده. عمر فاروق رضي الله عنه به هغې جنازې ته نه ورته چې **حذيفة** رضي الله عنه به پکې برخه نه اخیسته.

د ډیرو غزواتو په شمول د عراق په فتوحاتو کې شریک وو. د نهاوند په غزا کې پې ګډون درلود، همدان، ری، او دینور د ده په مشرۍ کې فتح شوي. د ارمینیا له غزا وروسته پې د مسلمانانو دریم خلیفه عثمان رضي الله عنه ته د قرآن کریم د ترتیب مسأله مطرح کړه. زیات احادیث پې له رسول الله ﷺ څخه روایت کړي دي. د عمر رضي الله عنه په خلافت کې د مدائن والي ټاکل شوی او همالته د والي په توګه وو چې د هجرت په (۳۶) کال کې وفات شو.

د ځینو کلماتو معنا

۱_**وَالَّذِي**: (و) په دې ځای کې د قسم توری دی، (الذي) هغه څوک، هغه ذات (قسم دی په هغه ذات).

۲_**لَتَأْمُرُنَّ**: هرو مرو (خامخا) به امر کوئ.

۳_**الْمَعْرُوفِ**: یوه ډیره جامعه کلمه ده چې د خیر، ثواب اوطاعت ټول کارونه پکې شاملیږي، لکه ښیګڼه او نیکي چې عام خلک پې ښه ګڼي او بد پرې نه وایي.

٤ _**لَتَنْهَوُنَّ**: هرومرو به نهی کوئ، (ایسارول به کوئ).

ketabton.com - The Digital Library

٥_**اَلْمُنْكَرِ**: د معروف ضد دی: بدي او ورانی، چې عام خلک پرې بد وايي او ښه ېې نه ګڼي.

٦_**لَيُوشِكَنَّ**: ډېر ژر، ډېر نژدې.

٧_**عِقَابًا**: عذاب

٨_**تَدْعُونَهُ**: له الله ﷻ څخه به دعاګانې غواړئ.

د حديث ژباړه

له حذيفه ﷺ څخه روايت دی چې رسول الله ﷺ وفرمايل: زما دې په هغه ذات قسم وي چې زما سا د هغه په لاس کې ده چې تاسو به هرو مرو امر بالمعروف او نهی عن المنکر کوئ او يا دا چې ډېر نژدې ده چې الله پاک در باندې له خپل لوري څخه عذاب راوليږي چې بيا به له هغه څخه دعاګانې غواړئ او قبليږي به نه.

د حديث حکمت

اسلامي دعوت يا امربالمعروف او نهی عن المنکر د اسلام له خورا مهمو مبادي او ارزښتناکو فرايضو څخه دي چې د اسلام د نورو احکامو قيام او بقاء ورپورې تړلې ده.

فعاليت

هر زده کوونکی دې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر اغيز د اسلام د نورو ارکانو او احکامو د برپا کولو په هکله له ځان سره ياد داشت کړي او په نوبت سره دې ېې نورو ته واوروي.

د حديث شريف ګټې

١_د امربالمعروف او نهي عن المنکر ارزښت

په هره ټولنه کې دوه ډوله وګړي ژوند کوي: نيکان خلک، هغه چې د پاکو عقيدو، نيکو خويونو، خير غوښتونکې او د غوره اخلاقو څښتنان وي.

اوبله ډله بدان، هغه چې د ناوړه سلوک، د بدو عاداتو، د شر او فساد خويونو خاوندان وي.

ketabton.com - The Digital Library

د بدو اعمالو له خاوندانو څخه همیشه په فردي او ټولنیز ژوند کې ناسمې مفکورې، د اسلام او انسانیت ضد کړنې، پر نوروظلم، تیری او ډول ډول فسادونه صادریږي. که چیری نیکان او صالحه وګړي ددغسې اشخاصو مخنیوي ونه کړي او دوی حق طرف ته ونه هڅوي، نو د ټولنې هره برخه به د شر او فساد ډګر وګرځي او انساني ټولنه به په داسې ځنګل بدله شي چې د عدل، انصاف، د ښو او بدو تمییز به پکې هیڅ نه وي.

امر بالمعروف او نهي عن المنکر د اسلامي امت هغه سپیڅلی صفت دی چې له پیغمبرانو څخه زموږ امت ته په میراث پاتې دی، دا هغه مهمه دنده ده چې د اسلامي ټولنې سلامتي او نیکمرغي ورپورې تړلې او د فساد د پراخېدو له منګولو ېې ژغوري.

۲ـ خلک نیکیو ته رابلل

د حدیث مفهوم د امر بالمعروف په هکله دا دی چې: تاسو به هرومرو خلکو ته په نیکیو او ښیګڼو امر کوئ. خلک به اسلامي عقیدې، اسلامي شریعت، اخلاق، عزت، درنښت، حیا، احترام، محبت، وروری، عدل او انصاف او د یوه الله بنده ګی ته رابلئ ، چې د دنیا او آخرت سعادت پکښې نغښتی، دعوتوئ.

۳ـ له بد یو څخه خلک منع کول

په ټولنه کې خلک له خرابو افکارو، بدو اعمالو او ناوړه اخلاقو څخه منع کول او ایسارول فردي او ټولنیزه دنده ده. د اسلام دستر پیغمبرﷺ له خوا پر یوه کار باندې په دغسې مؤکدو الفاظو سره امر او ټینګار کول د هغه کار فرضیت او لزوم افاده کوي، په همدې اساس د اسلام د دین غوښتنه داده چې اسلام ته بلنه، امر بالمعروف او نهی عن المنکر د هر مسلمان په غاړه په فردي توګه او د ټول امت په غاړه په ټولنیزه توګه فرض دی، هغه هم په حکیمانه لارو چارو چې منکر له منځه ولاړ شي او د منکر له منځه وړل د ستر منکر (جنګ، نفرت او فساد) لامل ونه ګرځي.

٤ـ د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د پرېښودو خطرونه او پایلې

امر بالمعروف او نهي عن المنکر هغه مهمه دنده ده چې په پرېښودلو ېې رسول اللهﷺ د عذاب د نازلیدلو اخطار ورکړی. د دې معنا داده چې اسلامي دعوت، امر بالمعروف او نهی عن المنکر که کله هم په ټولنه کې پرېښودل کیږي نو ځای ېې د الله تعالی لخوا ځانګړی عذاب نیسي، سربیره پردې په جامعه کې ظلم، بې انصافي، د زړونو سختوالی او ډول ډول فسادونه زیاتیږي او په پای کې ټولنه دهلاکت په درشل دریږي.

ketabton.com - The Digital Library

٥_ بيا به مو دعاء نه قبليږي

که دعوت، امر بالمعروف او نهی عن المنکر ترک شي نو ډېر ژر بـه الله تعـالی لـه خپـل لوري عذاب را نازلوي، که کله د دعوت (امر بالمعروف او نهی عن المنکر) په پريښودو سره عذاب راغی نو بيا که تاسې الله تعالی ته څومره دعاګانې او زارئ کوئ نودعا به مـو نه قبليږي، او عذاب به په دعاګانو باندې نه لرې کيږي، ځکـه مـسلمانانو بـه د دعـوت پـه پريښودو دومره ستر جرم او غټه ګناه کړي وي چې د دعا دقبليدو ټولې لارې بـه ېې پـر ځان ترلې وي.

فعاليت:

ايا له بديوځخه منع کول يوازې د علماوو دنده ده اوکه د ټولو مـسلمانانو؟ زده کـوونکي دې په خپل منځ پرې مباحثه وکړي.

پوښتنې:

١_ لاندې کلمې معنا کړئ:

أ_ **لَتَأْمُرُنَّ**:

ب_ **الْمَعْرُوفِ**:

ج_ **لَيُوشِكَنَّ**:

٢_ دحديث د راوي په هکله لنډ معلومات ورکړئ.

٣_ د حديث ژباړه ووياست.

٤_ که د اسلامي دعوت فريضه ترک کړل شي، نو پايله به ېې څه وي؟

ketabton.com - The Digital Library

شلم لوست

په لګښت کې اقتصاد

عَنِ ابْنِ عُمَرَ ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الاقْتِصَادُ فِي النَّفَقَةِ نِصْفُ الْمَعِيشَةِ ، وَالتَّوَدُّدُ إِلَى النَّاسِ نِصْفُ الْعَقْلِ ، وَحُسْنُ السُّؤَالِ نِصْفُ الْعِلْمِ.

رواه الطبراني في المعجم الكبير

د ځينو کلماتو معنا

۱_**الاقْتِصَادُ:** اقتصاد د (قصد) له کلمې څخه ده چې په چارو او ويناوو کې د افراط او تفريط ترمنځ وسط حد ته ويل کيږي، په لګښت او نفقه کې اقتصاد د اسراف او تقتير (ممسک توب) ترمنځ حد ته وايي.

۲_**ألمَعيشَة:** ژوند، روزګار.

۳_**التَّوَدُّدُ:** مينه کول، محبت کول.

د حديث ژباړه

له عبد الله بن عمررضی الله عنهما څخه روايت دی چې رسول اللهﷺ وفرمايل: اقتصاد (اعتدال په لګښت کې) نيم ژوند دی، او خلکو ته ځان ګرانول او نژدې کول نيم عقل دی، اوپه ښه ډول پوښتنه کول نيم علم دی.

د حديث شريف حکمت

مال له خپل ارزښت او اهميت سره سره يو خطرناک شی دی، هغې لوڅې تورې ته ورته دی چې دواړه لوري پې تېره او غوڅوونکي وي، که انسان ورسره پوره پاملرنه او احتياط ونکړي نو ارومرو به خپل بدن پرې غوڅوي.

ځکه اسلام مال ته ځانګړې پاملرنه کړې، د هغه د ګټلو او لګښت لپاره پې دقيق، جامع اصول او ضوابط ايښي دي. چې يو له دغو اصولو او ضوابطو څخه د اقتصاد (اعتدال) اصل او ضابطه ده چې تر ډيره حده په لګښتت پورې اړه لري.

ketabton.com - The Digital Library

د اقتصاد اصطلاح او مفهوم د رسول اللهﷺ په ګڼو احاديثو او د قرآن کريم په ډيرو آيتونو کې ذکر شوی، چې مونږ او تاسو ټول د ټولګي په توګه د پورتني مبارک حديث په ترڅ کې لولو.

د حديث شريف ګټې

۱ــ مال قيمتي زيرمه او د اقتصاد اصل دی

مال په يو وخت کې هم د خير او ښيګڼې غوره وسيله او هم د شر او بدۍ ناکاره وسيله ده.
کور، اولاد اوعيال، نفقه او لګښت چې د انساني ژوند ډيره برخه جوړوي، ډېر ځله انسان د مال په اړه بې احتياطۍ ته اړکړي چې په پای کې د بې وزلۍ او تنګلاسۍ له داسې جدي ستونزو سره مخ شي چې ژوند پرې تريخ او ورځخه په تيښته شي، سترګې پټې کړي او په ټولو انساني پولو او ارزښتونو پښې واړوي، په غلا، چور او تالان لاس پورې کړي، په ټولنه کې فساد، بد امني، اړ او دوړ رامنځته کړي. او يا هم د کار کولو همت بايلي، کچکول په غاړه کړي او د سوال لاسونه اوږده کړي او په ټولنه باندې يو درونډ پيتی جوړ شي.
اسلام دغه ستونزه د يوه خراب او دردوونکي واقعيت په توګه درک کړې او د هغې د مخنيوي لپاره يې د اقتصاد اصل او قاعده ايښې ده.
پدې مبارک حديث کې رسول اللهﷺ اقتصاد نيم ژوند ګڼلی او بيا يې په ځانګړي تعبير سره د لګښت اقتصاد د تنګلاسۍ او له هغو نه د راولاړو ستونزو د مخنيوي چاره ښودلې.
پيغمبرﷺ فرمايلي دي:(مَاعَالَ مَنْ اقْتَصَدَ). [احمد]
ژباړه: هيڅکله به فقير او تنګلاسی نه شي هغه څوک چې په لګښت کې د اعتدال او ميانه روۍ څخه کار اخلي.
له کومه ځايه چې په مالي چاروکې اقتصاد او اعتدال ډيره اغيزه او خورا مهم رول لري ټولې مالي چارې او مالي نظام د (اقتصاد) په نوم ياد شوی دی، نن سبا چې د اقتصاد اصطلاح کارول کيږي مقصد تر ټولې مالي چارې او مالي نظام او سيستم وي.

ketabton.com - The Digital Library

۲ــ اسراف چې د اقتصاد ضد، او د فقر لامل ګرځي شرعا حرام دی

د اقتصاد ضد ته په شریعت کې (اسراف) وایي چې په لګښت کې د افراط، بې نظمۍ، بې هدفۍ، بې پلانۍ مفاهیمو ته شامله ده.

د لګښت ډیره برخه خوراک او څښاک جوړوي، الله تعالی د خوراک او څښاک په اړه فرمایي:﴿ وَ كُلُوا وَاشْرَبُوا وَلَا تُسْرِفُوا إِنَّهُ لَا يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ﴾ [الأعراف: ۳۱]. خورئ او څښئ خو اسراف او له حده تېرى مه کوئ.

په خوراک او څښاک کې اسراف او له حده تېرېدل چې خومره د بدن روغتیا ته تاوان اړوي، له هغه نه زیات بې ما ل ته اړوي او نن سبا چې خومره مالونه په خوراک او څښاک کې له اسراف نه په راولاړو ناروغیو او د هغو په علاج لګیږي له هیڅا پټ ندي.

۳ــ في سبیل الله انفاق کې هم اقتصاد

آن تر دې چې في سبیل الله انفاق، خیرات، صدقات، مرستې او عامه سخاوتمندۍ او داسې نور د خیر ښیګڼې لګښتونه هم باید د اقتصاد تر قاعدې لاندې وي او د ثواب ګټلو جذبه او ولوله باید انسان د اقتصاد پولو ماتولوته ونه هڅوي، الله تعالی فرمایي: ﴿وَلَا تَجْعَلْ يَدَكَ مَغْلُولَةً إِلَى عُنُقِكَ وَلَا تَبْسُطْهَا كُلَّ الْبَسْطِ فَتَقْعُدَ مَلُومًا مَحْسُورًا﴾.[الاسراء:۲۹]

ژباړه: لاس ترغاړې تړلی بخیل مه اوسه او مه دومره په خلاص مټ لګښت کوه چې سبا تش لاس او د ټولو ملامت ناست یې!

نو چې کله الله پاک د خیر ښیګڼې لګښت کې د اقتصاد غوښتنه کوي نو نور لګښتونه خو باید ارومرو د اقتصاد په اصل ولاړ وي.

۴ــ دخلکوخوښي لاس ته راوړل لویه عقل مندي ده

که څوک د الله ﷻ د رضا په خاطر د انسانانو سره مرسته کوي، د هغوي درناوی کوي، او ورسره نیک چلن کوي، د خلکو پر جفا سترګې پټوي داسې انسان الله ﷻ ته خوښ وي، او څوک چې الله ﷻ ته خوښ وي الله ﷻ د هغه سره مینه د بندګانو په زړونوکې هم اچوي د خلکو د خوښۍ له برکته تل انسان خوښ، هوسا، او په خپلو مقصدونوکې سرلوړی وي. د الله ﷻ د بندګانو خوښي تر لاسه کول غټه کامیابي او لویه عقل مندي ده.

ketabton.com - The Digital Library

۵ ـ ګټوره پوښتنه علم زياتوي

پوهه او علم د زړونو پټې خزانې دي چې په ګټورو پوښتنو رابرسيره کيږي، که چيرې لـه معلم څخه په ښه طريقه پوښتنه وشي ممکنه ده چې معلم د زړه له کومي په ځواب کـې داسې معلومات وړاندې کړي چې حاصلولو ته يې ډيره زياته اړتيا وي.

پوښتنې:

۱ـلاندې کلمې معنا کړئ:

۱ـ الاقْتِصَادُ:

ب ـ الْمَعِيشَةِ:

ج ـ التَّوَدُّدُ:

۲ـمال ولې دومره ارزښت لري؟

۳ـد اقتصاد لغوي او اصطلاحي معنا څه ده؟

٤ـحديث ترجمه کړئ!

٥ـاسراف ولې حرام دی؟ د هغه روغتيايي او مالي ضررونه بيان کړئ!

کورنۍ دنده

زمونږ په ټولنه کې هغه دودونه او رواجونه په ګوته کړئ چې د اقتصاد په خلاف پر حرام اسراف روان دي، او دهغو د مخنيوي پر لارو چارو باندې غور او فکروکړئ ،اودمخنيوي په باره کې يې لنډه مقاله وليکئ.

ketabton.com - The Digital Library

يو ويشتم لوست

د الله ﷻ کتاب او د پيغمبر ﷺ سنت

عَنْ مَالِك أَنَّهُ بَلَغَهُ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ تَرَكْتُ فِيكُمْ أَمْرَيْنِ لَنْ تَضِلُّوا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا كِتَابَ اللَّهِ وَسُنَّةَ نَبِيِّهِ. [موطأ مالك]

د راوي پېژندنه

مالك بن انس بن مالك الأصبحي الحميري د دار الهجرت (مدينې منورې) امام او د اهل سنت له څلورو مشهورو مذهبونو څخه د مالكي مذهب امام دی. په ۹۳ هجري کال په مدينه منوره کې زيږېدلی. پر دين کلك ولاړ وو. له اميرانو او باچاهانو څخه لرې اوسيده، آن تردې چې د واکمنانو له خوا ربړول شوی هم دی.

عباسي خليفه هارون الرشيد ترې وغوښتل چې دربار ته ورشي او ده ته سبق ووايي، خو امام مالك انکار وکړ او ويې ويل چې: علم ته خلك ورځي، علم خلکو پسې نه ورځي! هارون الرشيد پې کورته ورغی او د درس په مجلس کې پې ديوال ته تکيه وکړه ، امام مالك وويل: دعلم درناوی د رسول الله ﷺ درناوی دی، نو تکيه پې پرېښوده او د امام په وړاندې کښيناست. د خليفه منصور عباسي په غوښتنه پې د احاديثو مشهور کتاب موطأ وليکه. په همدې توګه: **الوعظ، المسائل، الرد على القدرية، النجوم** او تفسير غريب القرآن د نوموړي له ليکنو څخه دي. امام مالك بن انس په ۱۷۹ هـ . ق کال په مدينه منوره کې وفات شو.

د ځينو کلماتو معنا

۱_تَرَكْتُ: له ترک څخه اخستل شوی: پرېښودل، ترک کول.

۲_أَمْرَيْنِ: د (امر) تثنيه ده:چاره، کار.

۳_لَنْ تَضِلُّوا: هيڅکله به پې لارې نه شئ.

٤_مَا تَمَسَّكْتُمْ: څوپورې مو چې منګولې پرې لګولې وي.

د حديث شريف ژباړه

امام مالك رحمه الله تعالى ته دا حديث رسيدلی چې پيغمبر ﷺ فرما يلي دي: په تاسو کې مې دوه شيان پرېښي دي، څو پورې مو چې پر هغو منګولې ښخې کړې وي هيڅکله به پې لارې نه شئ: دالله کتاب او زما سنت.

ketabton.com - The Digital Library

د حديث حكمت

قرآن د الله پاک وروستی کتاب دی چې د انسانیت د هدایت او لارښوونې لپاره پې نازل کړی، څو انسانان له تیارو څخه رڼا ته راوباسي او د ژوند په سمه لاره پې روان کړي. ترڅو چې انسانان پر قرآن کلک ولاړ وي، هیڅکله به بې لارې نه شي.

د حديث شريف ګټې

۱ــ قرآن کريم د اسماني کتابونو ناسخ

رسول اللهﷺ امت ته د اسلام دوه اصلي سرچینې په ګوته کړي څو د هغو په رڼا کې خپل ژوند تیرکړي. لومړی د الله کتاب (قرآن) او دوهم خپل سنت (حدیث او سیرت).

قرآن کریم د اسلامي شریعت د تحلیل او تحریم لومړنی مرجع ده. قرآن د ژوند ټولې چارې د اصولو او بنسټونو په توګه اجمالا بیان کړې دي: ﴿....مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِنْ شَيْءٍ...﴾ [الانعام: ۳۸]

ژباړه: مورږ په قرآن کې د هیڅ شي کمی نه دی کړی (د اړتیا وړ شیان مو ټول ذکر کړي دي). الله تعالی خپل رسول محمدﷺ ته دنده سپارلې څو دغه اصولي لارښوونې په تفصیل سره د ژوندانه په ټولو جزئیاتو کې پلې کړي. د دغو اصولو پر بنسټ یوه ټولنه جوړه کړي او نړیوالو ته دغه الهي لارښوونې یوازې په نظري توګه نه، بلکې په عملي توګه وړاندې کړي. الله تعالی د پیغمبر دغه حیثیت داسې بیانوي: ﴿...وَأَنْزَلْنَا إِلَيْكَ الذِّكْرَ لِتُبَيِّنَ لِلنَّاسِ مَا نُزِّلَ إِلَيْهِمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَفَكَّرُونَ﴾ [النمل: ٤٤]

ژباړه: مورږ تاته ذکر(قرآن) نازل کړ څو خلکو ته نازل شوی کتاب شرح او توضیح کړې او ښایي دوی پکې غور او فکر وکړي.

جابرﷺ وایي یوځل عمربن الخطاب په داسې حال کې چې د تورات یوه نسخه پې په لاس کې وه، راغی او ویې ویل: ای دالله رسوله، دا د تورات یوه نسخه ده. رسول اللهﷺ څه ونه ویل. عمر رضی الله عنه د هغه په لوستو پیل وکړ. د پیغمبرﷺ پر مخ د غوسې او د خفګان نښې راغلې. په دې کې ابوبکرﷺ پر عمرﷺ غږ وکړ چې مور دې در باندې بوره شه عمره د پیغمبر مخ ته نه ګورې؟ کله چې عمرﷺ د پیغمبرﷺ مخ ته وکتل، نو ژر پې وویل: د الله پاک او د هغه د پیغمبر له غوسې څخه پناه غواړم. د الله پاک په ربوبیت، د اسلام په دین او د محمدﷺ په نبوت خوښ او قانع یو. رسول اللهﷺ وفرمایل: زما دې په

ketabton.com - The Digital Library

هغه ذات قسم وي چې زما سا پې په واک کې ده، که موسی درته راخرګند شي او تاسو هغه پسې لاړ شئ او ما پریږدئ نو د حق له لارې څخه به بې لارې شئ، او کـه موسـی ژوندی وای او زما پیغمبري پې موندلې وای نو زما تابعداري به پې کوله. [سنن الدارمی]

۲ـد رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت(حدیث اوسیرت)، د قرآن تر ټولو ښه شرحه

د پیغمبر سنت د قرآن کریم تر ټولو ښه شرح او تفسیر دی. د هغه سیرت او د صـحابه وو ټولنیز ژوند د قرآنکریم عملي او تطبیقي اړخ دی.

له رسول الله ﷺ څخه چې کومه خبره ثابته شوې ده، هغه په حقیقت کې د وحی یوه برخه ده،

الله پاک فرمایي:﴿ وَمَا يَنْطِقُ عَنِ الْهَوَىٰ ۝ إِنْ هُوَ إِلَّا وَحْيٌ يُوحَىٰ﴾ [النجم: ۳-۴]

ترجمه: پیغمبرله ځانه نه غږیږي، هغه خو ورلیږل شوې وحي ده.

نو په څه شي چې امر کوي باید پلی کړی شي او له څه شي چې منع کوي باید اجتنـاب ترې وشي، الله پاک فرمـایي: ﴿..وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَـاكُمْ عَنْـهُ فَـانْتَهُوا...﴾ [الحشر:۷]

ژباړه:کوم دستور چې پیغمبر درکوي، عمل پرې وکړئ او له څه شي مو چې منع کـوي ځان ترې وژغورئ.

په سنتو باندې منګولې لګول له ضلالت او بې لارې توب څخه د ژغورل کیدو او نجـات یوازنی لاره ده.

۳ـ د رسول الله ﷺ سنت یا دویمه وحي

له قرآن نه وروسته سنت د اسلامي شریعت د تحلیل او تحریم دویمه مرجع ده.

په دې توګه له سنتو څخه د الهي وحي د یوې برخې په توګه هیڅکله استغنا نشي راتلای او د قرآن په شرح او شرعي احکامو باندې په پوهیدلو کې له پامه نشي غورځېدلای.

رسول الله ﷺ په یو مبارک حدیث کې چې مقـدام رضی الله عنه تـرې روایـت کـړی فرمـایي: خبـر اوسئ! ماته قرآن او د هغه په څیر نور څه (سنت) راکړل شوي دي).[۱]

---

۱ - ابوداود

ketabton.com - The Digital Library

په بل روايت کې راځي: داسې څوک ونه مومم چې ډډه پې وهلې وي او زما کوم امر يا نهی ورته ورسيږي او دی ووايي چې زه دا نه پېژنم، هغه څه منم چې په قرآن کې مې موندلي.[1]

د حديثو او فقهې کتابونه په هغو مسائلو ډک دي چې په قرآن کې نشته، خو په حديثو کې حلال يا حرام ګڼل شوي دي.

٤_د لارې مشال

د صحابه وو ټولنيز ژوند، په ځانګړې توګه د راشده خلافت دوره، د قرآن کريم د مقاصدو پر اساس جوړ او د بشري ژوند غوره بڼه ده. ځکه خو رسول الله ﷺ په يوه مبارک حديث کې امت ته پر هغې باندې د کلک دريدو ټينګار کوي او وايي: زما سنت او له مانه وروسته زما د راشدينو او مهديينو خليفه ګانو سنت کلک کړئ..)[2]

د راشده خلافت د دورې ټولنيزه تګلاره زموږ لپاره د فکري او عقيدوي خط مشالونه دي چې د ژوندانه په اوږدو لارو کې خپله لاره پرې ونيا کوو.

پوښتنې:

١_پورتنی حديث شريف وژباړئ.

٢_دحديث راوي څوک دی؟ معرفي يې کړئ.

٣_لاندې کلمات معنا کړئ:

- **تَرَكْتُ:**
- **أَمْرَيْنِ:**
- **لَنْ تَضِلُّوا:**
- **مَا تَمَسَّكْتُمْ:**

٤_ (نبوي سنت اوسيرت د قرآنکريم سره شرحه ده) دا مطلب واضح کړئ.

کورنی دنده:

پورتنی حديث شريف له معنا سره په يادو زده کړئ.

---

١ - معرفة السنن والآثار للبيهقي

٢ - مشكل الآثار للطحاوي

ketabton.com - The Digital Library

دوه ويشتم لوست

په جهاد کې د ښځو ونډه

عَنْ الرُّبَيِّعِ بِنْتِ مُعَوِّذٍ قَالَتْ كُنَّا نَغْزُو مَعَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَنَسْقِي الْقَوْمَ وَنَخْدُمُهُمْ وَنَرُدُّ الْجَرْحَى وَالْقَتْلَى إِلَى الْمَدِينَةِ. [صحيح البخاري]

دراوي پېژندنه

ربيع بنت معوذ بن عفراء رضى الله عنهما، د انصارو د بني نجار له قبيلي څخه وه، ربيع بي بي په بيعة الرضوان کې حاضره او له رسول الله ﷺ سره يې په ځينو غزواتو کې ګډون درلود. نوموړې له يوې خوا زاهده، عابده او د خداى ﷻ د لارې مجاهده وه، له بلې خوا د علم او فضيلت خاونده هم وه. له دې بي بي څخه ټول يويشت (۲۱) احاديث روايت شوي دي. ډير عمر ژوندۍ وه. په پاى کې د عبدالملک بن مروان په خلافت کې د هجرت په څه د پاسه اويايم کال کې وفات شوه.

د ځينو کلماتو معنا

۱ـ كُنَّا: موږ وو.

۲ـ نَغْزُو: غزا مو کوله، جهاد موکاوه.

۳ـ نَسْقِي: اوبه مو ور رسولې، اوبه مو ورکولې.

٤ـ نَرُدُّ: وړل مو، ليږدول مو.

٥ـ الْجَرحَى: ټپيان، زخميان.

٦ـ الْقَتلَى: قتل کړاى شوي، وژل شوي.

د حديث ژباړه

له ربيع رضى الله عنها څخه روايت دى چې وايي: موږ به له پيغمبر ﷺ سره يو ځاى غزا کوله، په جهاد کې به ورسره شريک وو. مجاهدينو ته به مو اوبه رسولې، نور خدمتونه مو ورته تر سره کول او د هغوى ټپيان او شهيدان به مو مدينې منورې ته انتقالول.

ketabton.com - The Digital Library

د حديث حكمت

د خير ښيګڼې خپرېدو، دعدالت او انصاف تامين، له انسان څخه د انسان آزادي، له مستکبرينو څخه د مستضعفينو بوډاګانو، ښځو او ماشومانو د ژغورلو، د انساني کرامت او ارزښتونو د خوندي ساتلو او د الله ﷻ د کلمې او دين د لوړوالي په خاطر سپيڅلی او مقدس جهاد، له يوې خوا شرعي فريضه او مکلفيت دی او له بلې خوا د هر مؤمن او مسلمان وګړي د ژوندانه تر ټولو لوړه هيله او ستر ويار دی. ښځه د نورو مسؤوليتونو، حقوقو او ويار په خير په دغې مقدسې فريضې او سپيڅلې دندې کې د خپل بدني ځواک په اندازه له نارينه وو سره سمه او برابره ونډه لري.

د حديث شريف ګټې

۱ــ د اسلام په لاره کې د وسله وال جهاد ارزښت

وسله وال جهاد د اسلام د سپيڅلی دين دخپرولو او ورڅخه د دفاع غوره لاره ده.

د الله ﷻ په لاره کې جهاد هغه غوره عبادت دی بل هيڅ ډول عبادت ورسره نه برابريږي.

د الله ﷻ په لاره کې يوساعت تګ د سهار له خوا او يا بيرته راستنيدل د ورځې په اخره برخه کې له دنيا اوهغه څه چې په دنيا کې دي ورڅخه غوره دي.[۱]

په اسلام کې جهاد تر ټولو د لوړ مقام او تر ټولو نېکو کارونو غوره کار دی، الله تعالی د دې لپاره روا کړی تر څو د توحيد کلمه لوړه او د الله تعالی ددين برم زيات شي. ډېر زيات شمېر آياتونه او احاديث د جهاد د فضيلت په اړه راغلي. الله تعالی فرمايي:﴿ وَمَن يُقَاتِلْ فِي سَبِيلِ اللّهِ فَيُقْتَلْ أَو يَغْلِبْ فَسَوْفَ نُؤْتِيهِ أَجْراً عَظِيماً﴾ [النساء: ٧٤] **ژباړه**: او څوک چې د الله په لار کې وجنګيږي او ووژل شي يا برلاسی شي هغه ته به مورِ هرومرو ستر ثواب ور په برخه کړو.

او فرمايي: ﴿وَفَضَّلَ اللّهُ الْمُجَاهِدِينَ عَلَى الْقَاعِدِينَ أَجْراً عَظِيماً﴾ [النساء: ٩٥]

ژباړه: او الله تعالی مجاهدين په ناستو خلکو په ستر اجر سره غوره ګرځولي دي.

د اسلام ستر لارښود، رسول الله ﷺ د جهاد په اړه داسې فرمايي: «مَثَلُ الْمُجَاهِدِ فِی سَبِيلِ اللَّهِ كَمَثَلِ الصَّائِمِ الْقَائِمِ الْقَانِتِ بِآيَاتِ اللَّهِ لاَ يَفْتُرُ مِنْ صِيَامٍ وَلاَ صَلاَةٍ حَتَّى يَرْجِعَ الْمُجَاهِدُ فِی سَبِيلِ اللَّهِ تَعَالَى»[۲]

---

۱ - مسلم

۲ - صحيح مسلم.

ketabton.com - The Digital Library

ژباړه: د الله تعالی په لار کې د مجاهد مثال د هغه روژه نیوونکي په خیر دی چې ټوله شپه لمونځ کوي او د الله تعالی په آیاتونو باندې دعاء کوونکی وي، نه له خپلې روژې ستړی کیږي او نه له خپل لمانځه څخه ستړی کیږي تر هغه وخته چې دغه د الله تعالی د لارې مجاهد بېرته خپل کورته را ستون شي.

د الله تعالی په لار کې وتل او ستونزې ګالل لوی اجر او ثواب لري. رسول الله ﷺ فرمایلي دي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ –رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ– قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ:« انْتَدَبَ اللَّهُ لِمَنْ خَرَجَ مُجَاهِدًا فِي سَبِيلِهِ لاَ يُخْرِجُهُ إِلاَّ إِيمَانٌ بِي وَتَصْدِيقٌ بِرَسُولِي فَهُوَ عَلَيَّ ضَامِنٌ أَنْ أُدْخِلَهُ الْجَنَّةَ أَوْ أَرْجِعَهُ إِلَى بَيْتِهِ الَّذِي خَرَجَ مِنْهُ نَائِلاً مَا نَالَ مِنْ أَجْرٍ وَغَنِيمَةٍ ».[1]

ژباړه: خوک چې د مجاهد په توګه د الله په لار کې له کوره ووځي، الله ﷻ (د مهربانۍ له مخې) فرمایي: چې کله یې دا وتل پر ما د ایمان او زما د رسول د تصدیق پر بنا وي نو زه یې ضامن یم چې هغه جنت ته داخل کړم او یا یې بېرته خپل کور ته په داسې شان ورستون کړم چې ثواب او غنیمت ورپه برخه وي.

د یادونې وړ ده چې د جهاد د مشروعیت لپاره د ځانګړو حالاتو او شرایطو تحقق ضروري دی.

۲ ـ په وسله وال جهاد کې د ښځو ونډه

له رسول الله ﷺ سره په غزاګانو کې، لکه د سړو په څیر ښځو هم، پوره ونډه اخیستی ده دا په دې معنا چې ښځې هم له نارینه وو سره په ټولو عبادتونو، ویاړونو او افتخاراتو کې سمې شریکې دي. له دې کبله ویلای شو، ښځې حق لري چې د مسلمانانو له امیر څخه د اجازې تر لاسه کولو د حق د لارې د سپیڅلي جهاد ویاړ تر لاسه کړي.

اسلامي شریعت د خپلې عامې مهربانۍ، هغه ځانګړې سهولت له مخې، چې له ښځو سره یې په هر څه کې په پام کې نیولی، ښځې یې جګړې ته له حاضریدو څخه معاف کړې دي. دغه معافي یوازې یوه استثناء لري چې کله د مسلمانانو مشر د اړتیا له مخې فوق العاده حالت کې نفیر عام (جهاد ته عمومي وتل) اعلان کړي، بیا به ښځه هم د میړه له اجازې پرته د جهاد ډګر ته وځي. په عامو او عادي جهادونو کې ښځه مکلفه نه ده چې د جهاد ډګر ته ولاړه شي. له دې سره سره ښځې حق لري چې د جهاد په ویاړونو کې د

---

۱ – سنن کبری، بیهقی

ketabton.com - The Digital Library

شریکیدو په خاطر د مسلمانانو د مشر او خپل سرپرست په اجازه له مجاهدینو سره ووځي او هلته د دوی له طبیعت سره مناسب یو شمیر خدمتونه تر سره کړي.

حقیقت دادی چې د اسلامي دعوت له پیل څخه نیولې د دعوت په ټولو پراوونو کې ښځې په ټولو ویاړونو کې له نارینه وو سره یو شان شریکې دي. لله الحمد په ټول اسلامي تاریخ کې یوه پیښه هم داسې نشته چې هلته ښځو د محرومیت او کموالي احساس کړی وي او یا هم نارینه وو څان پرې لوړ او پورته ګڼلی وي، بلکې ددې پر خلاف ښځې تل د نارینه وو له خوا له ځانګړي قدر، احترام او درناوي څخه برخمنې وې.

د اسلامي تاریخ په اوږدو کې د نارینه اتلانو په کتار کې خدیجه، سمیه، اسماء، ام سلیم، ام عطیه، ام حرام، خوله، عائشه، فاطمه، زینب رضي الله عنهن او داسې نورې په زرګونو اتلانې دي چې یادونه ېې په زرینو کرښوکې پاتې دي.

ام عماره نسیبه رضی الله عنها یوه له هغو اتلو بیبیانو څخه ده چې د احد په تاریخي غزا کې ېې له پیغمبر څخه په سخت وخت په دفاع کې د میړانې او سرښندنې ښکلګه وړاندې کړې او د تل لپاره به تاریخ ورباندې ویاړي.

حفصه رضي الله عنها له ام عطیې رضی الله عنها څخه روایت کړی چې هغې ویل: زه له پیغمبرﷺ سره په اوو(۷) غزاګانو کې شریکه وم، زه د جګړې پر وخت له بارونو او سامانونو سره پاتې شوم. مجاهدینو ته به مې ډوډۍ برابروله او د هغوی د ټپیانو درملنه مې کوله.

انسؓ وایي: ام سلیم رضی الله عنها (دده مور)چې ژوندۍ وه نو تل به له یوې ډلې انصارو ښځو سره له رسول اللهﷺ سره په غزا کې ملګرې وه.

حشرج له خپلې پلرنۍ نیا څخه نقلوي چې هغې رضی الله عنها ویل: زه له شپږو تنو نورو ښځو سره د خیبر غزا کې له پیغمبرﷺ سره ووتم. څه وخت چې پیغمبرﷺ پوه شو ښځې هم ورسره غزا ته راغلي، نو مور پسې ېې څوک را ولیږه او ویې غوښتو! مور د پیغمبرﷺ خدمت ته حاضرې شوو نو د پیغمبرﷺ په خیره کې د قهر او غوسې نښې وې. مور ته ېې وویل: تاسو د څه لپاره او د چا په اجازه راغلي یئ؟ مونږ ورته وویل: یا رسول الله! مور تاسره راووتو، مجاهدینو ته به غشي ورکوو او به او ستوان به ورکوو، د ټپیانو درملنه به کوو او حماسي سندرې به وایو. پدې توګه به د اللهﷻ د لارې په جهاد کې خپله مرسته او

ketabton.com - The Digital Library

کمک کوو. رسول الله ﷺ راته وویل: پاڅئ او خپلو خیمو ته ولاړې شئ. هغه وایي: بیا کله چې الله تعالی خیبر فتح کړ نو رسول الله ﷺ له غنیمت څخه موږ ته د نارینه مجاهدینو سره سمې برابرې برخې راکړې. حشرج صاحب وایي، ما ترې پوښتنه وکړه چې څه شی په برخه کې درورسیدل؟ هغې وویل: میوې.[1]

فعالیت

د اسلامي تاریخ په اوږدو کې د هغو مجاهدو ښځو نومونه واخلئ چې په خپلو تورو او غږونو یې په جهادي معرکو کې حماسې زیرولي دي.

۳ـ د جګړې پر مهال د ښځو رول

ښځې په جهاد کې عموما په وروستیو لیکو کې په لوژستیکي او روغتیایي چارو کې، لکه د ټپیانو درملنه او د شهیدانو په انتقال او لیږدونه ، پخلي او اوبو رسولو کې له مجاهدینو سره مرسته کوي.

په وسله وال جهاد کې د ښځو دوندې اخیستلو شرط دادی چې په عملي جګړه کې به برخه نه اخلي، ابرو به یې له خطر څخه مصؤونه وي، پرده به مراعاتوي، او له سړو سره به اختلاط نه کوي که چیرې پورتنیو شرطونو تحقق نه مونده، نو بیا ښځو ته په وسله وال جهاد کې وندې اخیستل جواز نه لري.

پوښتنې:

۱ـ د حدیث ژباړه وواياست.

۲ـ د جګړې پر مهال د ښځو رول څه دی؟

۳ـ په مسلحانه جهاد کې د ښځو د وندې اخیستلوشرطونه وواياست.

کورنۍ دنده:

له معتبرسیرت کتاب څخه د احد په غزا کې د نسیبې رضی الله عنها دریځونه او مواقف ولولئ او په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.

---

۱ – السنن الکبري للنسائی

ketabton.com - The Digital Library

رښتينولي

عَنْ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِﷺ « عَلَيْكُمْ بِالصِّدْقِ فَإِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِى إِلَى الْبِرِّ وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِى إِلَى الْجَنَّةِ وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَصْدُقُ وَيَتَحَرَّى الصِّدْقَ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللَّهِ صِدِّيقًا وَإِيَّاكُمْ وَالْكَذِبَ فَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِى إِلَى الْفُجُورِ وَإِنَّ الْفُجُورَ يَهْدِى إِلَى النَّارِ وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَكْذِبُ وَيَتَحَرَّى الْكَذِبَ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللَّهِ كَذَّابًا ». [صحيح مسلم]

د راوي پېژندنه

د دغه جليل القدر صحابي نوم عبدالله د پلار نوم يې مسعود او د بنو هذيل قبيلې ته منسوب دی. شپږم شخص وو چې د اسلام په مبارک دين مشرف شو. دوه ځله يې حبشې ته هجرت کړی دی دريم ځل يې له حبشې څخه مدينې منورې ته هجرت وکړ. له رسول اللهﷺ سره به تل يو ځای او ملګری وو. له دې امله د اصحابو ترمنځ په صاحب العصا، صاحب الوسادة او صاحب المطهرة [1] مشهور وو. تل به يې په ډيره خوږه لهجه د قرآنکريم تلاوت کاوو، د علم او پوهې سمندر وو، د علمي مقام تر څنګ د حق د سنګر يو غښتلی مجاهد هم وو. په بدر، احد، خندق او نورو ټولو غزاګانو کې يې برخه اخيستې ده، د هجرت په دوه ديرشم (۳۲)کال د حضرت عثمانﷺ له شهادت څخه وروسته يې له نيمګړې نړۍ څخه رحلت وکړ.

د ځينو کلمو معنا:

۱ـ عَلَيْكُمْ بِالصِّدْقِ:	پر تاسو رښتيا ويل لازم دي
۲ـ يَهْدِى:	لارښوونه کوي
۳ـ الْبِرّ:	هر ډول ښې اوغوره کړنې اوخصلتونه
۴ـ مَا يَزَالُ الرَّجُلُ:	سړی تل اوهميشه
۵ـ يَتَحَرَّى الصِّدْقَ:	کوښښ او هڅه کوي د رښتيا ويلو
۶ـ يُكْتَبَ:	وليکل شي

۱ـ يعنې رسول اکرمﷺ ته به يې امسا په لاس کې ورکوله، تکيه او بالښت به يې ورته ايښود او د اوداسه اوبه به يې ورکولې.

ketabton.com - The Digital Library

۶ـ وَإِيَّاكُمْ وَالْكَذِبَ: او له دروغ ويلو څخه ځانونه وساتئ

۷ـ الْفُجُورِ: هرډول ناروا، ناوړه کار او خوی

د حديث ژباړه

له عبد الله بن مسعودﷺ څخه روايت دی چې رسول اللهﷺ فرمايلي دي: پر تاسو رښتيا ويل لازم دي، ځکه چې رښتيا انسان ته د نيکيو لارښوونه کوي او نيکي انسان ته د جنت لارښوونه کوي. بيشکه انسان، چې تل رښتيا وايي او د رښتيا ويلو هڅه کوي، نو د اللهﷻ په نزد به رښتينی وليکل شي او له درواغو ويلو څخه ځانونه وژغورئ، ځکه چې درواغ ويل سړي ته د ناروا‌وو په لور لارښوونه کوي او ناروا د دوزخ په لور لارښوونه کوي. ځينې وخت تل سړی درواغ وايي او د درواغو ويلو هڅه کوي، نو له دې امله د اللهﷻ په نزد درواغجن وليکل شي.

د حديث حکمت

د ټولو فضايلو، غوره کړنو او خويونو بنسټ رښتيا ويل دي. رښتيا ويل د ټولنيز اخلاقي نظام سرچينه ده او د ټولنې په وګړو کې يو په بل اعتماد راټوکوي. په درواغ ويلو سره په انساني ټولنه کې د بې باوری فضاء رامنځ ته کيږي چې دا کار د ټولنې د هر ډول فساد لامل ګرځي. له دې امله پيغمبر ﷺ پر انسانانو رښتيا ويل لازم کړي او له درواغو څخه يې منع کړي دي.

دحديث شريف ګټې

۱ـ د رښتيا وو حقيقت

رښتيا د حقايقو سره مطابقت ته ويل کيږي او مختلف ډولونه لري، لومړی يې په وينا کې رښتيا ويل دي، او هغه داسې چې وينا له هغه څه سره چې اخبار ورڅخه کيږي مطابقت ولري.

بل د نيت او ارادې رښتينولي ده چې د دې ډول رښتينولی ځای زړه دی، نو پر مسلمان لازم دي چې خپل زړه تل رښتينی او د هر ډول ريا، بدګمانيو، او ناوړه نيتونو څخه پاک وساتي.

بل په کړنوکې رښتينولي: انسان به مشروع چاري ترسره کوي، چې د عقيدی او وينا سره يې مطابقت ولري، او هغه کارونه چې د عقيدې او شعار په خلاف وي دروغ ګڼل کيږي.

ketabton.com - The Digital Library

۲ـ د رښتيا ويلو کوښښ

انسان بايد د ژوند په ټولو حالاتو کې تل رښتنی واوسي او هڅه وکړي چې ريښتينولي د ځان عادت وګرځوي، تر څو الله جل جلاله ورځخه خوښ شي او هم يې نوم د صديقينو په ډله کې وليکي اوجنت ته يې داخل کړي.

۳ـ د رښتيا ويلو ګټې

ريښتيا ويل ډيرې دنيوي او اخروي ګټې لري چې ځينې يې په لاندې ډول دي

- رښتيا ويل انسان د نيکيو لور ته وړي او له هر ډول بديو څخه يې ژغوري.
- رښتيا ويل زړه ته ډاډينه او آرامي وربښي.
- رښتيا ويل مؤمن له منافق څخه جلا کوي.
- رښتيا ويل په دنيا او آخرت کې انسان ته نجات ورکوي.
- رښتيا ويل د الله جل جلاله د خوښۍ لامل ګرځي.
- رښتيا ويل جنت ته د داخليدو لويه ذريعه ده.
- رښتيا ويل انسان ته د خير او برکت دروازې پرانيزي ،او رزق يې پراخوي.

۴ـ د درواغو حقيقت

درواغ د رښتيا ضد او د حقيقت پر خلاف د معلوماتو وړاندې کولو ته ويل کيږي.
درواغ لکه څرنګه، چې په ژبه وړاندې کيږي، همداراز د کړنې، نيت او ارادې له لارې هم تر سره کيدای شي. لکه يوځوک د بدکار د انجامولو اراده ولري او په ژبه د هغې پر خلاف وينا وړاندې کړي، په دې صورت کې ده خپل عمل او اراده پر ژبه دروغجنه وړاندې کړه.

۵ـ درواغ ويل لويه ګناه ده

درواغ ويل داسې عمل دی چې د اسلام د سپېڅلي دين څخه سربيره په ټولومذهبونو او اديانو کې يوه ناوړه پد يده ګڼل شوې ده. د اسلام مبارک دين د درواغو ټول ډولونه حرام کړي دي او درواغجن انسان ته يې درنده سزا ټاکلې ده.نولازمه ده چې د هر ډول درواغو څخه ځانونه وژغورو، ځوک چې درواغ وايي او يا د درواغ ويلو هڅه کوي الله

ketabton.com - The Digital Library

جل جلاله ېې بد ګڼي په دروغ ويلو د بنده خوی ګرځي او د الله جل جلالـه پـه نـزد د دروغجنو په ډله کې شميرل کيږي.

۶ـ د دروغو بدې اغيزې

دروغ ويل ډيرې بدې پايلې لري چې ځينې يې په لاندې ډول دي

- دروغ ويل د ټولو بديو اصلي عامل او د منافقت يوه برخه ده.
- دروغ ويل د نورو حقوق له منځه وړي.
- دروغ د انسان شخصيت بې ارزښته کوي.
- دروغ په ټولنه کې بې اعتمادي رامنځ ته کوي او د باور ټغر ټولوي.
- دروغ د بلې هرې ګناه تکيه ګاه ده.
- د دروغو له کبله انسان د جهنم کندې ته لوېږي.

پوښتنې:

۱-لاندې کلمې معنا کړئ:

الْبِرِّ:

مَا يَزَالُ الرَّجُلُ:

يَتَحَرَّى الصِّدْقَ:

يُكْتَبَ:

۲ـ دحديث ژباړه ووياست.

۳ـ رښتياويل څه ګټې لري؟

۴ـ دروغ څه بدې پايلې لري؟

ketabton.com - The Digital Library

د مجلس آداب

عَنْ عبدالله بْنِ عُمَرَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَنَّهُ نَهَى أَنْ يُقَامَ الرَّجُلُ مِنْ مَجْلِسِهِ وَيَجْلِسَ فِيهِ آخَرُ وَلَكِنْ تَفَسَّحُوا وَتَوَسَّعُوا). [صحيح البخاري]

د ځينو عبارتونو معنا

۱ـ أَنْ يُقَامَ الرَّجُلُ مِنْ مَجْلِسِهِ: چې يو څوک د ناستې له ځای څخه پاځول شي.

۲ـ وَيَجْلِسَ فِيهِ آخَرُ: او بل څوک په هغه ځای کې کښيني.

۳ـ وَلَكِنْ تَفَسَّحُوا: مګر په خپلو منځوکې پراخي راولئ.

۴ـ وَتَوَسَّعُوا: او د ځای پراخي راولئ.

د حديث ژباړه

له حضرت عبد الله بن عمر رضي الله تعالى عنهما څخه روايت دی، پيغمبر صلى الله عليه وسلم له دې څخه منعه کړې ده چې يو څوک له خپل ځای څخه پاځول شي او بيا پر ځای پې بل څوک کښيني، بلکې په خپلو منځوکې فاصله راولئ او خپل مجلسونه پراخه کړئ.

د حديث حکمت

د اسلام مقدس دين د ژوند هر اړخيز نظام وړاندې کړی. ستر او واړه ټول موضوعات پې پوښلي، آن د مجلس د آدابو وړه برخه پې هم پټه پرېښې نه ده، بلکې د هغې لپاره پې هم لارښوونې بيان کړې، په اسلام کې ټولو انسانانو ته د احترام په نظر کتل کيږي، ټول مساوي حقوق لري، هر راز توپيرونه ردوي، يوازې تقوى د توپير او لوړ تيا معيار دی. له دې کبله امر شوی چې څوک له خپل ځای څخه اوچت نه کړای شي او ناست خلک يا حلقه سره پراخه کړي او ياسره نژدې شي او نويو راغلو خلکو ته ځای ورکړي، څو ټول مسلمانان په مجالسو کې با وقاره وساتل شي. هيڅوک د کمې احساس ونه کړي او له دې سره سره څوک د مجلس له ګټو څخه هم بې برخې نه شي او په مجلس کې ځای ورکړ شي.

ketabton.com - The Digital Library

فعاليت

زده کوونکي دې دښوونکي په مرسته د مجلس نور آداب ووايي.

د حديث شريف ګټې

۱ـ د مجالسو ډولونه

انسان دې ته اړ دی چې له نورو سره ناسته ولاړه ولري، په مجالسو کې برخه واخلي. مجالس به له لاندې ډولونو څخه خالي نه وي

آ ـ نيک مجلسونه: لکه د پوهانو او علماوو سره ناسته، د علم د زده کړې حلقې او د وعظ او نصيحت مجلسونه چې د انسان په ژوند کې خورا ارزښت لري بايد داسې مجلسونه غنيمت وګڼل شي او پکې ونډه واخيستل شي.

ب ـ بد مجلسونه: دا هغه مجلسونه دي چې په کې ناکاره خلک راټول شوي وي يا په کې غيبت کيږي يا په کې درواغ ويل کيږي او يا نور د فساد تصميمونه په کې نيول کيږي له داسې مجلسونو څخه ډډه کول لازم او که څوک پکې ناست وي بايد ورڅخه پاڅيږي.

ج ـ مباح مجلسونه: دا هغه مجلسونه دي چې د پورتنيو منکراتو څخه خالي وي، خو کوم دنيوي يا اخروي خير هم په کې نه تر سترګو کيږي په دغه ډول مجالسو کې اشتراک کول کوم باک نه لري، خو غوره دا ده چې پکې ګډون ونه شي، ځکه چې وخت په کې ضايع کيږي.

۲ـ په مجلس کې ناست کس له خپل ځای څخه پاڅول ناروا کار دی

که څوک مجلس ته داخل شي، ده ته دا جايز نه دي چې بل څوک پاڅوي او دی د هغه پر ځای کښيني، ځکه داد متکبرينو عادت دی، او اسلام منعه کړی دی. له بل پلوه په دې کړنه کې د نورو سپکاوی او پرحقوقو بې تيری کول دي. د اسلام ستر پيغمبر صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: "مَنْ أَحَبَّ أَنْ يَتَمَثَّلَ لَهُ الرِّجَالُ بَيْنَ يَدَيْهِ قِيَامًا فَلْيَتَبَوَّأْ مَقْعَدَهُ مِنَ النَّارِ". [۱]

---

۱ – سنن ترمذی.

ketabton.com - The Digital Library

ژباړه: څوک چې دا خوښوي چې خلک ېې په مخ کې ولاړ وي، نو دی دې په جهنم کې د ځان لپاره ځای تیارکړي.

۳ـ د مجلس پراخول

که څوک له بهر څخه مجلس ته ورداخل شي او په مجلس کې دده د کیناستو ځای نه وي، نو مجلس کې په ناستو کسانو لازم دي چې په مجلس کې پراخي راولي او ده ته دکښیناستو ځای ورکړي. الله جل جلاله فرمایي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قِيلَ لَكُمْ تَفَسَّحُوا فِي الْمَجَالِسِ فَافْسَحُوا يَفْسَحِ اللَّهُ لَكُمْ...﴾ [المجادلة: ۱۱]

ژباړه: اي مؤمنانو کله تاسې ته وویل شي چې پراخه کړئ مجلسونه، نو بیا پراخي په کې راولئ. الله جل جلاله به پرتاسې پراخي راولي.

۴ـ مجلس ته د سلام په اچولو سره داخلیدل

مجلس نور آداب هم لري او په مختلفو احادیثو کې ذکر شوي دي چې د هغې له جملې څخه مجلس ته د داخلیدو پر وخت د سلام اچول دي. پیغمبر صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «إِذَا انْتَهَى أَحَدُكُمْ إِلَى الْمَجْلِسِ فَلْيُسَلِّمْ»[۱]

ژباړه: کله چې له تاسې څخه څوک مجلس ته داخلیږي باید سلام واچوي.

۵ـ د مجلس په آخر کې کیناستل

که څوک مجلس ته راشي نو باید هلته کښېني چیرې چې د ناستو خلکو پای وي او د مجلس منځ او یا سرته د تیریدو کوښښ دې ونه کړي. حضرت جابر بن سمرة (رضي الله تعالی عنه) فرمایي: «كُنَّا إِذَا أَتَيْنَا النَّبِيَّ ﷺ جَلَسَ أَحَدُنَا حَيْثُ يَنْتَهِي».[۲]

ژباړه: کله به چې موږ د پیغمبر صلی الله علیه وسلم مجلس ته راغلو، نو زموږ هریو به هلته کیناسته چیرې به چې د مجلس آخري برخه وه.

۶ـ د دوو خبرو اترو کوونکو تر منځ کیناستل نه دي په کار

که څوک په مجلس کې د ناستې اراده لري، نو باید د دوو داسې کسانو ترمنځ ځان ځای نه کړي چې هغوی په خپلو کې خبرې اترې سره کوي، تر څو د هغوی خبره او

---

[۱] - سنن أبی داود.

[۲] - سنن أبی داود.

ketabton.com - The Digital Library

رابطه غوخه نه شي. ځکه دا کار د نفرت او کرکې لامل ګرځي. پيغمبر (صلى الله عليه وسلم) فرمايلي دي: «لاَ يَحِلُّ لِرَجُلٍ أَنْ يُفَرِّقَ بَيْنَ اثْنَيْنِ إِلاَّ بِإِذْنِهِمَا».[1]

ژباړه: چا ته دا جايز نه ده چې د دوو کسانو تر منځ بيلتون راولي، مګر دا چې د هغوی په اجازه وي.

۷ـ که څوک د کوم حاجت له مخې له خپله ځايه پاڅيږي د بيا راتلو په صورت کې په خپل ځا ی کې د کيناستو حق لري

پيغمبرﷺفرمايلي دي: « مَنْ قَامَ مِنْ مَجْلِسِهِ ثُمَّ رَجَعَ إِلَيْهِ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ ».[2]

ژباړه: څوک چې له خپل ځای څخه پاڅيده او بيا خپل ځا ی ته راغی، نو هغه په خپل ځای د لومړيتوب حق لري.

پوښتنې:

۱ـ لاندې عبارتونه معنا کړئ:

أـ أَنْ يُقَامَ الرَّجُلُ مِنْ مَجْلِسِهِ

ب ـ وَيَجْلِسَ فِيهِ آخَرُ

ج ـ وَلَكِنْ تَفَسَّحُوا:

۲ـ د حديث مفهوم په يادو زده کړئ.

۳ـ د مجلس هغه آداب ووايئ چې د حديث الفاظ پرې دلالت کوي.

---

[1] - سنن ترمذی.

[2] - صحيح مسلم.

ketabton.com - The Digital Library

ketabton.com - The Digital Library

پنځه ويشتم لوست

د فقهې د اصولو پېژندنه

منل شوي علمي مېتودونه غوښتنه کوي مخکې له دې چې د يو علـم جزئيـات زده کـړو؛ په کار ده چې د هغه موضوع، موخه او له نورو علومو سره يې تړاو وپېژنو؛ په دې لوست کې تاسې ته همدا مطالب په تفصيل سره وړاندې کوو.

د فقهې د اصولو پېژندنه

د «فقه د اصولو» پېژندنه په دوه ډوله سره وړاندې کيږي، « د فقهې اصول» د دوو کلمو څخه د مرکب لفظ په توګه او « د فقهې اصول» د ځانګړی علم د نوم په توګه

« د فقهې اصول» د دووکلمو څخه د مرکب لفظ په توګه

د فقهې اصول لـه دوو کلمـو څخـه جـوړ شـوی ترکيـب دی يـو يې " فقـه" او بـل يې "اصول" دي.

(اصول) د عربي ژبې له مخې د اصل جمع دی چې بنسټ او بنياد ته وايي.

(فقه) په لغت کې د پوهې او ځيرکتيا په معنا ده او پـه اصـطلاح کـې پـه شـرعي احکـامو باندې داسې پوهې ته ويل کيږي چې له دلايلو څخه راوتلـې وي، لکـه چـې يـو څـوک وپوهيږي چې د لمانځه لپاره اودس شرط دی، ځکه چې الله تعـالى فرمـايلي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَـى الْكَعْبَيْنِ﴾ [المايدة: ۶] . په دې آيت کې د درې اندامونو په وينځلو او د يو اندام په مسح امر شوی او امر د فرض توب غوښتنه کوي، نو اودس د لمانځه لپاره فرض او شرط دی.

داسې پوهه فقه ده، خو که يو څوک يوازې د خپل کلي له امام څخه واوري چـې اودس فرض دی او بې اودسه لمونځ نه کيږي، نور يې په دليل پوه نه شي داسې پوهې ته فقه نـه ويل کيږي.

له علم څخه په دې ځای کې مراد راجح باور دی چې ظن او يقين دواړو ته ورشاملږي.

شرعي احکام: د مکلفينو د شرعي افعالو صفتونو ته شرعي احکام ويل کيږي، لکه فرض، واجب، مستحب، مباح،مکروه او حرام.

لکه چې ويل کيږي: رښتيا په وينا کې واجب او دروغ حرام دي.

ketabton.com - The Digital Library

د فقهې د اصولو پېژندنه دځانګړي علم په توګه

له هغه علم څخه عبارت دی چې په اجمالي توګه د فقهې دلایل، له هغو څخه د استفادې لارې چارې او د مجتهد صفات څرګندوي[1].

کله چې مونږ دې تعریف ته ښه ځیر شو درې لویې معناوې پکې پرتې دي.

۱- د فقهې اصول په اجمالي توګه د فقهي دلائل (قرآن، سنت، اجماع او قیاس) بیانوي، په تفصیلي توګه له هر آیت، حدیث ... څخه بحث نه کوي.

۲ـ د فقهې د اصولو علم له همدې دلایلو څخه د شرعي احکامو د راوېستلو څرنګوالی راښیي، هغه قواعد بیانوي چې په زده کړه ېې، له دلایلو څخه د احکامو استنباط آسانه کیږي.

۳ـ د فقهې د اصولو علم د مجتهد صفات او وړتیاوې بیانوي.

د فقهې د اصولو موضوع

د فقهې د اصولو موضوع شرعي دلایل، اصولی قواعد او شرعی احکام دي.

شرعی دلائل په دوه ډوله دي

۱ـ متفق علیها دلایل چې هغه قرآن، سنت، اجماع او قیاس دي.

۲ـ اختلافي دلایل چې ډېر ډولونه لري. مهم ېې په لاندې ډول دي:

- استحسان
- د صحابي مذهب
- مرسله مصالح
- استصحاب
- عرف(دود)

د فقهې د اصولو عالمان له دې دلایلو څخه په اجمالی توګه بحث کوي، د هغوی پېژندنه کوي، حجیت، د طلب ډولونه او ورڅخه د استنباط لارې چارې اصول بیانوی او د دوی په خپل مینځ کې مراتب او د تعارض په صورت کې د ځینو په نورو د ترجیح قواعد څیړي.

---

(۱) المنهاج : للبیضاوي

ketabton.com - The Digital Library

د فقهي د اصولو د علم د لوستلو موخه

د دې علم د زده کړې موخه له شرعی مصادرو (قرآن، سنت، اجماع او قیاس) څخه د احکامو د راوښتلو لارې چارې پېژندل دي، په داسې بڼه چې شرعي احکام د علمي اصولو او ضوابطو پر اساس راوایستل شی، د بشري هوا هوس او مزاجونو څخه اغیزمن نه شي، ځکه هر شرعي حکم قرآن، سنتو، اجماع او قیاس ته تکیه کوي، یا به په صراحت په هغو کې راغلی وي او یا به ورڅخه استنباط شوی وي. دا استنباط هر څوک سر ته نشي رسولای او نه په دې هکله د هر چا سلیقوی تفسیر او پوهه اعتبار لري، بلکې د شرعی احکامو استنباط ځانګړي اصول لري چې په همدې علم کې بیان شوي.

همدا ډول د دې علم په زده کړه شخص کولای شي چې د فقهاوو د مذاهبو له دلایلو څخه خبر شي، د هغوی د استدلال لیاری وپېژني، او د مختلفو مذاهبو په لاملونو باندې ځان پوه کړي چې ولې یې داسې نظریات وړاندې کړي.

همدارنګه د احکامو بدلون د حالاتو او وخت په بدلون باندې د دې علم په وسیله پېژندل کیږي، همدا علم دی چې فقهي او قانوني ستونزو ته د حل مناسبې لارې راپیدا کوي او نویو پېښیدونکو مسایلو ته (هغه چې پخوا نه دي پېښې شوي) احکام راوباسي.

د دې علم په واسطه شخص د قرآن او سنتو په پوهه کې تثبت او پوخوالی تر لاسه کوی.

د فقهي د اصولو تړاو د فقهي له علم سره

د فقهي په علم کې مسلمان خپل مکلفیتونه او مسؤلیتونه د خپل پروردګار، ټولنې او چاپېریال په وړاندې پېژني، چې څه شی د ده لپاره دی او څه پرې لازم دي، په دې توګه د اصولو د علم تړاو د فقهي له علم سره داسې دی لکه د ونې د بېخ تړاو له ښاخونو سره یا د بنسټ (تهداب) تړاو له ودانۍ سره. د فقهي اصول په شرعي دلائلو باندې د پوهې لپاره اساسي ضوابط او قواعد بیانوي، شخص ته د فقهي احکامو د استنباط لار پرانیزي او د دې وړ یې ګرځوي چې د وضع شویو قواعدو په رڼا کې د شرعي دلائلو څخه احکام راوکاږي.

کله چې مور غواړو د لمانځه حکم له دلیل څخه وپېژنو، د څو مقدمو پېژندلو ته اړتیا لرو:

۱ـ د شرعي احکامو پېژندل.

۲ـ د شرعی دلایلو (قرآن، سنت، اجماع او قیاس) اجمالي پېژندنه.

۳ـ له دې دلایلو څخه د حکم د راویستلو لارو چارو پېژندنه.

ketabton.com - The Digital Library

٤ـ د دې پېژندنه چې د يو څه غوښتل د امر په صيغې (وکړه) سره ترسره کيږي.
٥ـ مطلق امر چې د اباحت نښه پکې نه وي، د وجوب لپاره دی.
دا ټولې مقدمې د فقهې د اصولو د علم موضوعات دي.
له دې مقدمو وروسته قرآن ته ورګرځو، په قرآن کريم کې د لمانځه موضوع لټوو، د پلټنې وروسته دا آيت پيدا کوو چې الله تعالی فرمايلي: ﴿اقيموا الصلاة﴾ يعنې لمونځونه سم اداء کړئ دا هغه مطلق امر دی چې له موږ نه د لمانځه کولو غوښتنه کوي او مونږ په دې پوهيږو چې لمونځ فرض دی. دا وروستی پوهه فقه ده، نو ويلای شو چې د فقهې اصول د فقهې د علم اساس دی او هغه فورمولونه دي چې په واسطه يې له قرآن، سنتو، اجماع او قياس څخه فقه راويستلای شو.

فعاليت:

بيا همغه ذکر شوي محسوس مثال ته رجوع وکړئ.
شرعي مصادر= ټوټه.
د اصول فقه علم = د درزي توب پوهه.
او د نجاري سره هم اصول فقه پرتله کړئ.

پوښتنې:

١ـ د فقهې اصول له دوو کلمو څخه د مرکب لفظ او د ځانګړي علم د نوم په توګه راوپېژنئ.
٢ـ د فقهې د اصولو د علم موضوع څه شی ده؟ د څلورو اتفاقي او ځينو اختلافي دلايلو نومونه واخلئ.
٣ـ د اصولو د علم له لوستلو څخه موخه څه ده؟
٤ـ د فقهې د اصولو د علم اړيکې د فقهې له علم سره د مثال په ترڅ کې بيان کړئ.

ketabton.com - The Digital Library

شپږ ویشتم لوست

د فقهې د اصولو د علم پیدایښت او پراختیا

په تېر لوست کې مو د اصول فقه تعریف ، موضوع، موخه او له فقهې سره د دې علم اړیکه وپېژنده، په دې لوست کې موږ د دې علم له پیدایښت او پراختیا څخه بحث کوو او د دې علم ته زموږ اړتیا لولو. له هر څه مخکې اړینه ده چې د اسلام د لومړي پړاو د مسلمانانو وضعیت د دیني مکلفیتونو د پېژندلو په هکله معلومات ترلاسه کړو او په دې ځان پوه کړو چې دوی د قرآن او سنتو په معنی او غوښتنو څنګه پوهیدل؟ او اجماع او قیاس په څه ډول مینځ ته راغلل؟

له قرآن کریم او سنتو څخه د صحابه کرامو فهم

د شرعي احکامو لومړی مصدر قرآن کریم دی. مسلمانان د قرآن کریم په واسطه د خپلې عقیدې او شرعي مکلفیتونو ستره برخه پېژني، چې د څه لپاره پیدا شوی او څه باید وکړي. رسول اکرمﷺ قرآن کریم په خپلو اقوالو افعالو او تقریراتو سره تفسیر کړی.

قرآن کریم د عربو په ژبه نازل شوی، نو هغه چا چې د قرآن کریم د نزول په زمانه کې ژوند کاوه، د قرآن کریم په مفهوم پوهېدل، همدا راز پې د نبي کریمﷺ په خبرو داسې پوهېدل، لکه څنګه چې موږ او تاسو د خپلو ملګرو په خبرو پوهیږو، پرته له دې چې د ژبې او اصولو قواعد په کتابونو کې ورته وګورو.

کله چې له موږ څخه ښوونکی یا پلار د کوم کار د کولو یا نه کولو غوښتنه وکړي، د دوی د غوښتنې په ډول پوهیږو چې ایا ټینګه غوښتنه کوي او که سطحي، ایا په نه کولو یا کولو پې راته جزا راکوي او که نه؟ دا پرته له دې تشخیصه چې د دې غوښتنې ډول وپېژنو چې واجب ده که مستحب، مکروه ده که حرام. د لومړني نسل مسلمانان هم همدا راز وو. دوی د قرآن کریم په معنا پوهېدل د رسول اللهﷺ د خبرو څخه پې مطلب اخیسته پرته له دې چې د ژبې او اصولو په قواعدو پوه شي.

کله به چې کومه پېښه رامنځ ته کېده رسول اللهﷺ د دوی په منځ کې موجود وو. د الله په حکم پې ورته حکم کاوه، دوی به د حکم د ټینګار درجه له وینا او د موجودو نښو نښانو څخه پېژندله. په ځینو چارو به پې امر ورته کاوه، له ځینو څخه به پې منع کول، د ځینو چارو لور ته به پې ترغیبول. داسې ډېر لږ پېښېدل چې د کړو وړو په شرعي صفاتو باندې تصریح وشي او وویل شي چې دا څیزونه فرض، سنت، مباح، مکروه یا حرام دي.

ketabton.com - The Digital Library

د اسلامي قلمرو له پراختيا څخه وروسته د احکامو استنباط

څه موده وروسته، کله چې د مسلمانانو د فتوحاتو لمن وغځېده او ډېر عجمي ملکونه په اسلامي قلمرو کې راغلل، دوی په عربي ژبه نه پوهېدل، نو دې ته اړتيا پيدا شوه څو د عربي ژبې د زده کړې لپاره هغه قواعد کېږدي، چې د عقل او دود څخه اخيستل شوي وو، ترڅو خلک د خدای او رسول په مراد پوه شي. په همدې وخت کې د فقهې د اصولو علم وټوکېده.

د اجماع پيدايښت

کله چې رسول الله ﷺ رحلت وکړ، د ده امت په ځينو مسائلو اجماع وکړه. د رسول الله ﷺ د وينا مطابق د ده امت په خطا نه سره يو ځای کېږي. په دې مهال اجماع د شرعي د مصادرو د دريم مصدر په توګه رامنځ ته شوه.

په قياس کې پراخوالی

کله چې د اسلامي قلمرو دايره پراخه شوه، داسې نوي مسايل پيدا شول چې د رسول الله ﷺ په زمانه کې نه وو پېښ شوي. په قرآن او سنتو کې ېې په صريح ډول حکم نه موندل کېده، نو د امت فقهاؤو له قرآن، سنت او اجماع څخه د احکامو په راويستلو کې اجتهاد وکړ. په داسې توګه چې نوي مسايل ېې په منل شويو ثابتو مسايلو قياس کړل او په دې توګه د قياس په نوم د شرعي احکامو څلورم مصدر رامنځ ته شو.

د اصولو د علم پيدايښت

له قرآن او سنتو څخه په استنباط د اجماع په حقيقت او د قياس په څرنګوالي کې د صحابه وو له پېړۍ څخه اختلاف راشروع او د وخت په تېريدو او د نويو مسايلو په زياتېدو دې اختلاف علمي بڼه غوره کړه. د هجرت په دويمه پېړۍ کې علماوو د احکامو د استنباط اصول وضع کړل او د فقهې د اصولو نوم يې ورباندې کېښود.

د فقهې اصولو علم ته اړتيا

کېدای شي څوک ووايي د اصولو علم ته د دې لپاره اړتيا نشته چې د اجتهاد دروازه تړلې ده او دفقهې اصول په اجتهاد کې کارول کېږي، خو څېړونکي عالمان وايي: د اجتهاد دروازه به د قيامت تر ورځې پورې د څه شرايطو لاندې خلاصه وي. اجتهاد د اصولو علم ته اړتيا لري نو د امت د ځينو علماوو لپاره د دې علم زده کړه لازمي ده، تر څو خلکو ته د هغوی مکلفيتونه په ګوته شي.

ketabton.com - The Digital Library

کله چې علماوو د اجتهاد د دروازې د بندېدو فتوا ورکړې، په شرعي مسایلو کې ېې د ځینو جاهلانو جرأت ته کتلي. پرته له دې چې هغوی د اجتهاد څانګړتیاوې ولري، د اجتهاد دعواوې به ېې کولې.

هغه څوک چې د اجتهاد مرتبې ته نه وي رسېدلی، د هغوی لپاره هم د دې علم پېژندل ګټور دي، ځکه د امامانو د اقوالو ماخذونه او د دوی د مذهبونو بنسټونه پېژني، د اصولو دعلم په زده کړه د هغوی د اقوالو تر مینځ پرتله او د دوی په منهجونو او لارو نوي مسایل تخریج کولای شي.

په دې توګه ویلای شو له دې علم څخه د اسلامی شریعت په هکله په دریو عمده برخو کې ګټه اخیستل کېدای شي.

۱ـ هغه احکام چې د وخت او ځای په بدلون بدلېږي، که څه هم د پخوانیو فقهاوو نظریات پکې موجود وي، خو د وخت په تېرېدو نویو احکامو ته هم اړتیا لیدل کیږي.

۲ـ هغه نوي مسایل چې پخوا مطرح نه وو، لکه بانکونه، د شرکتونو ځینې ډولونه، ځینې طبي پوښتنې او نور، داسې مسایل هم نویو احکامو ته اړتیا لري.

۳ـ د مخکینیو فقهاؤو د نظریاتو ترمنځ پرتله او په هغو کې حق ته نژدې نظر پیدا کول هم د فقهې د اصولو په علم ترسره کیږي.

د وضعي قوانینو پوهان هم د اصولو علم ته اړتیا لري

لکه څنګه چې د شرعي احکامو پوهان د اصولو علم ته اړتیا لري همدا ډول د وضعي قوانینو پوهان هم د اصولو علم ته اړتیا لري. هغه اصول او قواعد چې په دې علم کې لوستل کیږي، لکه قیاس او د هغه اصول، د نصوصو د تفسیر قواعد، په معانیوو باندې د الفاظو د دلالت لارې چارې او د مختلفو دلایلو ترمینځ د تعارض په صورت کې د هغوی تر مینځ ترجیح دا ټول د وضعي قوانینو دپوهانو په کاریږي. تر څو چې وربانديې پوه نه شي په خپل مسلک کې بریالی کیدای نه شي.

له همدې امله د شرعیاتو او حقوقو په پوهنځیو کې د اصول فقهې مضمون لوستل کېږي. که قاضي، وکیل او یا د قانون استاد اصول فقه ولولي، په خپله دنده کې به برلاسی وي.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت

آیا داسې پېښه مو یادیږي چې کومه منازعه، جنجال د دوو معامله دارانو تر مینځ د عقد د الفاظو له تفسیر څخه راټوکېدلی وي؟

که نه دریادیږي، نو کوښښ وکړئ چې په خپل خیال کې داسې یو جنجال راجوړ کړئ، بیا یې په خپله کتابچه کې ولیکئ او نورو ته یې واوروئ. له لاندې مثال څخه ګټه واخلئ.

مثال: اشرف کریم ته وویل: زه دا موټر په سل زره افغانۍ دربانديې پلورم، کریم وویل: زه یې قبلووم، کله چې کریم د هغه د تسلیمولو غوښتنه وکړه، اشرف وویل: زما مقصد په راتلونکي وخت کې وعده کول وو، ځکه مې د مضارع لفظ کارولی. زه عقد پوره نه ګڼم، په راتلونکې کې مې که زړه شو موټر به دربانديې وپلورم او که نه، نه یې دربانديې پلورم.

د اصول فقه د علم د پراختیا مرحلې

د فقهې د اصولو علم د خپلې پراختیا په جریان کې له مختلفو مرحلو څخه تیر شوی، چې په لاندې توګه بیانیږي:

اصول فقه د اسلام په لومړي دور کې

کله چې مور د رسول الله ﷺ ژوند مطالعه کوو، داسې څه پکې پیدا کېږي چې هغه ﷺ د صحابه کرامو رضوان الله علیهم اجمعین اجتهاد تایید کړی. په یو حدیث شریف کې راځي چې کله رسول الله ﷺ معاذ بن جبل یمن ته استاوه، ورته یې وفرمایل: کله چې له کومې قضایې پېښې سره مخامخ شی څه به کوی؟ معاذ ﷺ ورته وویل: زما پربکړه به په قرآن کریم وي، پیغمبر ﷺ ورته وفرمایل: که پر قرآن کریم کې ونه موندل شي. ویې ویل: د رسول الله ﷺ په سنتو به فیصله کووم، بیا یې ورته وفرمایل: که په سنتو کې دې ونه موندله، ځواب یې ورکړ: بیا به اجتهاد کووم او کمی به پکې نه کووم، معاذ رضی الله تعالی عنه ویلي: رسول الله ﷺ زما سینه وټپوله او بیا یې وفرمایل:

«ټوله ستاینه هغه الله لره ده، چې د رسول الله استازی یې پر هغه څه بریالی کړ چې رسول الله یې خوښوي»[1]

---

۱ دا حدیث د خلکو په ژبو مشهور دی، امام ابن القیم په خپل کتاب (اعلام الموقعین) تحقیق پکې کړی او د شهرت له کبله او همدار راز د خلکو د منلو له امله یې اعتباري ګڼلی او ویلی یې دي: په ځینو طرقو کې یې سند متصل دی. (إعلام الموقعین جـ ۱ ص ۲۰۲).

ketabton.com - The Digital Library

د مسلمانانو دويم خليفه عمرﷺ ابو موسىٰ الاشعري ته يو ليک استولی چې په هغې کې د خلکو ترمنځ د پريکړې بنيادونه ذکر شوي، چې د تل لپاره د قضاء د اصولو لپاره اساسي مرجع ده. په دې کې ليکي: په هغو مسايلو کې چې ورکې زړه نازړه شي او په قرآن او سنتو کې نه وي، ځان ښه ورباندې پوهوه هغو ته ورته مثالونه پيژنه، بيا چارې يو پر بل قياس کوه، چې الله ته خوښه او حق ته نژدې درته ښکاره شي هغه پلې کوه.

دا دواړه اثره په ښکاره د اجتهاد قواعد بيانوي او تائيد پې کوي، حال دا چې اجتهاد د اصول فقه مغز دی او دا علم په اجتهاد راڅرخيږي.

د فقهې د اصولو علم د تابعينو په زمانه کې

دې دور کې د پيښو او واقعاتو د ډېروالي له امله اجتهاد هم ډېر شو، داسې خلک پيدا شول چې يوازې په علم او فتوا بوخت وو. لکه سعيد ابن المسيب، ابراهيم النخعی، عطاء بن ابي رباح او داسې نور رحمهم الله تعالی، دوی ټولو په يوه مسأله کې د ښکاره نص دنه موجوديت په صورت کې ځانګړې لارې چارې درلودلې، له قياس، مصالحو او داسې نورو وسايلو څخه پې کار اخيست.

د فقهې د اصولو علم د مجتهدينو امامانو په زمانه کې

د دويمې پيړۍ له پيل څخه وروسته د اجتهاد ميتودونه، په ښکاره بڼه يو تر بله ګوښې شول، د هر امام د استنباط قواعد د هغه په ذهن کې واضح وو چې د هغو په رڼا کې به پې اجتهاد کاوو، لکه امام ابوحنيفه رحمه الله (۸۰ هـ ۱۵۰ هـ) چې په اجتهاد کې به پې لومړی په قرآن، بيا په سنتو تکيه کوله. که حکم به پې په هغو کې ونه موند، د صحابه وو فتاواوو ته به پې رجوع کوله، د هغوی تر مينځ اتفاقی مسايلو څخه نه تېرېده او که د دوی ترمينځ به اختلاف وو، نو په هغو کې به پې يو نظر غوره کاوو. د دوی له ويناوو پرته پې د تا بعينو په نظريو ځان پابند نه ګاڼه. ځکه هغه پې هم د ځان په خير بلل.که د کوم يوو نظر به پې خوښ شو، نو هغه به پې اخيسته او که نه، د قرآن او سنتو په رڼا کې به پې په خپل نظر عمل کاوه.

همدا راز امام مالک رحمه الله تعالی (۹۳ _ ۱۷۹هـ) د شرعي احکامو په استنباط کې خپل اصول او ضوابط درلودل، چې له قرآن او احاديثو څخه پې وروسته د مدينې منورې خلکو عمل ته اعتبار ورکاوو. د مدينې د خلکو عمل د ده په نظر حجت وو او له هغې

ketabton.com - The Digital Library

څخه مخالفت ته پې جواز نه ورکاوو. همدا راز مرسله مصالح هم د نورو علماوو په نسبت د امام مالک رحمه الله تعالی په نزد زیات معتبر ګڼل شوي.

په دې توګه په دې پېړۍ کې ډیر فقهاء کرام موجود وو چې په اجتهاد کې پې ځانګړې تګلارې او اصول درلودل او په هغو روان وو، خو د دوی د تګلارو معیارونه په ځانګړي کتاب کې نه وو راټول شوي.

دا لړۍ همداشان روانه وه چې بیا امام شافعي رحمه الله تعالی (۱۵۰ _ ۲۰٤هـ) راغی. ده د فقهې په اصولو کې لومړی کتاب د (الرسالة) په نوم ولیکه. په دې کتاب کې د دې علم اړونده دقیقې قضیې په ښه توګه بیان شوي چې د اصولو د علم تر ټولو پخوانی کتاب شمېرل کیږي او پر نورو اصولي موضوعاتو سربېره اوامر، نواهي، بیان، خبر، نسخه او د قیاس د منصوصي علت حکم پکې څېړل شوی.[1]

فعالیت:

یو زده کوونکی دې د امام ابوحنیفه، بل دې د امام مالک او دریم دې د امام شافعي رحمه الله تعالی په هکله لنډ معلومات ورکړي.

پوښتنې:

۱ـ صحابه په قرآن او سنتو څنګه پوهېدل؟ آیا د فقهې د اصولو د علم په واسطه پې احکام ورڅخه راویستل او که په خپل ذوق او سلیقه؟

۲ـ د اسلامي قلمرو له پراخېدو وروسته د احکامو په استنباط کې څه بدلون راغی؟

۳ـ اجماع څه مهال رامنځته ته شوه؟ او قیاس څنګه پراخه شو؟

۴ـ د اصولو علم څنګه راپیدا شو؟

۵ـ د اصولو علم ته په کومو برخو کې اړتیا ده او څه ګټه لري؟

۶- داسې یو حدیث ووایاست چې د اجتهاد په اصولو او روا والي دلالت کوي.

۷- د عمر رضي الله عنه د هغه لیک لنډیز ولیکئ چې ابو موسی الاشعري ته پې استولی وو.

۸- د مجتهدینو امامانو د اجتهاد د اصولو په هکله خپل لنډ معلومات ولیکئ.

۹- د فقهې د اصولو لومړنی کتاب څه نومیږي، چا لیکلی او څه شی پکې څېړل شوي؟

---

(۱)مقدمة ابن خلدون ص٤٥٥.

ketabton.com - The Digital Library

اوويشتم لوست

د فقهي د اصولو مدارس

د فقهي د اصولو له مدارسو څخه هغه ميتودونه او تګلارې مراد دي چې زمونږ د اصولو علماوو کارولي او زمونږ د اصولو کتابونه وربانديې مشتمل دي. دا تګلارې درېو ډولو ته وېشلای شو:

۱- د فقهاوو مدرسه.

۲- د أصوليانو مدرسه.

۳- د پورتنيو دواړو تګلارو يوځای کوونکې مدرسه.

لومړی: د فقهاوو مدرسه

ددې مدرسې پيروانو د فقهي فرعي مسايل راټول کړل، يو بل ته ورته مسألو ته يې ګڼ أصول جوړ کړل. داسې يې وپټپله چې دا اصول د مجتهدينو امامانو په ذهن کې وو او د هغو پر بنسټ يې دا فرعي احکام استنباط کړي. نو په دې مدرسه کې فقهي فروع له اصولو څخه مخکې منځ ته راغلي. بيا د فروعو د استقراء په نتيجه کې د هغو لپاره اصول استنباط شوي.

دې تګلارې ته حنفي فقهاوو ډېر خدمتونه کړي، چې اوس يې د حنفي تګلارې په نوم شهرت موندلی.

ددې تګلارې تعقيبوونکي ځينې مشهور کتابونه دادي:

۱- أصول الجصاص، د امام ابوبکر احمد بن علي رازي جصاص (متوفی:۳۷۰ هـ) ليکنه.

۲- کنز الوصول الی معرفة الأصول، د امام فخرالاسلام علي بن محمد بزدوي (متوفی: ۴۸۲ هـ) ليکنه.

۳- أصول السرخسي، د امام ابوبکر محمد بن احمد بن سهل سرخسي (متوفی: ۴۸۳ هـ) ليکنه.

دويم: د اصوليانو مدرسه

دې مدرسې ـ چې د متکلمينو مدرسه هم ورته وايي ـ د فقهي له فروعاتو پرته يوازې د اصولی قاعدو پياوړتيا ته پام اړولی. که څه هم ددې مدرسې زياتره پيروان د شافعي مذهب علما دي، خو په دې مدرسه کې د مذهبي تړاو اغېز ډېر کم ليدل کيږي. ځرنګه چې د فقهي فرعي مسايل د اصولي قاعدو پر بنسټ راويستل کيږي، نو غوره داده چې دا قاعدې خپلواکه او مستقلې وي.

ketabton.com - The Digital Library

ددې مدرسې ځينې مشهور کتابونه په لاندې ډول دي:

۱- اللمع، د امام ابواسحاق شيرازي (متوفی: ۴۷۶هـ) ليکنه.

۲- المستصفی، د امام حجة الاسلام ابوحامد محمد غزالي (متوفی: ۵۰۵ هـ) ليکنه.

۳- الإحکام في أصول الأحکام، د امام سيف الدين آمدي (متوفی: ۶۳۱ هـ) ليکنه.

۴- المحصول، د امام فخرالدين رازي (متوفی: ۶۰۶ هـ) ليکنه.

دريم: د فقهاوو او اصوليانو د تګلارو يوځای کوونکې مدرسه

پدې کې شک نشته چې لومړنۍ دواړه مدرسې يو لړ ښېګڼې او مثبت ټکي لري. هره يوه يې داسې ځانګړتياوې لري چې په بله کې نه لېدل کيږي. پر همدې بنسټ ځينو علماوو د اصولو داسې کتابونه وليکل چې د دواړو مدرسو نظريات يې پکې راټول او يوه تګلاره يې ترې جوړه کړه.

ددې مدرسې مهم کتابونه دادي:

۱- بديع النظام الجامع بين کتابي البزدوي والإحکام، د امام مظفرالدين احمد بن علي ساعاتي حنفي (متوفی:۶۴۹ هـ) ليکنه.

۲- التنقيح و شرحه التوضيح، د صدرالشريعة عبدالله بن مسعود حنفي (متوفی: ۷۴۷ هـ) ليکنه.

۳- شرح التوضيح، د شيخ سعد الدين عمر تفتازاني شافعي (متوفی: ۷۹۲ هـ) ليکنه.

۴- التحرير، د ابن الهمام حنفي (متوفی: ۸۶۱ هـ) ليکنه او التقرير شرح التحرير، د ليکوال د شاګرد، محمد بن امير الحاج (متوفی: ۸۷۹ هـ) ليکنه.

۵- مسلم الثبوت، د محب الله بن عبدالشکور بهاري (متوفی: ۱۱۱۹ هـ) ليکنه.

پوښتنې:

۱- د فقهې د اصولو مدارس څو دي؟ نومونه يې واخلئ.

۲- د هرې مدرسې ځانګړتياوې بيان کړئ.

۳- د اصولي مسايلو په څېړنه کې د فقهاوو او متکلمينو ميتودونه پرتله کړئ او هم د متکلمينو ځانګړتياوې بيان کړئ. همدا راز د دواړو ډلو د ځينو کتابونو نومونه هم واخلئ.

۴- ولې ځينو اصوليانو د فقهاو او متکلمين د تګلارو د يو کولو په اړه کتابونه وليکل؟ په دې اړه د درې کتابونو نومونه واخلئ.

کورنۍ دنده:

په لوست کې د يادو شويو کتابونو پرته د اصولو د علم د نورو شپږو کتابونو نومونه وليکئ.

ketabton.com - The Digital Library

د اسلامي شريعت مصادر (مآخذ)

د اسلامی شريعت څلور مصادر دي چې قرآن کريم او سنت نبوي يې اصلی او لومړني مصادر دي او اجماع او قياس په دويم مرحله کې ځای لري. په دې لوست کې به د قرآن کريم په اړه معلومات درکړو.

قرآن کريم

الله جل جلاله پر خپل پيغمبر قرآن کريم رانازل کړی او په قرآن کې يې د ژوندانه لارې چارې ټاکلي. الله ﷻ په خپل کتاب کې د انسانانو لپاره عقيده، عبادت، د ژوندانه نظام او نور ټول هغه شيان روښانه کړي چې انسانان ورته د دنيا او آخرت په هکله اړتيا لري. که چيرې انسانان ايمان راوړي، د قرآن کريم پر لارښوونو ځان پوه کړي او وربانديې عمل وکړي نو له شکه پرته به د انسانيت لوړو درجو ته ورسيږي.

قرآن کريم د شريعت لومړی مصدردی

الله جل جلاله فرمايي: ﴿وَأَنِ احْكُمْ بَيْنَهُمْ بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ وَلَا تَتَّبِعْ أَهْوَاءَهُمْ وَاحْذَرْهُمْ أَنْ يَفْتِنُوكَ عَنْ بَعْضِ مَا أَنْزَلَ اللَّهُ إِلَيْكَ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَاعْلَمْ أَنَّمَا يُرِيدُ اللَّهُ أَنْ يُصِيبَهُمْ بِبَعْضِ ذُنُوبِهِمْ وَإِنَّ كَثِيرًا مِنَ النَّاسِ لَفَاسِقُونَ۝أَفَحُكْمَ الْجَاهِلِيَّةِ يَبْغُونَ وَمَنْ أَحْسَنُ مِنَ اللَّهِ حُكْمًا لِقَوْمٍ يُوقِنُونَ﴾ [المائدة: ۴۹ــ۵۰]

ژباړه: نو ای محمده ﷺ، ته د الله له نازل کړي قانون سره سم ددې خلکو د چارو فيصله وکړه او د هغو د خواهشاتو پيروي مه کوه. پام کوه چې دا خلک تا په فتنه کې وانه چوي. ديوې ذرې په اندازه هم له هغه هدايت نه وانه وړي چې الله تاته درلېږلی دی. که دوی ورڅخه مخ واړوي نو وپوهيږه چې الله ﷻ ددوی د ځينو ګناهونو په مجازات کې په غم کې ددوی د لتاړولو اراده کړې ده او دا حقيقت دی چې دا خلک زياتره فاسقان دي. (که دوی د خدای له قانون څخه مخ اړوي) نو آيا بيا د جاهليت فيصله غواړي؟ په داسې حال کې کوم خلک چې پر الله ﷻ باور لري د هغو په نزد له الله نه بل غوره فيصله کوونکی هيڅ نشته.

قرآن کريم د شريعت د دلايلو بنسټ دی. د شريعت نور دلايل لکه سنت، اجماع او قياس له قرآن څخه اخيستل شوي او د حجيت ثبوت يې پر قرآن کريم ولاړ دی.

قرآنکريم د فقهي احکامو لومړی مصدر دی.

قرآنکريم د بشريت لارښود دی، د انسانيت د اصلاح لپاره زرينې لارښوونې لري ترڅو انسانان له هلاکت څخه وژغوري، دغه لارښوونې هر اړخيز دي. د عقيدی اصلاح، د

ketabton.com - The Digital Library

اخلاقو اصلاح او همدا راز د عبرت په موخه د پخوانيو امتونوکيسې په قرآنکريم کې راغلي دي. خو د فقهی احکامو آيتونه يې پنځه سوو ته رسيږي چې له هغو څخه فقهي احکام استنباط کيږي.

د قرآن کريم تعريف

که څه هم قرآن کريم د زيات شهرت له امله تعريف ته اړتيا نه لري، خو بيا هم اصوليانو د قرآن تعريف ته پام اړولی او په دې هکله يې داسې ويلي: «هو القرآن المنزل على رسول الله ﷺ المكتوب في المصاحف المنقول عن النبي ﷺ نقلا متواتراً بلا شبهة» قرآن کريم پر رسول الله ﷺ هغه نازل شوی کتاب دی چې په سپارو کې ليکل شوی او له کومې شبهې پرته په متواتر ډول له رسول الله ﷺ څخه نقل شوی.

د قرآن کريم په اړه بايد په لاندې ټکو وپوهيږو

لومړی: قرآن کريم يوازې همغه کتاب ته ويل کيږي چې پر محمد ﷺ نازل شوی. په دې بنسټ نورو اسماني کتابونو، لکه تورات او انجيل ته چې پر محمد ﷺ نه دي نازل شوي، قرآن کريم نشو ويلای.

دويم: د لفظ او معنا دواړو مجموعې ته قرآن ويل کيږي. په تعريف کې د المكتوب ټکی د (ثابت) په معنا دی. دا ځکه چې په پاڼو کې موږ ته يوازې ټکي ښکاري. نه لفظ اورو او نه معنا وينو، بلکې لفظ او معنا پدې ټکو کې پراته او نغښتي دي. نو ويلای شو چې د قرآن کريم لفظ په حقيقي ډول ثابت دی او معنا يې په تقديري توګه په ټکو کې پرته ده.

دريم: قرآن کريم موږ ته په متواتر ډول رارسيدلی، يعنې داسې يوه ټولي تر موږه رارسولی چې په درواغو باندې د هغوی توافق او يووالی ناشونی دی. دا ځکه چې د شمېر پر ډېروالي سربېره هغوی له يوې سيمې او يو قوم څخه هم نه دي. دا تواتر د قرآن کريم د نقلولو په ټولو پړاوونو کې موجود دی. لومړی، وروستی او منځنی پړاو د تواتر له نظره هيڅ توپير سره نه لري او ټول سره يو برابر دي.

پدې بنسټ هغه قراءتونه چې په متواتر ډول ندي رانقل شوي، له قرآن کريم څخه نه شمېرل کيږي، لکه د عبدالله بن مسعود څخه په روايت شوي قراءت کې چې د ﴿فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ﴾ [البقرة: ١٩٦، المائدة: ٨٩] په پای کې د (متتابعات) ټکی ورزيات شوی. علما وايي چې پدې قراءت کې د (متتابعات) ټکی د عبدالله بن مسعود له پلوه د (ثلاثة أيام) تفسير دی او د قرآن له الفاظو څخه نه شمېرل کيږي.

ketabton.com - The Digital Library

څلورم: قرآن کریم د الله تعالی له ژمنې سره سم له زیاتونې او کمونې څخه محفوظ دی. الله ﷻ فرمایي: ﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ﴾ [الحجر: ۹] **ژباړه:** موږ پر تا قرآن نازل کړی او موږ پخپله د هغې ساتونکي یو.

په قرآن کریم کې د خلکو له خوا، نه کومه زیاتونه او کمونه رامنځته شوې او نه څوک ددې توان لري چې په قرآن کریم کې زیاتوالی او نقصان راولي. دا ځکه چې الله ﷻ پخپله د قرآن کریم د ساتنې او حفاظت ژمنه کړې.

پنځم: قرآن کریم معجز کتاب دی او هیڅ بشر نشي کولای چې د قرآن په څېر کتاب ولیکي. الله ﷻ فرمایي: ﴿قُلْ لَئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنْسُ وَالْجِنُّ عَلَى أَنْ يَأْتُوا بِمِثْلِ هَذَا الْقُرْآنِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا﴾ [الإسراء: ۸۸].

ژباړه: ووایه (ای محمده) که انسانان او پېریان ټول لاسونه یو کړي او ددغه قرآن غوندې دکوم شي د راوړلو هڅه وکړي، نو رابه یې نشي وړلای، که ټول یو له بل سره مرسته وکړی هم.

فعالیت

په قرآن کریم کې د بقره سورت درویشتم او د هود سورت دیارلسم آیت ولولئ او د قرآن کریم د هغې تحدي او ننګونې په اړه معلومات ورکړئ چې قرآن کریم عربو ته د قرآن کریم په څېر کتاب جوړولو په اړه اعلان کړې وه.

د قرآن د اعجاز اړخونه

د قرآن کریم لومړی اعجاز دا وو چې په خپل بلاغت سره یې ټول عرب حیران کړل، ځکه هغوی پخوا هیڅکله دومره له بلاغته ډک کلام نه وو اورېدلی.

سره له دې چې قرآن په یوه نالوستي شخص نازل شوی، خو د ژوند لپاره یې داسې نظام وړاندې کړ چې تل پر بل هر نظام لوړ او پورته دی. دا نظام په هغو اعتقادي اصولو، عملي احکامو او لوړو اخلاقي ارزښتونو مشتمل دی چې بشر ورته ټینګه اړتیا لري او په ټولنه کې امن، پراخي، نېکمرغي او ډاډ رامنځته کولی شي. که چېرې قرآن د الله ﷻ کلام نه وای او پیغمبر ﷺ له ځانه جوړ کړی وای، نو هرو مرو به یکې ټکر او اختلاف موجود وو.

دا هم د قران کریم اعجاز دی چې عرب یې د پخوانیو امتونو له هغو پېښو خبر کړل چې دوی یې په اړه هیڅ معلومات نه درلودل. الله ﷻ په دې اړه فرمایي: ﴿تِلْكَ مِنْ أَنْبَاءِ الْغَيْبِ

ketabton.com - The Digital Library

نُوحِيهَا إِلَيْكَ مَا كُنْتَ تَعْلَمُهَا أَنْتَ وَلَا قَوْمُكَ مِنْ قَبْلِ هَذَا فَاصْبِرْ إِنَّ الْعَاقِبَةَ لِلْمُتَّقِينَ﴾ [هـود: ٤٩].

ژباړه: (ای محمدﷺ!) دا غیبي خبرونه دي چې موږ یې تاته وحی کوو. له دې نه مخکې نه ته وربانديې پوهېدلې، نه ستا قوم، نو صبر وکړه، راتلونکې د پرهېزګارانو (په ګټه) دی.

د قرآن کریم بل اعجاز دا دی چې په راتلونکې کې د پېښېدونکو واقعاتو په اړه یې خلکو ته خبر ورکړ. دا پېښې وروسته د قرآن له وینا سره سمې رامنځته شوې. د الله ﷻ دا وینا له همدې جملې څخه ده چې فرمایي: ﴿الم ۞ غُلِبَتِ الرُّومُ ۞ فِي أدنى الْأَرْضِ وَهُمْ مِنْ بَعْدِ غَلَبِهِمْ سَيَغْلِبُونَ ۞ فِي بِضْعِ سِنِينَ لِلَّهِ الْأمر مِنْ قَبْلُ وَمِنْ بَعْدُ وَيَوْمَئِذٍ يَفْرَحُ الْمُؤْمِنُونَ﴾[الروم: ١ـ ٤].

ژباړه: ا- ل- م. رومیان مغلوب شوي دي. په نږدې هیواد کې او له خپل دغه مغلوبوالي نه وروسته به هغوی برلاسي شي. په څو کلونو کې دننه، یوازې د الله واک دی مخکې هم او په وروسته کې هم او دا به هغه ورځ وي چې خوشحاله به شي مسلمانان.

همدا راز قرآن کریم ځینو داسې علمي حقایقو ته اشاره کړې چې ساینس اوس ثابت کړل، الله ﷻ فرمایي: ﴿أولَمْ يَرَ الَّذِينَ كَفَرُوا أَنَّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضَ كَانَتَا رَتْقًا فَفَتَقْنَاهُمَا وَجَعَلْنَا مِنَ الْمَاءِ كُلَّ شَيْءٍ حَيٍّ أَفَلَا يُؤْمِنُونَ﴾ [الأنبياء: ٣٠].

ژباړه: آیا هغه کسان چې کافران دي، غور نه کوي چې دغه ټول اسمانونه او ځمکه یو له بل سره نښتي وو، بیا موږ دوی دواړه بیل کړل او له اوبو نه مو هر ژوندی شی پیدا کړ. آیا هغوی (زموږ دغه خلاقیت) نه منې؟

فعالیت

لاندې آیتونه په قرآن کریم کې پیدا او پر معنا یې ځانونه پوه کړئ:

- ﴿وَالسَّمَاءَ بَنَيْنَاهَا بِأَيْدٍ وَإِنَّا لَمُوسِعُونَ ۞ وَالْأَرْضَ فَرَشْنَاهَا فَنِعْمَ الْمَاهِدُونَ ۞ وَمِنْ كُلِّ شَيْءٍ خَلَقْنَا زَوْجَيْنِ لَعَلَّكُمْ تَذَكَّرُونَ﴾ [الذاريات:٤٧ـ ٤٩]

ـ ﴿وَلَقَدْ خَلَقْنَا الْإِنْسَانَ مِنْ سُلَالَةٍ مِنْ طِينٍ۞ ثُمَّ جَعَلْنَاهُ نُطْفَةً فِي قَرَارٍ مَكِينٍ۞ ثُمَّ خَلَقْنَا النُّطْفَةَ عَلَقَةً فَخَلَقْنَا الْعَلَقَةَ مُضْغَةً فَخَلَقْنَا الْمُضْغَةَ عِظَامًا فَكَسَوْنَا الْعِظَامَ لَحْمًا ثُمَّ أَنْشَأْنَاهُ خَلْقًا آخَرَ فَتَبَارَكَ اللَّهُ أَحْسَنُ الْخَالِقِينَ﴾ [المؤمنون: ١٢ـ١٤]

په پورتنیو آیتونو کې د اعجاز په اړه وغږیږئ.

ketabton.com - The Digital Library

د قرآن کريم ثبوت قطعي دی

الله ﷻ فرمايي: ﴿ إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ﴾ [الحجر: ۹] **ژباړه:** موږ پر تا قرآن نازل کړی او موږ پخپله د هغې ساتونکي يو.

په دې کې هيڅ شک نشته چې الله پاک د قرآن د ساتنې ژمنه پوره کړې. قرآن کريم له يو نسل څخه بل نسل ته په تواتر سره تر موږه رارسېدلی. رسول الله ﷺ قرآن کريم په يادو زده کړ او له وفاته وړاندې يې جبريل عليه السلام ته واورولو. اصحابو له رسول الله ﷺ څخه قرآن زده کړ او تابعينو بيا له اصحابو د قرآن زده کړه کوله. د قرآن کريم د زده کړې دا لړۍ تر نن ورځې روانه ده(۱).

محمد بن نظام الدين انصاري وايي: اهل سنت والجماعت په دې اتفاق کړی چې په سورتونو کې په ترتيب سره د آيتونو کېښودل د پيغمبر ﷺ په امر تر سره شوي او په دې خبره هم اجماع شوې چې قرآن کريم له شکه پرته په متواتر ډول له رسول الله ﷺ څخه رانقل شوی(۲).

په متواتر ډول د قرآن کريم رانقلېدلو معنا دا ده چې قرآن قطعي السند دی. په متواترو او قطعي اسنادو کې د شک ځای نشته. د قرآن کريم معتبر قراءتونه ټول متواتر دی. د غيرمتواترو يا شاذو قراءتونو موجوديت کومه ستونزه نه ده. پر دې سربېره د متواترو قراءتونو سره د شاذو قراءتونو اختلاف د قراءت په متن کې نه، بلکې د قراءت په شکل کې دی. الله پاک د قرآن کريم ثبوت له شک څخه خوندي کړی. قرآن د فقهې بنسټ او هغه تله ده چې د فقهې احکام پرې تلل کيږي. نو کله چې د يوه حکم دليل د قرآن آيت وي، د دليل د ثبوت او سند په اړه څېړنې ته اړتيا نشته، ځکه چې قرآن قطعي الثبوت دی. په دې توګه که د قرآن کريم په دليلونو کې څېړنه کيږي نو هغه به د دلالت له پلوه وي نه د ثبوت او سند له پلوه.

پوښتنې:

۱- قرآن تعريف کړئ او هم روښانه کړئ چې آيا قرآن د الفاظو نوم دی، که د معنا، او که د دواړو؟

۲- متواتر روايت څه ته وايي او په آحادو روايتونو نقل شوي قراءتونه قرآن بلل کيږي که نه؟

۳- د قرآن د اعجاز په اړخونو رڼا واچوئ.

---

(۱) په دې هکله وګورە: د غزالی کتاب:المستصفى ۱\۱۰۱ او د علامة عبد العلي محمد بن نظام الدين الأنصاري کتاب: فواتح الرحموت شرح مسلم الثبوت في أصول الفقه ۲\ ۱۳ دار الفكر، بيروت - لبنان.

(۲) فواتح الرحموت۱۳-۲/۱۲.

ketabton.com - The Digital Library

نهه ویشتم لوست

د قرآن کریم حکمونه

په قرآن کریم کې بېلا بېل حکمونه موجود دي چې کولای شو په درېو ډولو يې ووېشو.

لومړی: هغه احکام دي چې له عقېدې سره تړاو لري، لکه پر الله ﷻ ایمان، پر ملایکو ایمان، پر کتابونو، رسولانو او د آخرت پر ورځ ایمان چې د توحید په کتابونو کې وربانديې خبرې کيږي.

دویم: هغه احکام چې د نفسونو په پاکولو پورې اړه لري، د دوی خویونه دکمال لور ته بیایي، دا ډول د اخلاقي احکامو په نوم یادیږي او د ځیرنې ځای پې د اخلاقو علم دی.

دریم: هغه حکمونه چې د مکلفو انسانانو په عملونو او ویناوو پورې اړه لري او د فقهې په نامه یادیږی. دا حکمونه ډېر ډولونه لري چې په لاندې توګه دي:

أ- عبادتونه: لکه لمونځ، روژه او نور چې د ادا کولو موخه يې له الله ﷻ سره اړیکې ټینګول دي.

ب- د کورنۍ احکام: لکه نکاح، طلاق، نسب، میراث، نفقه او داسې نور.

ج- د معلاملاتو احکام: لکه د اخیستلو او خرڅولو بېلابېل ډولونه او د هغې اړونده مسایل.

د- د جنایتونو او سزاګانو احکام: لکه د حدودو، قصاص او تعزیرونو جرمونه او د هغوی سزاګاني. دې ډول احکامو ته په شریعت کې د جنایاتو فقه وایي چې موخه يې د دین، ځان، ناموس، عقل او شتمنیو ساتنه ده.

هـ - د قضا، ګواهۍ او سوګند احکام: ددې فقهې موخه د خلکو تر منځ په عدالت پربکړه کول دي.

و- د دولت اړونده احکام: د فقهې په دې څانګه کې د حکومت او اتباعو په حقونو او مسؤلیتونو خبرې کيږي او د اساسي قانون موضوعات پکې بیانیږي.

ز- له نورو دولتونو سره د اسلامي دولت اړیکې: د فقهې دا حکمونه د سولې او جګړې پر مهال له نورو دولتونو سره د اسلامي حکومت اړیکې بیانوي. همدا راز د اسلامي دولت دننه له پردیو سره، چې د مستأمنینو په نامه یادیږي، اړیکې روښانوي.

ح- اقتصادي حکمونه: دا حکمونه د دولت د مالي سرچینو، لګښتونو او د بډایانو په مالونو کې د بې وزلو د حقونو اړونده چارې تنظیموي.

ketabton.com - The Digital Library

په قرآن کريم کې د احکامو بيان

الله ﷻ فرمايي: ﴿وَنَزَّلْنَا عَلَيْكَ الْكِتَابَ تِبْيَانًا لِكُلِّ شَيْءٍ وَهُدًى وَرَحْمَةً وَبُشْرَى لِلْمُسْلِمِينَ﴾ [النحل: ۸۹] **ژباړه:** مونږ دغه کتاب پر تا نازل کړی دی چې په ښکاره د هر شي څرګندوونکی دی او د هغو خلکو لپاره هدايت، رحمت او زېرى دی چې امر منلو ته يې غاړه ايښې.

همدا راز په بل ځای کې فرمايي: ﴿مَا فَرَّطْنَا فِي الْكِتَابِ مِنْ شَيْءٍ﴾ [الأنعام: ۳۸]. **ژباړه:** مونږ په دې کتاب کې څه نيمګړتيا نه ده پرېښې.

په قرآن کې د احکامو د بيان طريقې

په قرآن کريم کې د ټولو احکامو بيان شوی دی خو دا احکام په درې طريقو بيان شوي:

لومړی: د شريعت د عمومي قاعدو او بنسټونو بيانول.

دويم: په مجمله توګه د احکامو بيانول.

دريم: په تفصيلي توګه د احکامو بيانول.

لومړی ډول: د شريعت د هغو عمومي قاعدو او اصولو يادونه چې د احکامو د راويستلو او تشريع بنسټ بلل کيږي. د دې اصولو يو څو بېلګې په لاندې ډول دي:

د شورا قاعده: الله ﷻ فرمايي: ﴿وَأَمْرُهُمْ شُورَى بَيْنَهُمْ﴾ [الشورى: ۳۸]، په بل ځای کې فرمايي: ﴿وَشَاوِرْهُمْ فِي الْأَمْرِ﴾ (آل عمران: ۱۵۹]

د عدالت لزوم: الله ﷻ فرمايي: ﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ﴾ [النحل: ۹۰]، الله تعالى په عدل امر کوي.

په همدې توګه په بل ځای کې فرمايي: ﴿إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا وَإِذَا حَكَمْتُمْ بَيْنَ النَّاسِ أَنْ تَحْكُمُوا بِالْعَدْلِ﴾ [النساء: ۵۸]، الله تعالى تاسو ته د امانتونو(په هکله)، خاوندانو ته د سپارلو امر کوي، او د دې چې کله د خلکو تر مينځ پريکړه کوئ نو په عدل به يې کوئ.

ketabton.com - The Digital Library

د بل چا په ګناه څوک نه نیول کیږي: په دې اړه الله ﷻ فرمايي: ﴿وَلَا تَكْسِبُ كُلُّ نَفْسٍ إِلَّا عَلَيْهَا وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى﴾ [الأنعام: ١٦٤]، د هيڅ نفس کسب (لاس ته راوړنې) له ده پرته په بل چا نه حسابيږي، او هيڅ پيتى پورته کوونکى د بل چا پيتى نه پورته کوي.

سزا به د ګناه په کچه وي: د الله پاک وينا ده: ﴿وَجَزَاءُ سَيِّئَةٍ سَيِّئَةٌ مِثْلُهَا﴾ [الشورى: ٤٠]، د بدۍ جزا د هغه په ډول بدي ده.

د خلکو د مالونو حرمت او د اخيستلو خرڅولو رواوالى: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ إِلَّا أَنْ تَكُونَ تِجَارَةً عَنْ تَرَاضٍ مِنْكُمْ﴾ [النساء: ٢٩]، اى مؤمنانو په خپل منځ کې يو د بل مالونه په باطله سره مه خورئ، مګر که ستاسو په رضا تجارت وي.

د سود او قمار حرامواالى او د هر هغه څښاک او خوراک حرامواالى چې د انسان بدن ته زيان رسوي. په دې اړه د الله پاک وينا ده چې: ﴿وَأَحَلَّ اللَّهُ الْبَيْعَ وَحَرَّمَ الرِّبَا﴾ [البقرة: ٢٧٥]، او الله تعالى بيعه روا او سود پې حرام کړى.

همدا راز فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ [المائدة: ٩٠]، اى مؤمنانو شراب، قمار، بتان او غشي اچول پليتي ده له شيطاني چارو څخه دي، نو ځان ورڅخه وساتئ، څو بريالي شى.

د ښيګړې په کارونو کې له يو بل سره مرسته: د ټولو هغو کارونو ترسره کول چې د امت ښيګړه پکې وي. همدا راز د بديو او ظلم په کارونو کې له مرستې کولو څخه ځان ژغورل. الله پاک فرمايي: ﴿وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ﴾ [المائدة: ٢]، او يو له بل سره په نېکۍ او پرهيز ګارۍ کې مرسته وکړئ او په ګناه او تېرې کې يو له بل سره مرسته مه کوئ.

د ژمنو پوره کول: په دې اړه الله تعالى فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَوْفُوا بِالْعُقُودِ﴾ [المائدة: ١]، اى مؤمنانو په ټرونونو وفا وکړئ.

د ټګۍ او خيانت حرامواالى: الله پاک فرمايلي: ﴿وَلَا تَأْكُلُوا أَمْوَالَكُمْ بَيْنَكُمْ بِالْبَاطِلِ وَتُدْلُوا بِهَا إِلَى الْحُكَّامِ لِتَأْكُلُوا فَرِيقًا مِنْ أَمْوَالِ النَّاسِ بِالْإِثْمِ وَأَنْتُمْ تَعْلَمُونَ﴾ [البقرة: ١٨٨]، په خپلو منځونو کې يو د بل مال په باطله مه سره خورئ، او حاکمانو ته پې د دې لپاره مه ور وړاندې کوئ چې د خلکو يوه برخه مال په ګناه وخورئ، سره له دې چې پوهيږئ.

ketabton.com - The Digital Library

له ګناه پرته آساني غوره کول: په دې هکله په قرآن کريم کې داسې راغلي: ﴿يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ﴾ [البقرة: ۱۸۵]،الله تعالى په تاسو د اسانۍ اراده لري، او په تاسو د سختي اراده نه لري.

بل ځای فرمايي: ﴿يُرِيدُ اللَّهُ أَنْ يُخَفِّفَ عَنْكُمْ وَخُلِقَ الْإِنْسَانُ ضَعِيفًا﴾ [النساء: ۲۸]، الله تعالى اراده لري چې په تاسو اساني راولي او انسان ضعيف پيدا شوى.

همدا راز فرمايي: ﴿وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ﴾ [الحج: ۷۸]، او په دين کې يې په تاسو سختي نه ده لازمه کړې.

د اړتيا پر مهال د حرامو رواوالی: په دې هکله د الله پاک وينا ده چې: ﴿فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ فَلَا إِثْمَ عَلَيْهِ إِنَّ اللَّهَ غَفُورٌ رَحِيمٌ﴾ [البقرة: ۱۷۳]، څوک چې (د حرامو خوړلو ته) اړ شي او سرکشي او تېرى کوونکى نه وي نو هيڅ ګناه وربانديې نشته (چې د ضرورت په اندازه ورڅخه ګټه واخلي) بې شکه الله ښښونکى او مهربان دى.

د عمومي اصولو او قاعدو په توګه د ځينو احکامو بيانول د شريعت د پراخوالي لامل شوي او اسلامي شريعت ته دا وړتيا ورپه برخه کوي چې د نويو پېښېدونکو مسايلو لپاره د حل مناسبې لارې په ګوته کړي.

فعاليت

د الله پاک ددې وينا له مخې: ﴿ إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ﴾ [النحل: ۹۰] قرآن کريم د عدالت بنسټ دى.

کورنۍ، ګاونډيانو او ټولګيوالو سره په تعامل او د ژوند په ټولو چارو کې د عدالت د تطبيق په اړه وغږيږئ.

هر زده کوونکى دې د عدالت د تطبيقولو په اړه يو ژوندى مثال پخپله کتابچه کې وليکي او ملګرو ته دې يې وړاندې کړي.

دويم ډول: په مجمله توګه د احکامو بيانول.

قرآن ځينې احکام مجمل بيان کړي، په داسې توګه چې بيان ته اړتيا لري، لکه د لمانځه، زکات، حج او سود احکام.

ketabton.com - The Digital Library

دا احکام په مجمل او لنډ ډول په قرآن کریم کې راغلي خو پیغمبرﷺ د خپلو ویناوو او عملونو په وسیله هغه روښانه کړي. ددوی ارکان، شرطونه او اړونده ټول آداب او مسایل یې بیان کړي.

درېم ډول: په تفصیلي توګه د احکامو بیانول.
تفصیلي احکام په قرآن کریم کې لږ دي، چې بېلګې یې د میراث اندازې، د طلاق او لعان څرنګوالی، د محرمو ښځو بیان او داسې نور دي.

پوښتنې:

۱- د قرآن کریم احکام په درې ډوله دي. هر ډول یې له مثال سره بیان کړئ.
۲- په قرآن کریم کې د پنځو عملي حکمونو په اړه هراړخیزه رڼا واچوئ.
۳- احکامو لره د قرآن بیان په درې ډوله دی، شرحه یې کړئ او بېلګې یې هم وليکئ.

ketabton.com - The Digital Library

دېرشم لوست

نبوي سنت

د اسلامي شريعت له مصادرو څخه دويم مصدر نبوي سنت دی. سنت څه ته ويل کيږي؟
په قرآن کې د سنتو د حجيت دليلونه کوم دي؟ او سنت څو ډولونه لري؟
دا ټولې هغه پوښتنې دي چې په دې لوست کې به ورته ځواب ووايو.

د سنت تعريف

سنت په لغت کې لارې او کړو وړو ته ويل کيږي.

د اصوليانو په اصطلاح کې د رسول الله ﷺ ويناوو، کړنو او تقرير ته سنت ويل کيږي.

د رسول الله ﷺ د ويناوو مثالونه ډېر زيات دي. د بېلګې په ډول د رسول الله ﷺ دا وينا چې فرمايي: **صلوا كما رأيتموني أصلي**[1]. همدا راز د پيغمبر ﷺ دا وينا: «**مَنْ رَأَى مِنكُمْ مُنْكَـرًا فَلْيُغَيِّرْهُ بِيَدِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِلِسَانِهِ فَإِنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَبِقَلْبِهِ وَذَلِكَ أَضْـعَفُ الإِيمَـانِ**»[2] د سنت مثالونه دي.

د سنت په تعريف کې د کړنو څخه مقصد د رسول الله ﷺ هغه اعما ل دي چې د اسلامي شريعت د تطبيقولو پر مهال يې تر سره کړي، لکه د لمانځه، حج او غزاګانو پر مهال.

د تقرير معنا داده چې د رسول الله ﷺ په وړاندې يو کار تر سره شي، يا د اصحابو د کومې کړنې په اړه ورته خبر ورکړل شي او رسول الله ﷺ وربانديې سکوت (چوپتيا) غوره کړي.

د داسې کارونو په وړاندې د رسول الله ﷺ چوپتيا د هغه کار د رواوالي معنا ورکوي. د تقرير يوه بېلګه د تيمم د آيتونو له نازلېدو مخکې د رسول الله ﷺ په وړاندې د اوبو د نشتوالي پر مهال د اصحابو تيمم وهل دي. همدا راز د اصحابو په پرېکړو او اجتهاد باندې د رسول الله ﷺ سکوت او چوپتيا د تقرير مثال دی. په همدې توګه د رسول الله ﷺ په وړاندې د اصحابو له خوا د ځنګلي خرو او سمسارو غوښه خوړل او د پيغمبر ﷺ چوپتيا د تقرير بله بېلګه ده. تقرير يا په کارونو باندې چوپتيا ځکه د رواوالي دليل شمېرل کيږي چې رسول الله ﷺ د ناروا کارونو د کولو پر مهال چې بيان ته به اړتيا وه، چوپ نه پاتې کېده.

---

(۱) رواه البخاري او أبو داود او أحمد.

(۲) رواه مسلم.

ketabton.com - The Digital Library

فعالیت

د خپل ذهن څخه د قولي سنت دري مثالونه، د فعلي سنت دوه مثالونه او د تقريري سنت يو مثال وړاندې کړئ.

د سنتو حجیت

فقهاوو په دې خبرې اتفاق کړی چې سنت د اسلامي شريعت يو مهم اصل دی. قرآن کريم زياتره شرعي احکام په لنډ او مجمل ډول بيان کړي چې رسول الله ﷺ په خپلو ويناوو او افعالو سره د هغو احکامو تشريح کړې لکه د لمانځه، زکات او حج احکام.

د سنتو د حجيت په هکله قرآني دلايل په دې ډول دي.

۱- الله تعالی فرمايي: ﴿مَنْ يُطِعِ الرَّسُولَ فَقَدْ أَطَاعَ اللَّهَ وَمَنْ تَوَلَّى فَمَا أَرْسَلْنَاكَ عَلَيْهِمْ حَفِيظًا﴾ (النساء: ۸۰). **ژباړه:** چا، چې د پيغمبر اطاعت وکړ هغه په اصل کې د خدای اطاعت وکړ او چا، چې مخ واړوه، نو په هر صورت موږ پر دې خلکو د څارونکي او ساتونکي په توګه نه يې لېږلی.

د رسول الله ﷺ اطاعت په حقيقت کې د الله پاک اطاعت دی، دا ځکه چې رسول الله ﷺ د الله پاک له حکمونو پرته په بل څه امر نه کوي. نو د الله ﷻ د حکمونو په خبر د رسول الله ﷺ د حکمونو منل هم واجب دي.

۲- د سنتو د حجيت بل دليل د الله پاک دا وينا ده: ﴿قُلْ أَطِيعُوا اللَّهَ وَالرَّسُولَ فَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّ اللَّهَ لَا يُحِبُّ الْكَافِرِينَ﴾ [آل عمران: ۳۲]. **ژباړه:** (دوی ته) ووايه چې: د الله او رسول اطاعت ومنئ. که هغوی مخ واړاوو نو الله پاک له کافرانو سره مينه نه کوي.

په دې آيت کې الله د خپل ځان او پيغمبر ﷺ په اطاعت کولو امر کړی او خبر يې ورکړی چې د الله ﷻ او پيغمبر ﷺ د امر څخه سرغړونه د کفر لامل کيږي.

۳- دا هم د سنتو د حجيت دليل دی چې فرمايي: ﴿وَمَا كَانَ لِمُؤْمِنٍ وَلَا مُؤْمِنَةٍ إِذَا قَضَى اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَمْرًا أَنْ يَكُونَ لَهُمُ الْخِيَرَةُ مِنْ أَمْرِهِمْ وَمَنْ يَعْصِ اللَّهَ وَرَسُولَهُ فَقَدْ ضَلَّ ضَلَالًا مُبِينًا﴾ [الأحزاب: ۳٦] **ژباړه:** هيڅ يو مؤمن او هيڅ يوه مؤمنه دا حق نه لري چې کله الله او د هغه رسول د کومې معاملې فيصله وکړي چې هغه ته پخپله د خپلې معاملې د فيصلې کولو اختيار حاصل اوسي. او څوک چې له الله او د هغه له رسول نه سرغړاوی وکړي نو هغه په څرګنده ګمراهۍ کې وغورځېده.

ketabton.com - The Digital Library

دا آيت څرګندوي چې الله ﷻ د خپل حکم او د پيغمبر د پرېکړې د منلو په وړاندې د مومنانو څخه واک اخيستی او مومن نشي کولای چې د رسول الله ﷺ امر رد کړي او ويې نه مني بلکې مومنان د رسول الله ﷺ د امر په منلو مکلف دي.

۴- د سنتو د حجيت بل دليل د قرآن کريم دا آيت دی: ﴿وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوا﴾ [الحشر: ۷] او څه چې رسول درته راوړه نو وېې منئ او عمل پرې وکړئ، او له کوم څه څخه مو چې منعه کړي، نو ورڅخه منعه شئ.

په قرآن کريم کې د سنتو پر حجيت دليلونه ډېر زيات دي. قرآن د سنتو درجه بيان کړې، د رسول الله ﷺ د امر په منلو يې حکم کړی او د هغه له مخالفت څخه يې خلک ډاروللي.

د سنتو په ساتنه کې د علماوو زيار

سنت د الله ﷻ له خوا پيغمبر ﷺ ته د وحی يو ډول دی. د رسول الله ﷺ هره وينا او عمل حق دی. د قرآن د عملي ببلګې په توګه د رسول الله ﷺ په سنتو کې د ټولنې حالات او د چاپېريال ظروف په پام کې نيول شوي چې دا حالات او ظروف وخت په وخت بدلون مومي. د ببلګې په ډول رسول الله ﷺ اصحابو ته د قرآن د ليکلو په څېر د حديثو د ليکلو امر نه وو کړی، ځکه نو د حديثو يا سنتو ليکل د لومړی پېړۍ راوروسته رواج شول. خو د پيغمبر اصحابو د رسول الله ﷺ احاديث په يادو زده کړي وو او بيا يې تابعينو ته ورزده کړل چې تابعينو بيا ورپسې نسلونو ته وښودل او دا لړۍ تر نن روانه ده.

په وروسته وختونو کې چې د حديثو علم ته پاملرنه زياته شوه، يو شمېر خلکو له خپله ځانه د حديثو جوړول پيل کړل او دغه له ځانه جوړې شوې خبرې د حديثو سره ګډې شوې. دغه مهال د حديثو د سوچه ساتنې او د حديثو په روايت کې د درواغو د مخنيوي لپاره يو زيات شمېر مخلص علما رامخې ته شول او خپل ژوند يې دې چارې ته وقف کړ. کله چې سړی د حديثو د علم مطالعه کوي، نو ددې سترو علماو پراخه کوښښونو او بې ساري زيار ته ګوته پر غاښ پاتې شي. په رښتيا چې د حديثو علماوو په دې لار کې ستر خدمتونه تر سره کړي.

دې علماوو د حديثو د راويانو لپاره ځانګړي شرطونه کښودل. د عقل، قوي حافظې او عدالت له درلودلو پرته د چا حديث نه منل کېده. دوی د حديثو د ساتنې لپاره يو نوی علم رامنځته کړ چې د جرحې او تعديل په نامه يادېږي او د اسلامي امت لپاره يو نه

ketabton.com - The Digital Library

هېرېدونکی ویاړ دی. علماوو، د جرح او تعدیل پر اساس ټول راویان چاڼ کړل او هر چا ته یې خپل ځای وټاکه. په دې کار کې له هیڅا ونه وېرېدل، څوک چې د باور وړ نه وو هغه یې بې باوره وګڼل او څوک چې مردود وو، هغه یې رد کړل. د یوو راوي لپاره یوازې عدالت او اهلیت بس نه وو، بلکې پر عدالت او اهلیت سربېره ذهني ویښتیا، غښتلې حافظه، له غفلته لرې والی او د راویانو پېژندل اړینه خبره وه. پر همدې بنسټ ددې علماوو تر منځ دا خبره ډېره مشهوره وه، چې: د حدیثو علم دین دی، نو له چا څخه چې دین زده کوی، لومړی د هغه شخصیت وپېژنئ.

د اصولیانو په وړاندې د سنتو ډولونه او د هغو درجې

اصولیانو مبارک سنت په دوو ډولو وېشلي:

لومړی: هغه سنت چې سند یې رسول الله ﷺ ته رسېدلی وي.

دویم: هغه سنت چې سند یې رسول الله ﷺ ته نه وي رسېدلی.

لومړی: هغه سنت چې سند یې رسول الله ﷺ ته رسېدلی وي.

دا سنت په درې ډوله دی چې درېواړه ډولونه یې د منلو وړ دي.

۱- متواتر: هغه روایت ته ویل کیږي چې دومره زیاتو کسانو له یو بل څخه روایت کړی او رسول الله ﷺ ته رسېدلی وي، چې په درواغو د دومره زیاتو کسانو د راټولېدلو وېره نه وي.

پنځه وخته لمونځونه، د هغوی رکعتونه او د ادا کولو څرنګوالی او د زکات اندازې د متواتر روایت مثالونه دي.

د متواتر حکم: متواتر روایت د انسان علم او یقین راولي او په دلیل نیولو کې د قرآن کریم په څېر قوي دی.

۲- مشهور: هغه روایت ته ویل کیږي چې له رسول الله ﷺ څخه یوه یا دوه کسانو روایت کړی وي خو په وروسته پړاوونو کې یې راویان دومره زیات وي چې په درواغو ېې د راټولېدو وېره نه وي.

د مشهور حکم: مشهور حدیث په آحادو حدیثونو کې تر ټولو لوړه درجه لري او له متواتره راښکته دی. د جمهورو علماوو په وړاندې ګومان(ظن) مینځ ته راوړي او د حنفیانو په نزد اطمینان رامینځ ته کوي. له متواتر راښکته دی او منکر یې کافر نه ګڼل کیږي.

ketabton.com - The Digital Library

۳- آحاد حدیثونه: هغه چې یو یا دوه کسانو روایت کړی وي او د مشهور درجې ته نه وي رسېدلی.

د آحادو حکم: د جمهور علماوو په وړاندې دا ډول حدیثونه ګومان (ظن) رامنځ ته کوي نه یقین. په دې ډول حدیثونو عمل کول د ټولو امامانو په نظر واجب دي، خو حنفیانو پرې یو بل شرط هم ورزیات کړی او هغه دا چې د آحاد حدیث راوي باید په عمل کې د خپل روایت مخالفت نه وي کړی.

دویم: هغه سنت چې سند یې رسول الله ﷺ ته نه وي رسېدلی

کوم حدیث چې سند یې رسول الله ﷺ ته نه وي رسېدلی، هغه به یا مرسل وي یا منقطع. مرسل هغه حدیث ته ویل کیږي چې تابعي نېغ په نېغه له رسول الله ﷺ څخه روایت وکړي او صحابي له سند څخه وغورځوي. مرسل حدیث د حنفیانو او مالکیانو په وړاندې داسې حجت دی لکه موصول حدیث (موصول هغه حدیث ته ویل کیږي چې له سند څخه یې کوم راوي نه وي غورځول شوی). نورو امامانو بیا د مرسل حدیث د منلو لپاره یو لړ شرطونه ایښي چې تفصیلات یې د اصولو په کتابونو کې بیان شوي.

منقطع هغه حدیث ته ویل کیږي چې له صحابي پرته کوم بل راوي له سند څخه غورځول شوی وي. دا ډول حدیث په اتفاق سره د کوم حکم دلیل کېدای نشي.

پوښتنې:

۱- د سنت لغوي او اصطلاحي تعریف وکړئ او د قولي، فعلي او تقریري سنتو لپاره یو یو مثال وړاندې کړئ.

۲- د سنتو د حجیت لپاره له قرآن څخه دلیلونه ووایئ.

۳- د سنتو په ساتنه کې د علماوو په کوښښونو رڼا واچوئ.

۴- د متصل السند حدیثونو ډولونه او حکم بیان کړئ.

۵- مرسل حدیث تعریف کړئ او حکم یې بیان کړئ.

ketabton.com - The Digital Library

يو دېرشم لوست

اجماع

اجماع د اسلامي شريعت درېيم مصدر دی. په دې لوست کې به د اجماع د تعريف، حجيت، مراتبو، د کېدو امکان او اړونده موضوعاتو په اړه رڼا واچوو.

د اجماع تعريف

اجماع په لغت کې کلک هوډ او اتفاق ته وايي.

د اصولو د علم په اصطلاح کې د اجماع تعريف داسې دی: په يوه زمانه کې په کوم شرعي امر باندې د امت د مجتهدينو اتفاق ته اجماع ويل کيږي[1].

د اجماع حجيت

اسلامي فقها په دې متفق دي چې د اجماع حجيت له قرآن او سنت څخه ثابت دی.

د قرآن کريم څخه پرې دا آيت دليل دی: ﴿وَمَنْ يُشَاقِقِ الرَّسُولَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدَى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيلِ الْمُؤْمِنِينَ نُوَلِّهِ مَا تَوَلَّى وَنُصْلِهِ جَهَنَّمَ وَسَاءَتْ مَصِيرًا﴾ [النساء: ١١٥] **ژباړه:** چا چې د پيغمبر د ښمنۍ ته ملاتړلې وي او د مومنانو له طريقې نه پرته په کومه بله لاره لاړ شي، په داسې حال کې چې سمه لاره ورته څرګنده شوې وي؛ نو هغه به مورِ په هماغه لوري وخوځوو چې هغه په خپله ورګرځېدلی او دوزخ ته به ېې ننباسو چې خورا بد استوګنځی دی.

الله په دې آيت کې د مسلمانانو د لارې مخالفت کوونکو ته د وعيد يادونه کړې، نو څرګنده شوه چې د مسلمانانو د لارې پيروي کول واجب دي او هغه چاره چې مسلمانانو پرې اتفاق کړی وي د مسلمانانو لار بلل کيږي.

له احاديثو څخه د رسول اللهﷺ دا وينا د اجماع د حجيت دليل دی: «لاتجتمع أمتي على ضلال»[2] **ژباړه:** زما امت په ګمراهۍ نه راټوليږي.

---

(١) مسلم الثبوت ج٢ ص٢١١، وفتح الغفار ص ٣٥٠.

(٢) رواه ابن ماجة في كتاب الفتن رقم الباب ٨ رقم الحديث ٣٩٥٠ عن أنس بن مالك يقول : سمعت رسول اللهﷺ يقول : «إن أمتي لا تجتمع على ضلالة، فإذا رأيتم الخلاف فعليكم بالسواد الأعظم».

ketabton.com - The Digital Library

له دې حديث څخه معلومه شوه چې مسلمانان په کوم کار اتفاق وکړي، هغه به حق وي او پيروي يې واجب ده. همدا راز رسول الله ﷺ فرمايلي: «ما رأى المسلمون حسنا فهو عند الله حسن». [1] کوم کار چې مسلمانانو ښه وګڼلو هغه د الله په وړاندې هم ښه دی.

رسول الله ﷺ دا هم فرمايلي چې: «من أراد بحبحة الجنة فليلزم الجماعة، فإن الشيطان مع الواحد وهو من الإثنين أبعد». [2] **ژباړه:** څوک چې غواړي د جنت په منځ کې واوسيږي نو د مسلمانانو د ټولنې نه دې ځان نه بېلوي، بې شکه شيطان د يوه تن سره ملګرتيا کوي او له دوو څخه لرې ګرځي.

د اسلام فقهاوو د اجماع په حجيت اتفاق کړی، [3] خو د اجماع کوونکو په اړه يو څه اختلاف شته چې وروسته به تشريح شي.

په منصوصي مسايلو کې د اجماع ګټه

کله کله په داسې يوه مسأله باندې د علماوو اجماع کيږي چې هغه په قران يا سنت ثابته وي، نو کله چې نص يعنې د قرآن يا سنت دليل موجود وي، اجماع ته څه اړتيا ده؟

ددې پوښتنې ځواب دادی چې کله کله د يوو حکم دليل ظني يعنې خبر واحد وي. خو څه وخت چې په دې حکم باندې د فقهاوو اجماع وشي نو همدا حکم قطعي وګرځي او بيا هيڅ مجتهد نشي کولای چې ددې حکم مخالفت وکړي.

د اجماع کولو وړ اشخاص

د اجماع وړ اشخاص د رسول الله ﷺ د امت هغه مجتهدين دي چې د شريعت د احکامو پوهه ولري او د پېښې شوې موضوع په اړه کافي تجربه ولري، تر څو د حالاتو له غوښتنې سره سم شرعي احکام راوباسي. په هغو چارو کې چې اجتهاد ته پکې اړتيا نشته د عامو مسلمانانو په اتفاق هم د اجماع ملاتړ کيږي او همدا د جمهورو علماوو نظر دی.

---

(١) رواه أحمد ج١ ص ٣٧٩.

(٢) رواه الترمذي في حديث عن عمر رضي الله عنه في كتاب الفتن باب ما جاء في لزوم الجماعة رقم الحديث ٢١٦٥ ورواه أحمد ج١ ص ٢٦.

(٣) په دې هکله وګورە: المستصفى للغزالي١٨٩/١ ومسلم الثبوت للبهاري ٢١١/٢ وأصول الفقه لأبي زهرة ١٥٦.

ketabton.com - The Digital Library

ځينو ويلي يوازې د اصحابو د زمانې اجماع د منلو وړ ده او بس. ځينو دا هـم ويلـي چـې يوازې د مدينې د خلکو اجماع د اعتبار وړ ده[1].

د اجماع درجې

اجماع څو درجې لري، خو تر ټولو قوي اجماع د اصحابو ده. داسې چې ټول اصحاب په يوه مسأله کې د يوو ټاکلي نظر د منلو څرګندونـه وکـړي. امـت ددې ډول اجمـاع پـه قطعيت او منلو اتفاق کړی او هيڅوک د اصحابو له صريحې اجماع څخه مخ نشي اړولی. په دوهمه درجه کې هغه اجماع راځي چې ځينو اصحابو يې د ملاتړ څرګندونه کړي وي او نورو بيا سکوت او چوپ والی غوره کړی وي. دي ته سـکوتي اجمـاع وايـي، پـه دې ډول چې ځنې اصحاب په يوه موضوع کې د فتوا ورکولو په ترڅ کې خپل نظـر څرګنـد کړي او نور چوپ پاتې شي. دا ډول اجماع دويمه درجه لری ځکـه چـې چوپـه خولـه د وينا په ځای نه ده. همدا راز کله کله ددې لپاره هم خلک چوپ پاتې کيږي چـې د نظـر په سموالي باور نه لري او يا دا چې په اختلافي مسألو کې د شخړې راپـارولو څخـه ځـان ساتي. دا ډول اجماع که څه هم د حنفيانو په وړاندې قطعي دليل دی، خو منکر يې کـافر نه ګڼل کيږی.

له دې وروسته په درجه کې هغه اجماع ده چې له اصحابو راوروسـته علمـاوو پـه داسـې يوې مسألې اجماع کړې وي چې پخوا پکې اختلاف نه وي شوی. څرنګه چې ددې ډول اجماع په حجيت کې د فقهاوو تر منځ اختلاف دی، نو په درېمه درجه کې راځي. ځينـو ويلي چې دا اجماع د سکوتي اجماع سره په درجه کې برابره ده، ځکه چـې د دواړو پـه حجيت کې اختلاف دی.

څلورمه درجه په هغو مسألو اجماع ده چې مخکې پکې اختلاف شوی وي. د درجـې پـر بنسټ دا تر ټولو ښکته اجماع ده، ځکه چې اختلاف پکې ژور دی.

مرکبه اجماع: يو بل ډول اجماع هم شته چې مرکبه يې بولي. هغه داسې چې په يوه زمانه کې د يوې ټاکلې مسألې په اړه علما په څو ډلو ووېشل شي خو له اختلاف سره سـره پـر يوو اصل باندې اتفاق ولري. بيا له دوې وروسته څـوک داسـې نظـر وړانـدې کـړي چـې

(۱) فتح الغفار بشرح المنار د ابن نجيم حنفي ليکنه،(دار الکتب العلمية، بيروت) ص ۳۵۱.

ketabton.com - The Digital Library

ددوی له نظر سره مخالف او له هغه اصل سره هم ټکر ولري چې د پخوانيو علماوو تر منځ پرې اتفاق وو.

ددې ښکګه د میراث هغه مسأله ده چې نیکه پکې د ورور سره میراث وړي. چې په میراث کې د نیکه په پوره برخې او یا له ورور سره په ویش اتفاق شوی. ددې معنا داده چې دواړه ډلې د نیکه په لږ یا ډېر میراث اتفاق لري. اوس که څوک راځي او داسې نوی نظر وړاندې کوي چې نیکه په دې صورت کې د هیڅ میراث مستحق نه دی نو دا له اجماع څخه وتل دي.[1]

که چېرې د علماو د اختلاف په ترڅ کې د اتفاق کوم اصل موجود نه وي نو سمه خبره داده چې دې ته بیا اجماع نه ویل کیږي.[2]

د اجماع نقلول

کله چې په یوه زمانه کې اجماع رامنځته شي، نو دغه اجماع یو قطعي دلیل، د دین اصل او د احکامو سرچینه ګڼل کیږي، خو دا اجماع د راتلونکو خلکو لپاره هلته قطعي دلیل کېدای شي چې هغوی ته په متواتر ډول ورسیږي. دا هم اړینه ده چې د ټولو مجتهدینو نظر په متواتر ډول نقل شي، که داسې ونه شول نو اجماع قطعي نه ګڼل کیږي. اجماع هم د حدیث په څېر ده. کله چې څوک له رسول الله ﷺ څخه حدیث واوري نو دا حدیث د هغه لپاره د قرآن په څېر قطعي دلیل دی. همدا راز هغه چا ته چې حدیث په متواتر ډول ورسیږي، یقین پې ورباندې راشي او د دروغو هیڅ احتمال پکې نه وي، نو دا هم قطعي دلیل دی. خو که حدیث د آحادو په توګه نقل شي نو غالب ګومان رامنځ ته کوي. اجماع هم همداسې ده او د نقل او سند پر بنسټ قطعي او ظني ګڼل کېدای شي.[3]

د اجماع مثالونه

۱- علماوو اجماع کړې چې پنځه وخته لمونځونه ادا کول فرض دي. همدا راز د علماوو په دې اجماع ده چې د خوف او امن په دواړو حالتونو کې د سهار لمونځ په سفر او حضر کې دوه دوه رکعته دی.

---

(۱) په دې هکله وګورە: فتح الغفار ۳۵۰مخ، الإحکام في أصول الأحکام للآمدي ج۳۳۱/۱ مخ.

(۲) أصول الفقه د محمد أبي زهرة لیکنه ۱٦۷مخ.

(۳) فتح الغفار ۳۵۵مخ، أصول الفقه د محمد أبي زهرةً لیکنه ۱٦۷مخ.

ketabton.com - The Digital Library

۲- د درېیم خلیفه عثمان بن عفان په امر قرآن کریم را ټول شو چې اوس مهال زمونږ سره هم همدا مصحف دی. ټول اصحاب د خلیفه له دې کار خبر شوي او پر همدې مصحف باندې یې اتفاق کړی او هیڅ مخالفت پې نه دی کړی.

علماوو د اجماع د اثبات او اړوندو مسایلو په اړه کتابونه لیکلي چې د ابن المنـذر (کتـاب الإجماع) او د ابن حزم (مراتب الإجماع) کتابونه د بېلګې په ډول یادولای شو.

پوښتنې:

۱- د اجماع لغوي او اصطلاحي تعریف بیان کړئ.

۲ - د قرآن او سنت په رڼا کې د اجماع حجیت روښانه کړئ.

۳- په منصوصي امورو کې اجماع څه ته وایي او د اجماع کولو وړ څوک دي؟

۴- د اجماع درجې ذکر او حکم یې بیان کړئ.

۵ – مرکبه اجماع څه ته وایي او حکم یې څه دی؟

۶- که اجماع په متواتر یا آحاد ډول نقل شي، څه توپیر سره لري؟

ketabton.com - The Digital Library

قياس

د قياس تعريف

قياس په لغت کې اندازې او برابرۍ ته وايي.

د اصولو په اصطلاح کې د مشترک علت له مخې غير منصوصي واقعې ته د منصوصي واقعې حکم ورکول قياس بلل کيږي.

د قياس مثالونه

۱- د جمعې د لمانځه له دويم اذان څخه وروسته د خرڅولو او اخيستلو څخه د الله ﷻ د دې وينا له مخې منعه شوې، چې فرمايي: ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ﴾ [الجمعة: ۹]

دا آيت څرګندوي چې د جمعې په ورځ له اذان څخه وروسته اخيستل او خرڅول ناروا دي. د نهی علت دادی چې څوک د لمانځه په ځای په اخيستلو او خرڅولو بوخت نشي. اجاره هم په بيعې قياس کيږي او د دوهم اذان نه وروسته داسې ناروا ګڼل کيږي، لکه بيع چې ناروا ده. دا ځکه چې په مقيس (اجاره) او مقيس عليه (بيع) دواړو کې يو ډول علت پروت دی او هغه له لمانځه پرته په بل کار بوختېدل دي.

۲- د رسول الله ﷺ ددې وينا پر بنسټ چې فرمايي: «لايرث القاتل شيئا»[1] قاتل وارث له خپل مورث څخه ميراث نشي وړلای. موصی هم په قاتل وارث قياس کيږي. د ښکلګې په ډول که يو څوک د ښېګړې په توګه د چا لپاره وصيت وکړي چې له مړينې وروسته به يې د مال يوه برخه هغه ته ورکول کيږي، بيا هغه څوک چې وصيت ورته شوی رامخکې شي او وصيت کوونکی ووژني، نو په دې کار سره د وصيت شوي مال له اخيستلو بې برخې کيږي. دا ځکه چې وارث او موصي، دواړه د مورث په مال کې د برخې څښتنان دي او دواړه د مورث د مړينې لامل شوي دي، نو دواړه له ميراث څخه بې برخې کيږي.

---

(۱) أخرجه أبوداود في كتاب الديات، باب ديات الأعضاء برقم(٤٥٦٤) ، والبيهقي في السنن الكبرى بنحوه في كتاب الجنايات، باب الرجل يقتل ابنه ج ۸ ص ۳۸.

ketabton.com - The Digital Library

د قياس حجيت

د څلورو امامانو په شمول جمهورو فقهاوو قياس شرعي حجت بللي او د هغې منل يې واجب ګڼلي. ددوی دلايل په دې ډول دي:

لومړی: قرآني دلايل

الله ﷻ فرمايي: ﴿هُوَ الَّذِي أَخْرَجَ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ مِنْ دِيَارِهِمْ لِأَوَّلِ الْحَشْرِ مَا ظَنَنْتُمْ أَنْ يَخْرُجُوا وَظَنُّوا أَنَّهُمْ مَانِعَتُهُمْ حُصُونُهُمْ مِنَ اللَّهِ فَأَتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ حَيْثُ لَمْ يَحْتَسِبُوا وَقَذَفَ فِي قُلُوبِهِمُ الرُّعْبَ يُخْرِبُونَ بُيُوتَهُمْ بِأَيْدِيهِمْ وَأَيْدِي الْمُؤْمِنِينَ فَاعْتَبِرُوا يَا أُولِي الْأَبْصَارِ﴾ [الحشر: ٢]

ژباړه: الله تعالى هغه ذات دى چې د اهل کتابو کافران يې د لومړي ځل راټولولو لپاره له کورونو څخه راويستل، تاسو ګمان نه کاوو چې دوی به ووزی، او دوی ګمان کاوو چې له الله تعالى څخه د دوی منع کوونکي به ددوی قلاګانې وي، نو (د) الله (عذاب) له داسې لوري ورته راغی چې دوی پې فکر نه کاوو، او په زړونو کې يې وېره ورواچوله، خپل کورونه يې په خپلو لاسونو او د مسلمانانو په لاسونو ورانول، نو ای د پوهې خاوندانو تاسو هم پند واخلئ.

په دې آيت داسې استدلال شوی

کله چې الله تعالى د يهودو بني نضير قبيلې ته د پېښو شويو حالاتو او شرمېدلې ماتې يادوونه وکړه بيا يې مسلمانان مخاطب کړل او ورته يې وويل، چې که تاسو هم د يهودو په څېر ناوړه عملونه ترسره کړي، نو هرومرو به د هغوی په څېر د ناوړه پايلو او سختو ماتو سره مخ شي. دلته په اعتبار امر شوی، او له اعتبار څخه دلته د دوو حالاتو تر منځ مقايسه او برابروالی مقصد دی چې د ورته والي په صورت کې يو ډول حکم ورکړی شي او په قياس کې هم همدا څيز موجود دی. په قياس کې هم مجتهد د اصل او فرعې تر منځ ورته والی (ګډ علت)پيدا کوي او د اصل حکم فرعې ته ورکوي.

له سنتو څخه دلايل

عبدالله بن عباس رضی الله عنهما يو حديث روايت کړی چې په دې ډول دی: يو چا له رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه: مور مې حج نه وو کړی او مړه شوه، آيا که زه له هغې څخه حج وکړم قبول به شي؟ هغه مبارک ورته وويل: که په مور دې پور وای او تا پرې کړی وای، نو آيا نه به قبلېده؟ حج دې ورڅخه وکړي.[1]

(١) أخرجه النسائي في كتاب مناسك الحج، باب : الحج عن الميت الذي لم يحج برقم (٢٦٣٤).

ketabton.com - The Digital Library

په دې حدیث د قیاس د حجیت لپاره داسې استدلال کیږي: رسول اللهﷺ د الله تعالی پـور د بنده په پور قیاس کړی. نو قیاس د رسول الله ﷺ په عمل مشروع شو.

له آثارو څخه دلایل

عمر بن الخطابﷺ په خپل لیک کې ابو موسی اشعري رضی الله عنه ته داسې لیکلي: «... **ثم الفهم الفهم فيما تلجلج في صدرك مما ليس في كتاب ولاسنة واعرف الأمثال والأشباه ثم قـس الأمور عند ذلك، فاعمد إلى أحبها إلى الله تعالى وأشبهها بالحق فيما ترى...** »[1] **ژباړه:** که د هغـه څه په اړه ستا په زړه کې شک پیدا شو چې حکم یې په کتاب او سنت کې نـشته نـو لـه خپلې پوهې نه کار اخله، ورته مسألې ولټوه او سره پرتله یې کړه. هر نظر چې درتـه د الله په وړاندې غوره او حق ته نژدې ښکاره شو پر هغې عمل وکړه.

له اجماع څخه دلایل

ښکاره ده چې اصحابو رضی الله عنهم قیاس منلی او په ډېـرو مـسایلو کـې یـې وربانـدې عمل کړی. پر قیاس د عمـل کولـو موضـوع د هغـوی تـر منـځ مـشهوره وه او هیڅـا یـې مخالفت ندی کړی چې دا د قیاس پر حجیت د هغوی اجماع بلل کیږي.

مثالونه یې په دې ډول دي:

اصحابو رضی الله عنهم د مسلمانانو د خلافت لپاره ځکه ابوبکر زیات مستحق وګڼلو چـې د پیغمبر علیه السلام په ژوند کې د لمانځه د امامـت لپـاره تـر نـورو زیـات مـستحق ګڼـل شوی وو، نو د دولت د چارو امامت د لمانځه پر امامت قیاس شو.

عمر بن الخطابﷺ ابو موسی اشعريﷺ ته په قیاس کولو امر کړی.

علي کرم الله وجهه په قتل کې د شریک ټولي قصاصول په غلا کـې د شـریک ټـولي پـه لاس غوڅولو قیاس کړي[2].

د قیاس ارکان

قیاس څلور رکنه لري او په دې ډول دي: اصل، فرع، حکم او علت.

---

(١) أخرجه الدار قطني في كتاب الأقضية والأحكام، برقم (١٥)، والبيهقي في السنن الكبرى (١٥٠/١٠)

(٢) أخرجه عبد الرزاق في الصنف في كتاب العقول ، برقم (١٨٠٧٧).

ketabton.com - The Digital Library

اصل

د اصولو په اصطلاح کې هغې پېښې ته، چې په حکم کې يې نص يا اجماع راغلې وي، د قياس «اصل» ويل کيږي چې "مقيس عليه" هم ورته وايي. يعنې هغه مسأله چې نور ورباندې قياس کيږي، حکم يې بايد په نص يا اجماع او يا هم په دواړو ثابت وي.

فرع

فرع هغې پېښې ته وايي چې د حکم په اړه يې په نص او اجماع کې څه نه وي راغلي او د حکم د معلومولو لپاره په بله پېښه قياس کيږي. فرعې ته "مقيس" هم ويل کيږي.

د بېلګې په توګه مونږ د يوې نوې پېښې د حکم په اړه په نصوصو يعنې قرآن او سنت کې پلټنه وکړه خو د نوموړې پېښې حکم مو ونه موند. البته همدې پېښې ته ورته يوه بله پېښه مو پيدا کړه چې حکم يې په نص يا اجماع کې موجود وو. دغه مهال مونږ نوې پېښه چې حکم يې په نص او اجماع کې نشته پر هغې پېښې قياس کړه چې حکم يې په نص کې موجود وو. نوې پېښې ته فرع ويل کيږي او پخوانۍ پېښه چې په نص کې حکم لري "اصل" بلل کيږي.

حکم

حکم د الله تعالی هغه خطاب ته ويل کيږي چې له مکلفو وګړو څخه د کوم کار کول يا نه کول غواړي يا پې مباح کوي يا کوم څيز د بل کار لپاره شرط، سبب، مانع او... ګرځوي.

وجوب، ندب، اباحت، کراهت، تحريم، صحت، فساد او داسې نور د حکم ډولونه دي. يعني د وجوب، حرمت، کراهت او بل هغه حکم، چې په نص يا اجماع سره په اصل کې ثابت شوی هغې فرعې ته هم ورکول کيږي چې د نص حکم پکې موجود نه دی.

علت

علت هغه ښکاره او معلوم صفت ته ويل کيږي چې د همدې صفت د شتون له امله شارع حکم کړی وي.

په مقيس کې هغه علت چې شارع يې له امله حکم کړی وي، که په فرع کې موجود شي نو دواړه يو حکم لري، ځکه چې علت د حکم معيار دی او په دواړو کې يو شان موجود دی.

ketabton.com - The Digital Library

د علت مثال

عباده بن صامت رضی الله عنه روایت کوي: قَالَ رَسُولُ اللَّـهِﷺ «الذَّهَبُ بِالذَّهَبِ وَالْفِضَّةُ بِالْفِضَّةِ وَالْبُرُّ بِالْبُرِّ وَالشَّعِيرُ بِالشَّعِيرِ وَالتَّمْرُ بِالتَّمْرِ وَالْمِلْحُ بِالْمِلْحِ مِثْلاً بِمِثْلٍ سَوَاءً بِسَوَاءٍ يَدًا بِيَدٍ فَإِذَا اخْتَلَفَتْ هَذِهِ الأَصْنَافُ فَبِيعُوا كَيْفَ شِئْتُمْ إِذَا كَانَ يَدًا بِيَدٍ»[1].

رسول اللهﷺ فرمایلي: سره زر په سرو زرو، سپین زر په سپینو زرو، غنم په غنمو، وربشې په وربشو، خرما په خرما او مالګه په مالګه یو برابر او لاس په لاس پلورل کېږي، او کله چې جنسونه مختلف شي، نو بیا مو چې څنګه خوښه وي هغسی پې پلورئ، خو چې لاس په لاس وي.

دې مبارک حدیث دا څرګنده کړې چې په دې بیان شویو شیانو کې سود کیږي، پوښتنه داده چې آیا په جوارو او وریجو کې سود کیږي که نه؟

که وروستیو څلورو شیانو ته ځیر شو نو وینو چې پیمانه او د جنس یووالی علت دی او دا علت په غنمو او وریجو کې هم شته، نو د غنمو او وریجو حکم هم د نومورو څلورو شیانو په څېر دی. د نومورو څلورو شیانو حکم دا وو چې یو پر بل پې بدلول په نښه او زیاتوالي حرام وو.

په دې مسأله کې غنم، وربشې، جوار او مالګه اصل دي او نومورې هر توکی د اصل کېدو وړتیا لري.

همدا راز جوار او وربجې فرع ده.

حکم پې په نښې او زیاتوالي سره ددې شیانو د خرڅولو حراموالی او علت پې پیمانه او د جنس یووالی دی.

پوښتنې:

۱- د قیاس لغوي او اصطلاحي تعریف وکړئ او دوه مثالونه پې بیان کړئ.

۲- د قیاس د حجیت په اړه د دلایلو په رڼا کې وغږیږئ.

۳- د قیاس ارکان تعریف کړئ او یو مثال پې هم وواياست.

---

(۱) أخرجه مسلم ، باب الصرف و بيع الذهب بالورق نقدا ، الرقم (٤١٤٧).

ketabton.com - The Digital Library

درې دېرشم لوست:

اختلافي دلايل [1]

اختلافي هغو دلايلو ته ويل کيږي چې فقهاوو د هغې په حجيت او دليل ګڼلو کې اختلاف کړی وي. اختلافي دلايل په لنډ ډول داسې يادوو:

۱- استحسان

۲- د صحابي مذهب

۳- مرسله مصالح

۴- استصحاب

۵- عرف

لومړی- استحسان

استحسان په لغت کې ښه ګڼلو ته وايي.

د استحسان د اصطلاحي تعريف په اړه د فقهاوو تر منځ اختلاف دی. حنفيانو استحسان په دوو جلا معناګانو استعمال کړی:

۱- خفي قياس چې د جلي قياس په مقابل کې وکارول شي.

۲- هغه ځانګړی دليل چې د ښکاره قياس په مقابل کې واقع شي او له عمومي قاعدې څخه کوم شی استثناء کړي. دا ځانګړی دليل کله نص، کله اجماع او کله هم يو ضرورت وي.

د استحسان مثالونه

۱- حنفي فقهاوو ويلي: که وقف کوونکی يوه کرنيزه ځمکه وقف کړي نو د اوبو خور او تګ راتګ حق هم له يادولو پرته د استحسان پر بنسټ په وقف کې داخليږي. د قياس غوښتنه داده چې د بيعې په څېر دلته هم له يادولو پرته دا شيان په وقف کې داخل نشي. ځکه چې ځمګه او د تګ راتګ حق دواړه جلا شيان دي.

استحسان غوښتنه کوي: د ځمکې د وقف کولو موخه داده چې له هغې ګټه واخيستل شي او د تګ راتګ له حق پرته له ځمکې ګټه نشي اخيستل کېدای، نو د تګ راتګ حق له يادولو پرته په وقف کې داسې شاملږي، ځنګه چې په اجاره کې له يادولو پرته شامل ګڼل کيږي.

ketabton.com - The Digital Library

په دې ډول په بيعې باندې د وقف قياس کول ښکاره او جلي قياس دی او پر اجارې يې قياس کول خفي قياس دی، خو دلته خفي قياس په جلي قياس ځکه غوره وګڼل شو چې د خفي قياس دليل قوي دی.

۲- په معاملاتو کې يوه عامه قاعده ده چې د معدوم يا ناپيدا شوي څيز پلورل په دې بنسټ ناروا دي چې رسول الله ﷺ فرمايلي: «ولا تبع ما ليس عندك»[۱]. خو ددې سره سره د سلم بيع روا ده، ځکه چې رسول الله ﷺ د سلم بيع روا ګڼلې[۲].

په فقه کې يوه منل شوې قاعده ده چې امانت ساتونکی ضامن نه ګڼل کيږي، خو مشترک اجير سره له دې، چې د امانت ساتونکی دی، له دې قاعدې څخه مستثنی دی.

دا ځکه چې د امانت په ساتلوکې خلک کمی کوي او خلک امانت ساتلو ته اړتيا لري.

نو له دې کبله مستاجر ضامن ګڼل کيږي. البته که مال د کوم اسماني آفت په واسطه لکه د اورلګېدنې يا زلزلې په واسطه له منځه ولاړ شي نو مستاجر ضامن نه ګڼل کيږي.

شافعي فقهاء استحسان داسې تعريفوي: استحسان د مجتهد هغه نظر ته وايي چې پر نص، اجماع او قياس د استدلال کولو پرته يې د خپل عقل پر بنسټ ورکوي.

ددوی په وړاندې په استحسان عمل کول ناروا دي.

فعاليت

د استحسان په اړه د حنفي او شافعي فقهاوو تعريفونه سره پرتله کړئ او دا روښانه کړئ چې ددوی تر منځ اختلاف حقيقي دی که لفظي؟

دويم- د صحابي مذهب

د اصوليانو په وړاندې صحابي هغه چا ته ويل کيږي چې له رسول الله ﷺ سره مخامخ شوی وي، پر هغه يې ايمان راوړی وی، له هغه څخه يې زده کړه کړي وي او دومره اوږده ملګرتيا يې ورسره کړي وي چې د عرف له مخې د ملګري نوم ورته ورکړی شي.

د محدثينو له نظره صحابي هغه چا ته ويل کيږي چې د پيغمبر عليه السلام سره مسلمان مخامخ شوی وي او مسلمان مړ شوی وي.

---

(۱) أخرجه أبو داود في سننه، باب في الرجل يبيع ما ليس عنده رقم الحديث : (۳۵۰۵).

(۲) أخرج البخاري في صحيحه، باب السلم في وزن معلوم، رقم الحديث (۲۱۲۵)، عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: قدم النبي صلى الله عليه و سلم المدينة وهم يسلفون بالتمر السنتين والثلاث فقال (من أسلف في شيء ففي كيل معلوم إلى أجل معلوم).

ketabton.com - The Digital Library

په دې بحث کې له صحابي څخه د اصولیانو صحابي مقصد دی.

د صحابي مذهب څه معنا؟

له دې ټکي څخه مقصد د صحابي هغه فتوا او یا هغه شرعي حکم دی چې په کومه قضیه کې یې د نص او اجماع د نه شتون په صورت کې ورکړې وي.

د صحابي د مذهب حجیت

اصولیانو پر دې اتفاق کړی چې د یوو صحابی مذهب پر بل صحابي حجت نه ګڼل کیږي. همدا راز اصولیانو په دې هم اتفاق کړی چې که صحابي له اهل کتابو څخه په روایت کولو مشهور نه وو نو په غیر اجتهادي مسایلو کې یې نظر حجت او دلیل دی. په همدې توګه په هغه مسأله کې هم د صحابي قول حجت دی چې نورو اصحابو ورسره اختلاف نه وي کړی، خو که اصحابو په کومه اجتهادي مسأله کې سره اختلاف کړی وي نو علما پدې اړه بیا جلا نظرونه لري چې مهم یې دوه نظره دي:

لومړی: امام ابوحنیفه، امام مالک او په یوو روایت کې امام احمد او نور پدې نظر دي چې د صحابي مذهب په مطلق ډول حجت دی.

دویم: امام شافعي، په یوو روایت کې احمد، له حنفی فقهاوو څخه کرخي او نور په دې نظر دي چې د صحابي مذهب حجت نه دی. ځکه حجیت یوو قوي دلیل ته اړتیا لري او دلته قوي دلیل نشته.

پوښتنې:

۱- د حنفیانو او شافعیانو له نظره د یوو مثال په ترڅ کې استحسان تعریف کړئ.

۲- د اصولیانو او محدثینو له نظره صحابي چا ته ویل کیږي؟

۳- د صحابي د مذهب په اړه د علماوو نظریات په هراړخیز ډول بیان کړئ.

ketabton.com - The Digital Library

اختلافي دلايل [٢]

دريم: مرسله مصالح

د مرسله مصالحو تعريف

« **المصلحة**» په لغت کې ګټې او سم ته وايي او د فساد ضد دی. « **المرسلة**» پرېښودل شوي ته وايي.

د اصوليانو په اصطلاح کې مرسله مصالح هغو ګټو او مصلحتونو ته وايي چې شريعت نه معتبر ګڼلي وي او نه يې رد کړي وي.

دوی ته مرسله يا پرېښودل شوي، ځکه وايي چې په کولو يا نه کولو يې شرعي دليل وجود نه لري.

د مرسله مصلحت مثال:

د زندان جوړول، د پيسو چاپول او د قرآن کريم راټولول د مرسله مصالحو مثالونه دي.

د مصالحو ډولونه

مصالح په درې ډوله دی.

أ. معتبر مصلحتونه: هغه مصلحتونه دي چې کوم شرعي دليل معتبر ګڼلي وي، لکه په قصاص سره د انسانانو د ژوند ساتنه. دا مصلحت د قرآن کريم دې آيت معتبر ګڼلی دی: ﴿وَلَكُمْ فِي الْقِصَاصِ حَيَاةٌ يَا أُولِي الْأَلْبَابِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾ [البقرة: ١٧٩]

ب. مردود مصلحت: دا هغه ګټې او مصلحتونه دي چې کوم شرعي دليل بې اعتباره ګڼلي وي، لکه د شرابو او قمار ګټې چې د قرآن کريم دې آيت بې اعتباره ګڼلي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّمَا الْخَمْرُ وَالْمَيْسِرُ وَالْأَنْصَابُ وَالْأَزْلَامُ رِجْسٌ مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ فَاجْتَنِبُوهُ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ [المائدة: ٩٠]

ج. پرېښودل شوي يا مرسله مصالح: ددې مصلحتونو په اړه مو لږ مخکې رڼا واچوله.

څلورم: استصحاب

استصحاب په لغت کې ملګرتيا او يوځای والي ته وايي.

د اصوليانو په اصطلاح کې د يوو شي تر هغې پر پخواني حالت پرېښودلو ته وايي څو يې د بدلون لپاره دليل پيدا شي.

د استصحاب مثال

خوک چې اودس وکړي او بيا وروسته د اودس په ماتېدلو کې شک وي نو دا شخص اودس لرونکی شمېرل کيږي. همدا راز که له يوو مجتهد نه د يوو عمل په اړه پوښتنه

ketabton.com - The Digital Library

وشي، خو مجتهد له پلټنې وروسته ددې عمل د کولو يا نه کولو په اړه کوم شرعي دليل پيدا نه کړي نو په رواوالي به يې حکم کوي. ځکه چې اصل په شيانو کې اباحت دی. الله ﷻ لومړی ټول شيان مباح پيدا کړي او ددې خبرې دليل د قرآن کريم دا آيت دی: ﴿هُوَ الَّذِي خَلَقَ لَكُمْ مَا فِي الْأَرْضِ جَمِيعًا﴾ [البقرة: ۲۹]

مقلوب يا سرچپه استصحاب: دې ته وايي چې يو شی په تېره زمانه کې هم په هغه حالت وګڼل شي په کوم چې په حاضر وخت کې دی.

مثال

که چېرې د ژرندې اجاره اخيستونکی او اجاره ورکوونکی د تېرې شوې زمانې په اړه په ژرنده کې د اوبو د شتون په اړه اختلاف وکړي او شاهدان نه وي، نو ژرنده به وکتل شي. که چېرې په ژرنده کې اوبه وې، نو پخوانی وخت به په اوسني وخت قياس شي او د اوبو شتون به په تېره شوې زمانه کې هم ثابت شي. خو که چېرې په ژرنده کې اوبه نه وې نو په تېره شوې زمانه کې به هم د اوبو په نشتوالي حکم وشی، دې ته سرچپه استصحاب وايي او د شرعي حکم د پېژندلو لپاره د مجتهد وروستی وسيله همدا ده.

پنځم: عرف

د عرف تعريف: عرف په لغت کې آشنا او ښېګڼې ته ويل کيږي.

عرف په اصطلاح کې هغې وينا، عمل او يا پرېښودلو ته وايي چې خلکو ښه ګڼلی وي او ورباندې عمل کوي. عرف ته عادت هم ويل کيږي.

د عملي عرف مثال هغه خرڅول او اخيستل دي چې له وينا کولو پرته په چوپه خوله تر سره کيږي.

د قولي عرف مثال د «ولد» ټکی دی چې له جينکو پرته يوازې هلکانو ته کارول کيږي، په داسې حال کې چې دا ټکی دواړو ته شامل دی. همدا راز د عرف له مخې خلک کب ته غوښه نه وايي حال دا چې کب هم يو ډول غوښه ده.

عرف داسې يوه کړنه ده چې په رامنځته کولو او ښه ګڼلو کې يې د ټولنې عام او خاص خلک لاس لري، خو اجماع بيا هغه څه دي چې يوازې مجتهدين پرې اتفاق کوي او په رامنځته کولو کې يې عام خلک کومه ونډه نه لري.

د عرف ډولونه

عرف په دوه ډوله دی: صحيح عرف او فاسد عرف.

صحيح عرف: صحيح عرف هغه ته ويل کيږي چې د کوم شرعي دليل مخالف نه وي. حلال نه حراموي او حرام نه حلالوي. لکه د استصناع عقد يا مهر په مؤجل او معجل ډولونو وېشل.

ketabton.com - The Digital Library

فاسد عرف: فاسد عرف هغه عرف ته ویل کیږي چې حلال حرام کړي او یا حرام حلال کړي، لکه په غمونو او ښادیو کې یو لړ ناروا دودونه او رواجونه او د سود خوړلو او جواري کولو رواج کېدل.

د عرف حکم

مجتهد باید د شرعي حکمونو په راویستلو کې صحیح عرف په پام کې ونیسي. همدا راز قاضي باید د پریکړې پر مهال عرف له پامه ونه غورځوي.

عرف د زمانې په تېرېدو سره بدلون مومي. ډېر ځلې د زمانې تېرېدل او د عرف بدلون ددې لامل شوی چې د امام ابوحنیفه او د هغه د شاګردانو تر منځ اختلاف رامنځته شي. همدا راز امام شافعي، چې کله له بغداد څخه مصر ته ولاړ، نو د مصر د عرف د بدلون پر بنسټ امام شافعي د ډېرو مسایلو په اړه خپل نظر بدل کړ. له همدې امله امام شافعي دوه مذهبه لري چې د نوي او زوړ مذهب په نامه یادیږي.

امام مالک بیا ډېر احکام د مدینې د خلکو د عمل پر بنسټ بنا کړي.

د فاسد عرف په اړه باید وویل شي چې دې ډول عرف ته ارزښت ورکول روا نه دي. ځکه چې فاسد عرف د شرعي دلیل سره ټکر لري.

پوښتنې:

۱- د مصلحت لغوي او اصطلاحي تعریف له یوو مثال سره بیان کړئ.

۲- د مصلحت ډولونه له مثالونو سره بیان کړئ.

۳- د یوو مثال په ترڅ کې د استصحاب لغوي او اصطلاحي تعریف روښانه کړئ.

۴- سرچپه یا مقلوب استصحاب تعریف او مثال یې بیان کړئ.

۵- د استصحاب حجیت بیان کړئ او هم ووایاست چې استصحاب د شرعي دلایلو تر منځ په کومه درجه کې قرار لري؟

۶- د عرف لغوي او اصطلاحي تعریف وکړئ او د قول او عمل پر بنسټ یې ډولونه د مثال سره بیان کړئ.

۷- د صحت او فساد پر بنسټ د عرف ډولونه بیان او حکم یې روښانه کړئ.

ketabton.com - The Digital Library

له نصوصو څخه د استدلال طريقې

قرآن کريم او نبوي احاديث په عربي ژبه دي. مونږ هغه وخت په سمه او بشپړه توګه د قرآن او سنت په حکمونو پوهېدلای شو چې د عربي ژبې په اصولو او د استدلال په طريقو پوه شو. له همدې امله د اصولو علماوو د عربي ژبې د جملو د معناګانو او دلالتونو په اړه پراخې پلټنې کړي. ددې پلټنو پر بنسټ يې داسې قواعد او اصول رامنځته کړي چې پر مټ يې د شرعي نصوصو سمه پوهه تر لاسه کېدای شي.

په دې لوستونو کې به په همدې قواعدو بحث وکړو

خاص او د هغه دلالت

د خاص تعريف: خاص په لغت کې يوازې او ځانګړي ته وايي او د اصوليانو په اصطلاح کې هر هغه لفظ چې يوازې په يوه معنا، پرته له دې چې افرادو ته پې وکتل شي، دلالت وکړي، خاص بلل کيږي.

د تعريف تشريح: که لفظ په يوو شخص باندې دلالت وکړي لکه احمد او يا په نوع کې په يوو فرد باندې دلالت وکړي، لکه سړی او يا په جنس کې په يوو فرد باندې دلالت وکړی، لکه انسان يا هم په ګڼو ټاکلو افرادو باندې دلالت وکړي، لکه دري او لس، نو خاص بلل کيږي.

خاص لکه څنګه چې په ذواتو، لکه احمد او موټر دلالت کوي، همداسې په معناګانو لکه پوهه، صبر او رښتينولي هم دلالت کوي.

د خاص ضد عام بلل کيږي چې بيان به يې وروسته راشي.

د خاص مثالونه

د قسم په کفاره کې الله ﷻ فرمايي: ﴿ فَمَنْ لَمْ يَجِدْ فَصِيَامُ ثَلَاثَةِ أَيَّامٍ ﴾ [المائدة: ٨٩]

١- په دې آيت کې د ثلاثة لفظ خاص دی، په قطعي ډول پخپله معنا دلالت کوي او د زياتوالي او کموالي احتمال نه لري. نو آيت دا معنا ورکوي: چا چې غلام د آزادولو لپاره ونه موند يوازې درې ورځې روژه نيول پرې واجب دي او بس.

ketabton.com - The Digital Library

۲- رسول الله ﷺ فرمايي: «في أربعين شـــاة شـــاة». دې حـديث د پـسونو د زکـات نـصاب څلوېښت وټاکه او دا يې هم وويل چې په څلوېښتو پـسونو کـې يـو پـسه زکـات کـيږي. څرنګه چې دا دواړه لفظونه (څلوېښت او يو)خاص دي نو هيڅ زياتوالی او کموالی پکې نشي کېدای.

خو که داسې دليل راپيدا شي چې د خاص د تأويل غوښتنه کوي نـو پـه خـاص کـې بـه تأويل کيږي، لکه حنفي فقهاوو چې ويلي: په دې حـديث کـې مقـصد پـسه او يـا د هغـه قيمت دي، نو د دواړو ورکول صحيح دي.

د خاص حکم: کله چې په يوو نص کې خاص لفظ راشي، نو په قطعي ډول پخپلـه معنـا دلالت کوي، مګر دا چې يو دليل د تأويل يا بلې معنا غوښتنه وکړي.

مطلق، مقيد، أمر او نهی د خاص ډولونه دي.

مطلق

مطلق هغه لفظ دی چې په غير مقيد فرد باندې دلالت کوي، لکه سړی او مرغه.

د مطلق حکم

تر هغې چې د مطلق د مقيد کېدو لپاره دليل موجود نشي، مطلق پخپل اطلاق باندې پـاتې کيږي. د بېلګې په ډول د الله ﷻ په دې وينـا کـې: ﴿وَالَّذِينَ يُظَاهِرُونَ مِنْ نِسَائِهِمْ ثُمَّ يَعُودُونَ لِمَا قَالُوا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَتَمَاسَّا﴾ [المجادلة: ۳] د رقبـه لفـظ مطلـق دی او د ايمـان قيـد پکې نشته، په دې بنسټ د خطا قتل په اړه د قرآن ددې آيـت ﴿وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ﴾ [النساء: ۹۲] له امله به نوموړې مطلقه رقبه د ايمان په شرط نه مقيده کيږي.

مقيد

مقيد هغه لفظ ته وايي چې په مقيد فرد باندې دلالت وکړي، لکه مسلمان سړی او سپين مرغه.

د مقيد حکم

مقيد چې په کوم شي دلالت کوي پـه هغـه عمـل کـول واجـب دي. د بېلګـې پـه ډول د النساء سورت پدې آيـت کـې: ﴿وَمَنْ قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَأً فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ وَدِيَةٌ مُسَلَّمَةٌ إِلَى أَهْلِهِ إِلَّا أَنْ يَصَّدَّقُوا﴾ [النساء:۹۲] د خطا قتل په کفاره کې د مؤمن غلام ازادول فرض شوي. پـه دې آيت ﴿فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُؤْمِنَةٍ﴾ کې غلام د ايمان په صفت سره مقيد شوی ځکه نو د کافر غلام په ازادولو سره کفاره نه ادا کيږي او بايد چې په مقيد باندې عمل وشي.

ketabton.com - The Digital Library

أمر

له چا څخه د يوو کار کول غوښتل په داسې بڼه چې غوښتونکی ځان لوړ وګڼي، د اصولو په اصطلاح کې امر بلل کېږي. په دې بنسټ التماس او دعا امر نه بلل کيږي، ځکه چې التماس د دوو هم رتبه کسانو تر منځ صورت مومي او دعا له لوړ رتبه شخص څخه د ټيټ رتبه شخص غوښتنې ته وايي، ځکه نو يو هم امر نه ګڼل کيږي.

د امر حکم

امر د خاص يو ډول دی او تر څو چې اړوونکې نښه موجوده نشي په وجوب دلالت کوي، نو د الله ﷻ دا وينا چې: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نُودِيَ لِلصَّلَاةِ مِنْ يَوْمِ الْجُمُعَةِ فَاسْعَوْا إِلَى ذِكْرِ اللَّهِ وَذَرُوا الْبَيْعَ﴾ [الجمعة: ۹] د آذان پر مهال د جمعې لمانځه ته په ښېرې کولو حکم کوي.

خو که داسې نښه او قرينه وموندل شي چې له خپلې معنا څخه د امر د اړولو غوښتنه کوي، نو د امر معنا به هماغه وي چې قرينه يې غوښتنه کوي، لکه د الله پاک دا وينا چې فرمايي: ﴿فَإِذَا قُضِيَتِ الصَّلَاةُ فَانْتَشِرُوا فِي الْأَرْضِ وَابْتَغُوا مِنْ فَضْلِ اللَّهِ﴾ [الجمعة: ۱۰] د جمعې له لمانځه وروسته په ځمکه کې ګرځېدل او د حلال رزق پلټنه د الله پاک په پيرزوينه يو مباح کار دی. که چېرې دا امر د وجوب لپاره وګڼل شي، نو اباحت به په تکليف بدل شي او په آيت کې ياده شوې د الله ﷻ پيرزوينه به بې معنا پاتې شي. په حقيقت کې د پيرزوينې يادونه هغه اړوونکې قرينه ده چې امر يې له وجوب څخه اباحت ته اړولی.

نهې

څوک له يوو کار څخه په داسې بڼه منع کول چې منع کوونکی ځان لوړ وګڼي دا منع د اصولو په اصطلاح کې نهی بلل کېږي.

د نهې حکم

کوم شی چې د نهي په واسطه په مطلق ډول منع شي، ځان ساتل ترې واجب او ترسره کول يې حرام دي، ځکه چې نهي د خاص له ډولونو څخه ده او يوازې په تحريم دلالت کوي. لکه د الله ﷻ دا وينا: ﴿وَلَا تُنكِحُواْ الْمُشْرِكِينَ حَتَّى يُؤْمِنُواْ﴾ [البقرة: ۲۲۱] چې له مشرکې ښځې سره د واده کولو په حرمت دلالت کوي. همدا راز د قرآن کريم دا آيت:

ketabton.com - The Digital Library

﴿وَلاَ يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَأْخُذُواْ مِمَّا آتَيْتُمُوهُنَّ شَيْئًا﴾ [البقرة: ٢٢٩] له مېرمني څخه د مهر د بېرته اخيستلو په حرمت دلالت کوي.

که چېرې داسې قرينه وموندل شي چې نهى له خپلې ټاکلې معنا (منع کول) څخه واړوي، نو د نهى معنا له قرېنې سره سم بدلون مومي، لکه د قرآن کريم دا آيت چې فرمايي: ﴿رَبَّنَا لاَ تُزِغْ قُلُوبَنَا﴾ [آل عمران:٨] په دې آيت کې نهي د دعا په معنا ده، ځکه دلته له لوړ رتبه څخه د ټيټ رتبه غوښتنه ده او غوښتونکی ځان ټيټ بولي.

عام او د هغه دلالت

د عام تعريف: عام هغه لفظ ته وايي چې د اصلي لغوي معنا له مخې په ډېرو افرادو باندې په شامل ډول (په يو وخت)دلالت وکړي.

عام لفظونه: د اصولو علماوو له پلټنې وروسته هغه لفظونه او عبارتونه په ډاګه کړي چې د اصلي وضعي معنا له مخې په عموم دلالت کوي. مهم يې په لاندې توګه تشرېح کوو:

١- د کل او جميع لفظ: رسول الله ﷺ فرمايي: (كُلُكُمْ رَاعٍ وَكُلُكُمْ مَسْؤُوْلٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ)

همدا راز الله پاک فرمايي: ﴿خَلَقَ لَكُم مَّا فِي الأَرْضِ جَمِيعاً﴾ [البقرة: ٢٩]

٢- هغه مفرد چې د جنس په تعريفي « الف، لام» سره معرفه شوی وي، لکه د قرآن کريم دا آيت: ﴿الزَّانِيَةُ وَالزَّانِي فَاجْلِدُوا كُلَّ وَاحِدٍ مِّنْهُمَا مِئَةَ جَلْدَةٍ﴾ [النور: ٢].

٣- هغه جمع چې د جنس په تعريفي «الف ، لام» سره معرفه شوي وي، لکه د بقرة سورت دا آيت: ﴿وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلاَثَةَ قُرُوَءٍ﴾ .

٤- د (ما) او (من) ټکي لکه د قرآن کريم په دې آيت کې: ﴿وَمَن قَتَلَ مُؤْمِنًا خَطَئًا فَتَحْرِيرُ رَقَبَةٍ مُّؤْمِنَةٍ﴾ [النساء: ٩٢] په همدې ډول د قرآن کريم دا آيت: ﴿وَأُحِلَّ لَكُم مَّا وَرَاء ذَلِكُمْ أَن تَبْتَغُواْ بِأَمْوَالِكُم﴾ [النساء: ٢٤]

٥- نکره چې د نفي په سياق کې راشي، لکه د رسول الله ﷺ دا وينا: «**لا ضرر و لاضرار**»[1]. په همدې ډول د قرآن کريم دا آيت: ﴿لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ﴾[البقرة: ١٥٦].

---

(١)أخرج البيهقي في السنن الكبرى عن عمرو ابن يحيى المازنى عن أبيه ان رسول الله صلى الله عليه وسلم قال لا ضرر ولاضرار ج ٦ ص ١٥٧.

ketabton.com - The Digital Library

د عام حکم

فقهاء په دې متفق دي چې عام خپلو ټولو افرادو ته ورشاملیږي. که د ځینو افرادو په تخصیص دلیل ونه موندل شي نو په ټولو افرادو د عام حکم تطبیږي. همدا رنګه فقهاء په دې هم یو دي چې که د عام ځینې افراد د کوم دلیل له مخې خاص شي، نو په پاتې افرادو یې دلالت ظني ګرځي او په بل ظني دلیل یې تخصیص روا دی.

له تخصیص نه وړاندې د عام په دلالت کې د فقهاوو اختلاف دی چې آیا قطعي دی که ظني؟ هم دا چې په ظني دلیل تخصیص کېدای شي او که نه؟

د حنفیانو په شمول د فقهاوو یوه ډله وایي: هغه عام چې تخصیص شوی نه وي، دلالت یې قطعي دی، نو په ظني دلیل یې تخصیص روا نه دی. له همدې امله په قرآن کریم کې راغلی عام په آحادو حدیثونو نه تخصیص کیږي، ځکه چې تخصیص د نسخې یو ډول دی او د قرآن نسخ په آحادو حدیثونو روا نه دی.

د شافعیانو په شمول د فقهاوو یوه بله ډله په دې نظر ده چې عام له تخصیص وړاندې او وروسته په دواړو حالتونو کې ظني الدلالت دی. ځکه نو په دواړو حالتونو کې یې په ظني دلیل تخصیص کول روا دي.

په همدې بنسټ چې له تخصیص وړاندې د عام په دلالت کې اختلاف دی. فقهاوو په یو شمېر زیاتو مسألو کې اختلاف کړی. د یوې ډلې په نظر په قرآن کې ټول راغلي عام الفاظ قطعي الدلالت دي او په آحادو حدیثونو یې تخصیصول روا نه دي. د بلې ډلې په نظر نوموړي الفاظ ظني الدلالت دي او په آحادو حدیثونو یې تخصیص جایز دی.

پوښتنې:

۱- د خاص لغوي او اصطلاحي تعریف وواياست او د خاص العین، خاص النوع او خاص الجنس لپاره مثال وړاندې کړئ.

۲- د خاص حکم بیان کړئ.

۳- د لاندې اصطلاحاتو معنا او حکم د یوو مثال سره روښانه کړئ.

مطلق، مقید، امر او نهی.

۴- عام تعریف کړئ او هم د عام څلور الفاظ د مثال سره بیان کړئ.

۵- د عام حکم څه دی؟ ددې اختلاف په اړه د فقهاوو نظریات بیان کړئ.

ketabton.com - The Digital Library

شرعي حکم (۱)

الله ﷻ انسان پیدا کړ او د شریعت په رالیږلو یې د ژوند نظام، حلال او حرام ورته روښانه کړل، تر څو په عدالت پربکړه وکړي. اسلامي شریعت په حقیقت کې د شرعي احکامو ټولګه ده. نو راځئ چې لومړی په دې ځان وپوهوو چې حکم څه ته وایي او کوم کوم ډولونه لري؟

د حکم تعریف

حکم په لغت کې منعې ته وایي او قاضي ته ځکه حاکم ویل کیږي چې خلک له ظلم څخه منع کوي.

د اصولیانو تعریف: حکم د الله تعالی هغه خطاب ته ویل کیږي چې له مکلفو وګړو د کوم کار کول یا نه کول غواړي، یا یې مباح کوي، یا کوم څیز د بل کار لپاره شرط، سبب، مانع او... ګرځوي.

د تعریف شننه

د الله ﷻ خطاب: خطاب په لغت کې د دوو کسانو تر منځ خبرو ته وایي چې د یو بل پوهولو لپاره ترسره کیږي. دلته ورڅخه مقصد همدا دی. د (الله) په لفظ سره د بل چا سره خبرې له دې تعریف څخه وځي.

د مکلفینو کړه وړه: هغه عقیده، وینا او عمل چې له مکلف مسلمان څخه صادریږي.

مکلف: بالغ، عاقل چې په خبرو پوهیږي.

غوښتنه: د امر په ټکو د څه کولو غوښتل او د نهي په ټکو منع کول.

اباحت یا اختیار ورکول: د یوو کار کول او نه کول، یو ډول ګڼل.

د حکم مثالونه

۱- د کولو غوښتنه: الله ﷻ فرمایي: ﴿أَوْفُواْ بِالْعُقُودِ﴾ [المائدة: ۱] په دې خطاب کې د ژمنو د پوره کولو غوښتنه ده چې د مکلفینو فعل دی.

۲- د نه کولو غوښتنه: الله پاک فرمایي: ﴿لَا يَسْخَرْ قَومٌ مِّن قَـوْمٍ﴾ [الحجرات: ۱۱] په دې خطاب کې له ملنډو وهلو څخه د خلکو منع کول دي چې دا هم د مکلفینو فعل دی.

ketabton.com - The Digital Library

۳- اختيار ورکول: ﴿وَلَا جُنَاحَ عَلَيْكُمْ أَن تَنكِحُوهُنَّ إِذَا آتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ﴾ [الممتحنة:۱۰]، په دې خطاب کې د مسلمانو ښځو د نکاح کولو په اړه مکلفينو ته اختيار ورکول دي.

۴- **وضعي حکم:** رسول الله ﷺ فرمايلي: «لايرث القاتل»[۱] د پيغمبر عليه السلام دا حديث چې په حقيقت کې د الله ﷻ له خوا وحي ده، د قتل په هکله دی. په دې حديث کې د مورث قتلول له ميراث څخه د محروميت مانع ټاکل شوی دی، او مانع ټاکل وضعی حکم دی.

د فقهاوو په وړاندې حکم د الله تعالی د هغه خطاب اثر دی چې د مکلفو وګړو په کړو وړو پورې اړه لري، د څه کول يا نه کول ورڅخه غواړي، يا يې مباح کوي، يا کوم څيز د بل کار لپاره شرط، سبب، مانع او... ګرځوي.

په لومړي مثال ﴿أَوْفُواْ بِالْعُقُودِ﴾ کې د اصوليانو په وړاندې حکم د ژمنو د پوره کولو غوښتنه ده او د فقهاوو په وړاندې د ژمنو د پوره کولو وجوب دی، ځکه غوښتنه واجبول دي چې اثر يې وجوب دی. همدا راز په دويم مثال کې حکم د ملنډو وهلو منع کول دي چې اثر يې حرمت دی. په دريم مثال کې حکم د نکاح اباحت دی چې اثر يې د نکاح مباح کېدل دي. په څلورم مثال کې قتل له ميراث څخه د محروميت سبب ګرځول دي چې اثر يې له ميراث څخه عملا محرومېدل دي.

يادونه

هغه څه چې په قرآن ثابت دي هغه په مستقيمه توګه د الله تعالی د خطاب اثر دی، او هغه څه چې په سنتو، اجماع او قياس ثابت دي هغه هم د الله تعالی د خطاب اثر ګڼل کېږي، ځکه د سنتو، اجماع او قياس ثبوت هم په قرآن راغلی، نو په حقيقت کې حاکم يوازې الله تعالی دی. او مورږ سنت، اجماع او قياس ځکه منو چې الله ﷻ يې د منلو امر کړی او هغه څه چې ددوی په وسيله ثابتيږي له قرآن څخه سرچينه اخلي.

د شرعي حکم ډولونه

شرعي حکمونه په دوه ډوله دي:

تکليفي حکمونه او وضعي حکمونه.

---

(۱) أخرجه الترمذي في سننه، باب إبطال ميراث القاتل، وصححه الألباني، (دار إحياء التراث العربي ـ بيروت) ج٤ ص ٤٢٥

ketabton.com - The Digital Library

تکليفي حکم

د تکليفي حکم تعريف: تکليفي حکم د الله تعالی هغه خطاب دی چې د مکلفو وګړو په کړو وړو پورې اړه لري، د څه کول، نه کول ورځخه غواړي، يا يې مباح کوي.

د تکليفي حکم ډولونه

د تکليفي حکم د ډولونو په اړه د فقهاوو تر منځ اختلاف دی.

جمهور علما وايي چې تکليفي حکم دا پنځه ډولونه لري: فرض، واجب، منـدوب، مبـاح، مکروه او حرام.

حنفيان په دې نظر دي چې تکليفي حکم اووه ډولونه لري: فرض، واجب، مندوب، مباح، تنزيهي مکروه، تحريمي مکروه او حرام.

اوس به ددې ډولونو په تفصيلاتو خبرې وکړو.

واجب

د واجبو تعريف: د لغت له مخې واجـب د لازم پـه معنـا دی. د پرېوتـونکي پـه معنـا هـم راځي، لکه چې د دېوال د راپرېوتو پر مهال وايي: وجب الحايط.

واجب په اصطلاح کې هغه عمل ته وايي چې کوونکی يې د ثواب او پرېښودونکی يـې د سزا وړ ګرځي. د جمهورو په وړاندې واجب او فرض دواړه يوه معنا او يو حکم لري.

حنفيان دليل ته په کتو سره د فرض او واجبو تر منځ توپير کوي. که چېرې دليـل ظنـي وي، لکه د قربانۍ ثبوت چې په آحاد حديث شـوی، نـو فعـل واجـب ګڼـل کيـږي او کـه چېـرې دليل قطعي وي، لکه د لمانځه فرضيت چې په قرآني آيتونو ثابت شوی، نو عمل فرض ګڼـل کيږي. ددې توپير په اساس د حنفيانو په وړاندې واجب له فرضو څخه ټيټـه درجـه لـري. لـه همدې امله د واجبو د پرېښودونکي سزا د فرضو له پرېښودونکي څخه کمه ده. همدا راز لـه فرضو څخه منکر کافر ګڼل کيږي، خو له واجبو څخه منکر کافر نه ګڼل کيږي.

پوښتنې:

۱- د فقهاوو او اصوليانو له نظره د شرعي حکم لغوي او اصطلاحي تعريف وکړئ.

۲- د جمهورو او حنفيانو له نظره د تکليفي حکم تعريف او ډولونه بيان کړئ.

۳- د واجب لغوي او اصطلاحي تعريف بيان او د حنفيانو پـه وړانـدې د واجبـو او فرضـو توپير روښانه کړئ.

ketabton.com - The Digital Library

شرعي حکم (۲)

مندوب

د مندوب تعريف: ندب په لغت کې د يوو مهم کار لپاره بللو ته وايي.

مندوب په اصطلاح کې هغه عمل ته ويل کيږي چې کوونکي ته يې ثواب شته، خو پرېښودونکی ته يې عقاب نشته. د مندوب ځينې ډولونه داسې دي چې په پرېښودلو يې بنده ملامت ګڼل کيږي.

مندوب ته سنت، مستحب، نفل، تطوع، احسان او فضيلت هم ويل کيږي. دا ټول لفظونه د معنا په لحاظ سره نژدې دي او هغه عمل ته ويل کيږي چې کول يې غوره خو اجباري نه وي.

مندوب ګڼې درجې لري

د مندوب لوړه درجه سنت مؤکد دي. سنت مؤکد هغه عمل ته ويل کيږي چې رسول الله ﷺ وربانديې هميشه والی کړي وي او ډېر لږ يې پريښي وي، لکه د سهار د لمانځه دوه رکعته سنت چې پرېښودونکی يې ملامت ګڼل کيږي.

په دې پسې د غيرمؤکدو سنتو درجه ده. دا هغه سنت دي چې رسول الله ﷺ ترسره کړي، خو دوام يې وربانديې نه وي کړي، لکه د مازيګر له لمانځه مخکې څلور رکعته نفل لمونځ ادا کول.

په دې پسې د هغو سنتو درجه ده چې د فضيلت، ادب او زوايدو سنتو په نامه يادېږي، لکه د ژوند په عامو چارو کې د پېغمبر عليه السلام د عاداتو او هغو کارونو پيروي کول چې له هغه مبارک څخه د يوو انسان په توګه صادر شوي وي. مثالونه يې په خوراک، څښاک او ويده کېدو کې د رسول الله ﷺ پيروي کول دي.

مکروه

د مکروه تعريف

مکروه په لغت کې بد ګڼل شوي ته وايي.

مکروه په اصطلاح کې هغه عمل ته ويل کيږي چې پرېښودونکي ته يې ثواب شته، خو کوونکي يې د سزا وړ نه ګرځي.

د حنفيانو پر وړاندې مکروه په دوه ډوله دی:

ketabton.com - The Digital Library

تنزيهي مکروه: هغه مکروه ته ويل کيږي چې پرېښودونکي ته يې ثواب وي او کوونکي ته يې سزا نه وي، لکه د جمهورو د تعريف په څېر.

د بېلګې په ډول په ولاړه اوبه څښل تنزيهي مکروه دي ځکه چې د ابوسعيد خدريﷺ په روايت کې رسول اللهﷺ په ولاړه د اوبو څښل منع کړي[1].

تحريمي مکروه: تحريمي مکروه هغې عمل ته ويل کيږي چې په ظني دليل ورځخه خلک منع شوي وي.

د حنفيانو په وړاندې دا مکروه د واجب په مقابل کې قرار لري. له حرام څخه په ټيټه درجه کې راځي او منکر يې نه کافر کيږي.

مثال يې د چا په بيعې باندې بيع کول او د چا په خطبې (مرکې) باندې مرکه کول دي ځکه چې رسول اللهﷺ فرمايي: «ولا يبيع الرجل على بيع أخيه ولا يخطب على خطبة أخيه»[2]

دا حديث خبر واحد دی نو ظني دليل دی.

حرام

د حرامو تعريف

حرام په لغت کې ممنوع ته وايي او د جمهورو په اصطلاح کې هغه عمل ته ويل کيږي چې پرېښودونکي ته يې ثواب او کوونکی يې د سزا وړ ګرځي. حنفيانو هم د حرامو تعريف همداسې کړی، خو يو شرط يې ورزيات کړی او هغه دا چې حرام به په قطعي دليل ثابت وي.

د حرامو مثالونه خورا زيات دي، لکه د شرک حرامالی، د زنا، سود او نورو حرامالی.

وضعي حکم

د وضعي حکم تعريف

د الله پاک خطاب چې يو شی د بل شي لپاره سبب، شرط او يا مانع وګرځوي.

ددې مقصد دادی چې الله پاک موږ ته حکمونه راليږلي او د حکم د ثبوت لپاره يې دلايل ټاکلي. د بېلګې په ډول يو حکم د خپل سبب په پيدا کېدو، د شرطونو په پوره

---

(١)أخرجه مسلم في كتاب الأشربة ، باب في الشرب قائما برقم (٢٠٢٥).

(٢) أخرجه البخاري في باب لا يبيع على بيع أخيه برقم : (٢٠٣٣).

ketabton.com - The Digital Library

کېدو او د مانع په له منځه تلو، منځته راځي. همدا راز د سبب او شرط په له منځه تلو او د مانع په پیدا کېدو له منځه ځي.

دې ته وضعي حکم ځکه وایي چې د شارع له خوا کېښودل شوي. دا شارع دی چې د لاس پرې کولو لپاره یې غلا کول سبب ګڼلی، د لمانځه د صحت لپاره یې اودس شرط ګڼلی او د مورث وژل یې د میراث د اخیستلو مانع ګرځولي.

وضعي حکم درېو ډولو ته وېشل شوی: سبب، شرط او مانع.

سبب

په هر هغه شي باندې، چې بل شي ته رسېدل کیږي، سبب نومیږي.

سبب په اصطلاح کې هغه شي ته ویل کیږي چې په موجود کېدو یې حکم موجودیږي او په له منځه تلو یې حکم له منځه ځي.

د مثال په توګه د روژې د میاشتې په لیدل کېدو د روژې نیول واجبیږي، الله ﷻ فرمایي: ﴿فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ﴾ [البقرة: ١٨٥].

شرط

د شرط تعریف

شرط هغه شي ته ویل کیږي چې له وجود پرته یې شی نه بشپړیږي او د شي په حقیقت کې داخل هم نه وي.

شرط په اصطلاح کې هغه شي ته ویل کیږي چې په له منځه تلو یې حکم له منځه ځي، خو په موجود کېدو یې حکم هرو مرو منځته نه راځي.

د شرط مثال: اودس کول د لمانځه لپاره شرط دي. الله ﷻ فرمایي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ﴾ [المائدة: ٦]. که چېرې اودس نه وي لمونځ نه کیږي خو د اودس د شتون سره هرو مرو لمونځ نه موجودیږي.

مانع

د مانع تعریف:

د دوو شیانو تر منځ پردې ته مانع ویل کیږي.

مانع په اصطلاح کې هغه شي ته ویل کیږي چې په شتون یې حکم منځ ته نه شی راتلای. یعنې کله کله د حکم سببونه پوره وي او باید حکم موجود شي خو د یوو مانع له املې حکم منځته نه راځي.

ketabton.com - The Digital Library

د بېلګې په ډول که پلار خپل خوی ووژني، نو قصاص کیږي پرې نه، ځکه دلته یو مـانع منځته راغلی او هغه د پلارولی اړیکه ده، چې د قصاص مانع ګرځي.

فعالیت

د لیکل شوي مثال په څېر راتلونکي هر یوو حکم ته دوه مثالونه ولیکئ:

مثال: فرض: ۱ـ په یوه ورځ کې پنځه وخته لمونځ فرض دي.

۲ ـ هغه څوک چې د حج کولو توان لري، ادا کول یې ورباندې فرض دي.

فرض: ۱ ـ

۲ ـ

واجب: ۱ ـ

۲ ـ

تنزیهي مکروه: ۱ ـ

۲ ـ

تحریمي مکروه: ۱ ـ

۲ ـ

حرام: ۱ ـ

۲ ـ

پوښتنې:

۱- د ندب لغوي او اصطلاحي معنا روښانه کړئ.

۲- د مندوب درجې بیان کړئ.

۳- د حنفیانو په وړاندې د تحریمي او تنزیهي مکروه تر منځ څه توپیر دی؟

۴- د جمهورو او حنفیانو له نظره د حرام تعریف روښانه کړئ.

۵- وضعي حکم څه ته وایي؟ ولې ورته وضعی وایي او ډولونه یې کوم دي؟

۶- د سبب، شرط او مانع لغوي او اصطلاحي تعریفونه د مثال سره بیان کړئ.

ketabton.com - The Digital Library

اته دېرشم لوست

فتوا

د فتوا تعريف

د فتوا ټکی د (أفتاه فی الأمر) څخه اخیستل شوی. معنا ېې ده: چاره ېې ورته بیان او روښانه کړه، فتوا هغه نظر ته وایي چې فقیه یې وړاندې کوي.

د فتوا اصطلاحي تعریف: یوو چا ته د ېښې شوې مسألې په اړه د دلیل پر بنسټ د الله ﷻ حکم څرګندولو ته فتوا وایي.

مفتي: هغه عالم ته وایي چې خلکو ته د ېښو شویو مسألو په اړه شرعي حکم بیانوي.

مستفتي: د یوې ېښې په اړه د شرعي حکم پوښتونکي ته وایي.

د فتوا اهمیت او ارزښت

افتا خورا ارزښت لرونکی او د درناوی وړ منصب دی. له همدې کبله الله پاک په قرآن کریم کې د فتوا ورکولو دنده خپل ځان ته منسوبه کړې او فرمایي: ﴿يَسْتَفْتُونَكَ قُلِ اللَّهُ يُفْتِيكُمْ﴾ [النساء: ١٧٦]

په لومړیو کې ددې دندې ترسره کول د خواږه پیغمبر ﷺ دنده وه. هغه علیه السلام به د الله پاک له وحي سره سم خلکو ته فتوا ورکوله او په خورا روښانه او لنډ ډول به یې خلکو ته د هغوی پوښتنې ځوابولې.

مفتي د رسول الله ﷺ په مقام کې قرار لري. رسول الله ﷺ په دې اړه فرمایي: «إن العلماء ورثة الانبياء وإن الأنبياء لم يورِّثوا دينارا ولا درهما إنما ورَّثوا العلم»[1]، ېې شکه علماء د انبیاوو وارثان دي او انبیاوو دینار او درهم په میراث نه دی پرېښې، بلکې یوازې علم ېې په میراث پرېښې.

مفتي د احکامو په بیانولو کې د رسول الله ﷺ استازی دی. رسول الله ﷺ فرمایي: «ألا ليبلغ الشاهد منكم الغائب»[2]، خبر اوسئ! حاضر دې غایب ته (خبره) ورسوي.

---

(١) أخرجه أبو داود في كتاب العلم، باب في فضل العلم

(٢) أخرجه البخاري في كتاب العلم، باب قول النبي ﷺ : رب مبلغ أوعي من سامع، ومسلم في كتاب القسامة والمحاربين ، باب تغليظ تحريم الدماء والأعراض والأموال.

ketabton.com - The Digital Library

څرنګه چې مفتي د الله پاک احکام خلکو ته بيانوي، نو دا دنده ستر مسؤليت هم دی. الله د هغه چا لپاره چې له خپله ځانه په الله ﷻ پسې خبرې تړي د سخت عذاب وعده کړې او دا کار يې يو ډول شرک بللي. الله ﷻ فرمايي: ﴿ قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ وَالْإِثْمَ وَالْبَغْيَ بِغَيْرِ الْحَقِّ وَأَنْ تُشْرِكُوا بِاللَّهِ مَا لَمْ يُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا وَأَنْ تَقُولُوا عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ﴾ [الأعراف: ٣٣]. **ژباړه:** ای محمده! دوی ته ووايه زما رب چې کوم شيان حرام کړي، هغه دادي: د بې حيايۍ چارې که ښکاره وي او که پټې ګناه او د حق پر خلاف تېری او دا چې له الله سره تاسې کوم څوک شريک کړئ چې د هغه لپاره يې کوم سند نه دی نازل کړی او دا چې د الله په نوم داسې کومه خبره وکړئ چې د هغې په باب تاسې معلومات ونه لرئ چې هغه په حقيقت کې کړې ده.

رسول الله ﷺ په دې اړه فرمايلي: «مَنْ أُفْتِيَ بِغَيْرِ عِلْمٍ كَانَ إِثْمُهُ عَلَى مَنْ أَفْتَاهُ »[1]

چاته چې په ناپوهۍ فتوا ورکړل شوه ګناه يې په هغه چا ده چې فتوا يې ورکړې.

سلفو صالحينو به تل کوښښ کاوه چې د شرعي مسايلو پوښتونکي نورو ته وليږي او د سختې اړتيا پرته به يې فتوا ورکولو ته زړه نه ښه کاوه. هغوی به له علم پرته له فتوا ورکولو څخه خلک زيات وېرول.

د فتوا ورکولو حکم

فتوا ورکول پنځه حالتونه لری:

۱- هغه مهال د فتوا ورکول واجب دي چې مفتی د فتوا په مسأله پوه وي، ځواب ويلو ته اړتيا هم وي، پر حکم د عمل کولو وخت هم رسېدلی وي او په سيمه کې بل مفتي هم نه وي. په داسې حالاتو کې فتوا ورکول ددې آيت پر بنسټ واجب دي: ﴿وَإِذْ أَخَذَ اللَّهُ مِيثَاقَ الَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ لَتُبَيِّنُنَّهُ لِلنَّاسِ وَلَا تَكْتُمُونَهُ فَنَبَذُوهُ وَرَاءَ ظُهُورِهِمْ وَاشْتَرَوْا بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا فَبِئْسَ مَا يَشْتَرُونَ﴾ [آل عمران: ١٨٧]. **ژباړه:** دغو اهل کتابو ته هغه کلکه وعده وریاده کړه چې الله ورڅخه اخيستې وه چې تاسې به د کتاب لارښوونې په خلکو کې هرو مرو خوروئ او هغه به نه پټوئ ، خو هغو کتاب شاته وغورځاوو او هغه يې په لږه بيه وپلوره، څومره ناکاره راکړه ورکړه ده چې دوی يې کوي.

---

(۱) أخرجه أبوداود، باب التوقي من الفتيا (دار الكتاب العربي ، بيروت)، ج ۳ ص ۳۵۹.

ketabton.com - The Digital Library

د رسول اللهﷺ دا وينا هم ددې غوښتنه کوي: «من سئل عن علم فكتمه ألجمه الله بلجام من نار يوم القيامة»[1]، له چا څخه چې د يو علم په هکله پوښتنه وشوه، او ده هغه پټ کړ، نو د قيامت په ورځ به د اور په قيضه قيضه کړای شي.

۲- کله چې مفتي د فتوا ورکولو وړ وي، خو په سيمه کې بل مفتي شتون ولري او هم د فتوا ورکولو اړتيا شديده نه وي، نو فتوا ورکول مستحب دي.

۳- فتوا ورکول هغه مهال حرام دي چې ځواب ورکوونکی په شرعي حکم پوه نه وي، که څه هم فتوا يې له شريعت سره برابره وي. يا د فتوا ورکولو مقصد دنيوي ګټې او يا هم د نفس غوښتنه وي.

۴- که پوښتنه دداسې مسألې په اړه وي چې پېښه شوې نه وي او فرضي بڼه ولري نو پداسې موضوعاتو کې فتوا ورکول مکروه دي. سلفو صالحينو په داسې موضوعاتو کې بحث کول بد ګڼل او ويل به يې: پرې يې ږدئ تر څو پېښې شی.

۵- فتوا ورکول هغه وخت مباح ګڼل کيږي چې مفتي د فتوا وړ وي، موضوع هم داسې وي چې پېښېدل يې شوني وي خو د فتوا د ځواب لپاره وخت زيات وي. په داسې حالاتو کې فتوا ورکول روا دي.

د مفتي شرطونه

څرنګه چې مفتي د اللهﷻ او رسولﷺ حکم خلکو ته بيانوي نو بايد لاندې شرطونه پکې پوره وي:

۱- مفتي بايد مسلمان، بالغ، عاقل او عادل وي. پر دې شرطونو باندې د علماوو اجماع ده. کافر، مرتد او هغه څوک، چې د ايمان ماتوونکی عمل يې ترسره کړی وي، د فتوا ورکولو وړ نه دی. همدا راز کوچنی، ليونی، اعتقادي فاسق، عملي او قولي فاسق د فتوا ورکولو وړ نه بلل کيږي.

۲- مفتي بايد په ور وړاندې شوې مسأله علم ولري، د هغې په هکله له شرعی دلايلو څخه خبر وي، د پخوانو علماوو نظريات، په دې هکله بايد ورته معلوم وي، څو د اجماع په خلاف فتوا ورنکړي.

---

(۱) أخرجه أبوداود في كتاب العلم، باب كراهية منع العلم والترمذي في أبواب العلم،باب ما جاء في كتمان العلم، وقال حديث حسن.

ketabton.com - The Digital Library

۳- مفتي بايد د فقهې په اصولو عالم او د متفق عليها او اختلافي دلايلو او په ځانګړي ډول د قياس په اړه هم علم ولري.

۴- مفتي بايد به عربي ژبه، نحو او صرف عالم وي، ځکه د فتوا مأخذونه په عربي ژبه دي، نو د عربي له پوهې پرته په سمه توګه شرعي حکم ته رسېدل ناشوني دي.

۵- مفتي بايد د اسلامي شريعت په مقاصدو پوه وي او د خلکو د مصلحتونو، حالاتو او دودونو په اړه معلومات ولري، ځکه ځينې احکام د مصلحتونو، حالاتو او دودونو په بدلون بدلون مومي.

۶- مفتی بايد د وروړاندې شوې مسألې په ټولو اړخونو ځان پوه کړي، د پوښتل شوې صورت څخه هر اړخيز تصور ولري، څو د هغه سره مناسب حکم اظهار کړی شي.

پوښتنې:

فتوا، مفتي او مستفتي چا ته ويل کيږي؟

د فتوا د ارزښت او اهميت په اړه معلومات ورکړئ.

په ببلابېلو وختونو کې د فتوا ورکولو په اړه رڼا واچوئ.

د مفتي شرطونه کوم کوم دي؟

Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

www.ketabton.com

Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English